# ښځه او حقوق ئې

# نجلۍ او نکاح ئې

## اسلام څه وايي،
## غربپالي مېرمني څه غواړي؟

حکمتيار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

**عنوان** **صفحه**

مقدمه ........................................................... ۱
آیا د نکاح لپاره یوازي د زوجینو توافق کافي دئ؟ .................... ۹
په نکاح کې د جانبینو توافق شرط دئ ................................. ۱۶
آیا په ازدواج کې د ولي موافقه د ښځې پر آزادۍ تېری دئ؟ ............. ۱۸
د ژوند همسفر په احتیاط او دقت سره انتخاب کړئ ........................ ۱۹
د مجردو ځوانانو او پېغلو په اړه د چارواکو دیني دنده .................. ۲۱
د تصرف لپاره بلوغ شرط دئ که رشد؟ ..................................... ۲۹
د ښځې او مېړه حقوق یو پر بل ........................................... ۳۷
آیا مېړه حق لري خپله مېرمن ووهي؟ ....................................... ۳۹
د زوجینو تر منځ په کورنیو چارو کې د مشورې سپارښتنه ................ ۴۴
د کورنۍ اهمیت ............................................................. ۴۵
د کور حرمت ................................................................ ۴۷
څوك به د کورنۍ مدیر او قیم وي؟ ........................................... ۵۳
آیا تر یوې مېرمني زیاتي ښځې درلودل جرم دئ؟ ........................... ۵۷
ولي د طلاق واك نارینه ته سپارل شوی؟ ................................... ۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

كونډې او حقوق ئې............................................. ۶۸
كونډې او مطلقه مېرمنې د خپل مېړه د انتخاب حق لري ............ ۶۹
د مېړوښو په اړه د اسلام لارښوونه........................................ ۷۲
آيا زنا او لواطت په خپل ذات كې جرم نه دئ؟ ........................ ۷۷
له زاني او زانيه سره د نكاح حكم......................................... ۱۱۰
نامحرم سړي او نامحرمې ښځې ته كتل..................................... ۱۱۲
له نامحرم سره خلوت ........................................................ ۱۳۱
د جنسي شذوذ انتهاء او بدې پايلې........................................ ۱۳۲
د حدودو نافذول د چا دنده او صلاحيت دئ؟............................. ۱۳۶
ولې په گواهي كې دوه مېرمنې له يوه نارينه سره برابرې دي؟ ............ ۱۴۸
ولې لور ته د زوى په پرتله نيمايي ميراث وركول كېږي؟ .............. ۱۵۰
اسلام او مريېتوب ............................................................ ۱۵۳
غرب او د ښځو حقوق.......................................................... ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# مقدمه

په دې وروستیو کې د (قانون منع خشونت علیه زنان) تر نامه لاندي یوه سپېره، کچه او زموږ د مؤمن ولس د معتقداتو ضد لیکنه په څو پاڼو او مادو کي ولسي جرګې ته د تصویب لپاره وړاندي شوه، دا لیکنه څلور کاله وړاندي په ۱۳۸۸کال کې د کابل حکومت جمهور رئیس له لوري د قانون په توګه توشیح شوې، اړوند ادارو ته د تعمیل لپاره لېږل شوې، په تېرو څو کلونو کې د نافذ قانون په توګه مراعات شوې او له مخي ئې ځینو ته سزاګاني ورکړې شوې!! د دې سپېرې لیکني ګڼ شمېر مادې د اسلام د صریحو احکامو خلاف، د افغان ولس د غوره او منل شوو دودونو ضد او د هغه قانون مغایر دي چي د کابل امریکایي حکومت ئې د اساسي قانون په نامه یادوي!!

دا قانون نه یوازي د محتوی له پلوه ډېر ډېر پربوتی او د افغان مسلمان ولس د معتقداتو، عنعناتو، دود دستور، او افغاني فرهنګ او کلتور مغایر دئ بلکي الفاظ او د الفاظو ترکیب ئې هم رکیك، غیرمعیاري، کچه، د رسمي قاموس او ملي ترمینالوژي خلاف او وارداتي دي. ګڼ شمېر مادې ئې په

(c) ketabton.com: The Digital Library
ښرګنده توګه له صریحو اسلامي اصولو سره تضاد او تعارض لري. د جمهور رئیس له لوري د دې قانون توشیح ښیي چې د کابل لاس پوڅی حکومت څومره ذلیل، پردی واك، د اسلام، ملي هویت او افغاني کلتور په وړاندې څومره بې باك او بې پروا او د خپلو حامیانو د ارضاء لپاره څنګه هر کار ته چمتو او لاس پر سینه ولاړ دئ!!

د هغو ناولو څېرو جسارت د حیرانتیا وړ دئ چې دا سپېرې پاڼې ئې د قانون په توګه وړاندې کړې دي، هغه ئې منلې دي، لاس لیك کړې ئې دي، او ځینو بې وزلو او مظلومانو ته ئې د دې قانون مطابق سزاګاني ورکړې دي. د دې قانون په وړاندې د هغو څېرو سکوت او رضایت او په دې څلورو کلونو کې د هغه په ضد له څه ویلو ډډه کول هم د حیرانتیا وړ دئ چې ځان ته مسلمان وایي او د کابل مرتد لاس پوڅي امریکایي حکومت ته د اسلامي حکومت نوم ورکوي!!

دا قانون په اصل کې د اسلام په ضد د صلیبي ښکېلاك د کرکجن پراخ فرهنګي او تبلیغاتي جنګ یوه بله بېلګه ده، هدف ئې نه د ښځو د حقوقو تأمینول دئ، نه د دې مظلومې ټولنې ژغورنه او نه د دوی په خلاف د تشدد مخنیوی، په دې سپېرو پاڼو سره ئې یوازې دا هڅه کړې چې د ښځو د ځینو اسلامي حقوقو او وجائبو او په دې اړه د اسلام د ځینو اصولو او لارښوونو په اړه پوښتنې راولاړې کړي او هغه د ښځو د انساني حقوقو او عدالت خلاف وښیي، دا ئې د تشدد بارز او ښرګند موارد ګڼلې: نارینه ته تر یوې ښځې د زیاتو نکاح کولو حق، د ښځې د پلار او بل ولي موافقه په نکاح کې ضروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼل، د نارینه قیمومیت په کورنۍ کې، خاوند ته دا حق ورکول چې خپله مېرمن د نشوز او اعراض په صورت کې وهلی شي، له کوره د مېرمني په وتلو کې د مېړه د موافقې لزوم، له نامحرم سره د مېرمني له خلوت او یوازې لیدلو ممانعت، د طلاق حق یوازې مېړه ته ورکول،... په قانون منع خشونت علیه زنان کې نه یوازې دغو مواردو ته د جرم په سترګه کتل شوي بلکې عامل ئې د سزا مستحق ګڼل شوی!!

د دې قانون مسوده د یوې امریکایي مېرمني له لوري ولاندي شوې او ژباړه ئې د یوه ایراني له لوري شوې، په ژباړې کې ئې ګڼ شمېر داسي ایراني اصطلاحات راغلي چې زموږ د ملي ترمینالوژي خلاف دي، چې څو بېلګي ئې دا دي: استان کابل د ولایت کابل پر ځای، دادستاني د څارنوالي پر ځای، دادگاه د محکمې او قضاء پر ځای، رئیس دادگاه اختصاصي خانواده د محکمه اختصاصي خانواده پر ځای، معاون وزارت بهداشت د معین وزارت صحت پر ځای، معاون وزارت دادگستري د معین وزارت عدلیه پر ځای، معاون وزارت امور کشور د معین وزارت داخله پر ځای، معاون وزارت آموزش و پرورش د معین وزارت معارف پر ځای، وظایف وزارت بهداشت عمومي د وظائف وزارت صحت عامه پر ځای، وظایف وزارت کشور د وظائف وزارت داخله پر ځای، وظایف وزارت دادگستري د وظائف وزارت عدلیه پر ځای، تدابیر پیشگیرانه د تدابیر احتیاطي پر ځای، کوتاه مدت د قصیر المدت پر ځای، مجلس نمایندگان د ولسي جرګې پر ځای، به علاوه واګذاري د علاوه بر واګذاری پر ځای او ډېر نور.... دا اصطلاحات په یوه قانون کې کارول خو آخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library
ته پرېږدئ په مطبوعاتو کې د هغوی کارول هم د قانون خلاف عمل او د پردې فرهنګ تحمیلولو شرمناکه هڅه ده. متأسفانه ځیني چي په خپله غولېدلي او د نورو غولولو هڅه کوي وايي: دا الفاظ په ایراني فارسي او افغاني دري کې شریك دي نو ځکه ئې کارول مانع نه لري، په داسې حال کې چي دا یوه مغالطه ده، استان یو ایرانی خاص نوم دئ چي د ولایت لپاره وضع شوی، وزارت کشور یو خاص ایراني نوم دئ چي د داخله وزارت لپاره وضع شوی او همداسې ټول نور اصطلاحات، پوښتنه دا ده چي تاسو له دې پرته چي ایراني فرهنګ رائج او ایرانیان ارضاء کړئ بله څه موخه درلودی شئ او کوم مجبوریت دې ته اړ کړي یئ؟ ولي مروج افغاني نومونه پرېږدئ او نامأنوس پردي نومونه کاروئ؟ کاش تاسو یوازي پښتو نومونه دري ته اړولی، تاسو خو ټولو افغانانو ته منلي او پېژندل شوي عربي الفاظ هم ایراني ته اړوئ!!

د ۱۳۹۲ کال د جوزا په میاشت کې دا سپېرې پاڼي ولسي جرګې ته د بحث او تصویب لپاره وړاندې شوې، ولي وړاندي شوې، چا وړاندي کړې، موخه ئې څه ده، دا هغه پوښتني دي چي ډېر ژر به ئې حقیقت جوت شي. د ولسي جرګې په غونډې کې هغو مېرمنو په ډېر جسارت سره له دې قانون دفاع کوله چي د یوناما د سوټې په زور ولسي جرګې ته رسول شوې دي، دوی ویل: دا قانون د جمهور رئیس له لوري توشیح شوی، عملاً نافذ دئ، او دې ته ضرورت نشته چي په ولسي جرګې کې تر بحث لاندي ونیول شي. ځینو ئې ویل: که دا قانون لغو شي نو نه یوازي زموږ د تېرو دولسو کلونو لاسته راوړني به په اوبو لاهو شي بلکي د ټولو غربي هېوادو مرستي به هم بندي شي!! دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګواښ په لومړي سر کې د هغې امریکایي مېرمنې له لوري په رسنیو کې څرګند شو چې د دغه قانون لومړنۍ مسوده د هغې له لوري وړاندې شوې او هغو افغاني مېرمنو ته سپارل شوې چې امریکایانو د ښځو د حقوقو د مدافعینو په نامه ګمارلې دي، د ملګرو ملتونو سرمنشي بانکي مون هم د دې قانون ملاتړ وکړ او د کابل حکومت چارواکي ئې وګواښل چې د دې قانون د لغو په صورت کې به د مرستندویو هېوادو غبرګون سخت وي!! د ولسي جرګې دننه او بهر ځینو استازو، علماوو، خطیبانو، استادانو، لیکوالانو، مېرمنو، محصلینو او ځوانانو مثبت او منفي عکس العملونه درلودل، غربپالو ځېرو، په غربي هېوادو پورې تړلو خبري او تصویري رسنیو د دې قانون په حمایت کې او د هغو کړیو د دریځ په رد کې پراخې تبصرې درلودې چې دا قانون ئې د اسلام خلاف ګڼلی. ما د ځینو مؤیدینو او مخالفینو نظریات د رسنیو له لارې اورېدلي، د ځینو اسلامپالو شخصیتونو دریځ او غبرګون مې په زړه پورې او د قدر وړ موندلی، خو هغه مې کافي او شافي نه دئ انګېرلی، ښایي د هغو محدودیتونو له کبله چې پر دغو رسنیو لګول شوي او د دغو رسنیو د هغه مأموریت له مخې چې ورپه غاړه دئ د دې قانون د مخالفینو آراء په سمه او صحیح توګه نه دي منعکس شوي، دا راته ضروري وبرېښېده چې په دې اړه لږ تفصیلي بحث وشي. په مقدمه کې ئې څو عرائض لرم:

- که تاسو په هېواد کې مزدوري غربپالي خبري او تصویري رسنۍ تعقیب کړې وي، هغه چې د هېواد له اشغال وروسته رامنځته شوې، شمېر ئې نږدې پنځوس تلویزیوني شبکو، یوسل پنځوس راډیوګانو او زر نشریو ته رسېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library
نه نوي سلنه ئې د بهرنيو له لوري تمويل او توجيه کېږي، خپروني ئې د پرديو د ګټو پر محور څرخي، ځوانان د اخلاقي فساد، له دين بغاوت، له خپل ملي هويت پردي توب، له منلو افغاني دودونو سره دښمنۍ ته بلي، موسيقي، نڅا، ګنده سندري، بربنډ او د اخلاق ضد غربي، هندي او ترکي سيريالونه خپرول، قمار، شراب او نورو ګنده کارونو ته د ځوانانو تشويق، د دغو رسنيو محوري خپروني دي، مأموريت ئې دا دئ چي د افغان ولس نوی نسل په ځانګړې توګه مېرمني تر فکري او اخلاقي يرغل لاندي ونيسي، له خپل سپېڅلي ديني هويت او ملي دود دستور ئې لري او د پرديو سپك او مبتذل تقليد، غلامۍ او مريیتوب ته ئې چمتو کړي. ډېری خبريالان او تحليلګران ئې کمونيستان، بې هويته غربپال او دين دښمن ملحدين دي، قومي، ژبني، سمتي او مذهبي اختلافات راولاړوي، د مېرمنو په اړه دا وينا چي افغانستان دوی ته ستر زندان دئ، له خپلو انساني حقوقو محرومي دي، په کورنۍ کي تر تشدد لاندي دي، او دا ټول نه د دې لپاره چي د ښځو انساني حقوق تأمين شي بلکي د دې لپاره چي هغوی د غربي ګنده فرهنګ منلو ته چمتو کړي، دا صحيح ده چي په ډېرو مواردو کي افغان ښځي له خپلو انساني او اسلامي حقوقو محرومي دي، خو څومره امتيازات چي اسلام ښځو ته ورکړي په هيڅ دين، مذهب او نظام کي ئې نښو موندلی، څومره چي په افغانستان کي ښځو ته په درنه سترګه کتل کېږي نه ئې په اروپا کي بېلګه موندلی شو او نه په امريکا کي، افغان نارينه تر ښځو زيات له محروميتونو سره مخامخ دي، نارينه ته هم د واده مهر، ولور او نور مصارف ورپه غاړه دي، هم د خپلي مېرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اولاد مصارف، باید شپه ورځ کار وکړي چې د دغو مصارفو له عهدې ووځي، که په داخل کې کار ونه مومي پاکستان او ایران ته ځي، شاقه کارونه کوي، نیول کېږي، ځورول کېږي، وژل کېږي، کړاوونه ګالي چې د خپلې مېرمنې او کورنۍ جامه، خوراك او دوا درمل برابر کړي، دا ټول کړاوونه د نارینه په غاړه وي، یو نیم ملیون افغانان په شهادت ورسېدل، له ډېرو کونډې او یتیمان پاته شول، خو ټول د خپلوانو په غېږ کې وپالل شول، له ټولو هغو اقتصادي ستونزو سره سره چې افغانان ورسره مخامخ دي، هرچا دا د خپلو اسلامي او افغاني اخلاق او غیرت خلاف او د مروت منافي خبره ګڼله چې د کورنۍ کونډه او یتیم ئې سؤال ته اړ شي، که داسې حالت په کوم اروپایي هېواد راغلی وی خدای خبر چې کونډې او یتیمان به ئې له کوم دردناك برخلیك سره مخامخ شوي وو، دا نن او په دې یویشتمې پېړۍ کې، د اروپا او امریکا په هر لوی ښار کې په زرګونو ښځې د خپل عزت خرڅولو له لارې خپل معیشت تأمینوي، یوازې د لندن په ښار کې اویا زره مېرمنې؛ دې ګنده او د انساني فطرت خلاف کار ته اړې شوې او دولت ته د خپلو عوائدو کمیشن ورکوي!!

- د دغو مزدورو رسنیو په لومړیتوبونو کې څو سپېره او کرکجن موارد په څرګنده توګه تر سترګو کېږي: ۱- هغه څه غندل چې دوی ئې د مرد سالاري په نامه یادوي او هدف ئې د نارینه قیمومیت او مدیریت په کورنۍ کې غندل او ختمول او د کورنیو افغاني جوړښت له منځه وړل دي، ۲- نڅا، سندرو، شراب، قمار، بربنډتوب، اسلامي اصولو ته شا کولو او ملي دودونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لګته وهلو ته د مېرمنو هڅول، ۳- د مبتذلو غربي، ترکي او هندي فیلمونو له لارې د الحادي او دین دښمن غربي فرهنګ په ګنده خم کې د مېرمنو رنګول، ٤- اسلام او زموږ ملي عنعنات د هغو ستونزو اصلي عامل ګڼل چې ولس په عامه توګه او افغان مېرمني په ځانګړې توګه ورسره مخامخ دي، ٥- د مېرمنو په ضد هغه تاو تریخوالی چې منشأ ئې جهل او له اسلامي لارښوونو لرې والی دئ اسلام ته منسوبول او دا په داسې حال کې چې دغه تاو تریخوالي له هغه وروسته پراخ ابعاد غوره کړل چې زموږ هېواد صلیبي ځواکونو اشغال کړ او دغه رسنۍ ئې د اخلاقي فساد خورولو لپاره رامنځته کړې، د همدغو له کبله وو چې په هېواد کې په پراخه پیمانه د نیشه ئي توکو د کر او تولید لړۍ پیل شوه؛ په شرابو او مخدره موادو د ځوان نسل په ځانګړې توګه د افغاني مېرمنو روږدي کېدو لړۍ پیل شوه، او په همدې تناسب د مېرمنو له لوري د ځان وژنو کچه په بې سابقه توګه لوړه ولاړه، کورنی تاو تریخوالی زیات شو، په ناموسي قتلونو کې زیاتوالی رامنځته شو، د طلاقونو او د کورنیو د متلاشي کېدو کچه لوړه شوه.

حکمتیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا د نکاح لپاره یوازي د زوجینو توافق کافي دئ؟

غربپالي مېرمني او د دوی غربي استادان د نکاح په اړه په دوو خبرو ډېر ټینګار او اصرار کوي: ۱- یوازي د ښځي او سړي تر منځ خپل منځی توافق د نکاح لپاره کافي ګڼي او د دواړو لوریو د خپلوانو (مور، پلار او بل ولي) توافق ضروري نه بولي، ۲- دې ته ترجیح ورکوي چي نکاح د ځوانۍ او پېغلتوب په لومړیو کي ترسره نشي، موخه ئې یا دا ده چي د ژوند دا برخه د آزاد جنسي تلذذ په حالت کي تېره شي او یا دا چي په واده کي ځنډ د نفوس زیاتوالي په مخنیوي کي ممد دئ .

په دغو دواړو مواردو کي د دوی دریځ نه یوازي د اسلام خلاف دئ بلکي د علم، عقل او فطرت خلاف هم دئ، په دې اړه څو خبري د یادولو وړ دي:

- علمي څېړنو ثابته کړې ده چي څوك په ځوانۍ کي واده وکړي اولاد به ئې تر هغه چا زیات روغ، پیاوړی او له عقلي پلوه وړاندي وي چي په زړښت او له ډېرش کلنۍ وروسته واده کوي.
- د غرب آزاد، ګنده، غیر مهذب او غیر قانوني جنسي تعلقاتو وښوده چي دا بې مهاره جنسي شذوذ انسان او انساني ټولني ته څومره ستري ستونزي راولاړوي، د ایډز خطرناکه او وژونکي بیماري د همدې غیر فطري ښکارندویي زېږنده ده او ورځ په ورځ زیاتېدونکي ناموسي قتلونه له دغي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتنې خړوبه کېږي.

- کله چې انسان د بلوغ سن ته ورسېږي، له فطري او جسمي پلوه د ازدواج وړتیا ترلاسه کړي، ولې او د کوم علمي او عقلي دلیل له مخې به د هغه ازدواج ناسم او غیر مجاز عمل ګڼو؟!! په ټولو ژوو کې دا فطري قانون نافذ او مرعي الاجراء دئ چې هر یو ئې له بلوغ وروسته ځان ته جوړه غوره کوي او بېله کورنۍ جوړوي، ولې به انسان له دې عمومي، فطري او طبیعي قانون مستثنی کوو، د دې استثناء لپاره به کوم علمي او عقلي دلیل وړاندې کوو؟!!

- د ازدواج د ځنډولو منصوبه د هغو له لوري وړاندې شوې چې د انسانانو د بربښت د اقتصادي ستونزو عامل ګڼي، دا په داسې حال کې چې د نړۍ اقتصادي ستونزې له هغه ظالمانه اقتصادي نظام راولاړې شوې چې د امکاناتو د غیرعادلانه وېش له کبله رامنځته شوې.

قرآن دا د فرعوني نظام یوه اساسي نښه ګڼي چې د مظلوم، مستضعف او بې وزلي قوم له بربېدو به وېره لري او د دوی د شمېر راکمولو هڅه به کوي. قرآن وايي: فرعون د بني اسرائیلو د زامنو د وژلو لړۍ په دې موخه پیل کړه چې دوی په ضعف او ناتوانۍ کې وساتي او پرې نږدي شمېر ئې زیات شي، قرآن د بني اسرائیلو لپاره د (مستضعف) اصطلاح کارولې، په دې لفظ کې دغه معنی نغښتې ده چې حاکم نظام په ناتوانۍ او ضعف کې د دوی د ساتلو هڅه کوله. دا اوس چې تاسو ګورئ غرب او په سر کې ئې امریکا، په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چې د درېیمې نړۍ ولسونه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library
ته اړ کړي چي د اولاد پيدا کولو بهیر کنټرول کړي او د خپل نفوس د سریع زیاتوالي مخه ونیسي، دوی خلکو ته دا وایي چي د نفوس زیاتوالی د فقر باعث دئ، حال دا چي په زمکه کي د رزق او روزي موجود وسائل هومره دي چي د موجوده شمېر څو برابره انسانانو ته روزي ورکولی شي، په ټولنه کي فقر او لوږه له دې نه ده راولاړه شوې چي د رزق او روزي وسائل د نفوس په تناسب نه دي، برعکس د فقر اصلي عامل د زمکي د وسائلو او شتمنیو غیرعادلانه وېش دئ، دا ستونزه له طبقاتي نظام راولاړه شوې، دا د غرب د پانګوال او ظالمانه اقتصادي نظام زېږنده ده. دا د انسانانو له خپلو ظالمانه تصرفاتو او غیرعادلانه وېش راولاړه شوې ستونزه ده چي د شتمنیو لویه برخه ئې د محدود شمېر شتمنو په لاس کي ده او اکثریت ئې د ژوند له ضروري اړتیاوو محروم دي او همدغو محرومانو ته په دروغو ویل کېږي چي ستاسو د فقر او لوږي وجه د نفوس زیاتوالی دئ، شمېر مو کم کړئ، د ازدواج نېټه د عمر پای ته وځنډوئ، په یوه او دوه اولادونو اکتفاء وکړئ چي اقتصادي ستونزه مو حل شي. د تېري زمانې فرعونیانو ئې زامن په چاړو حلالول خو د اوس زمانې فرعونیان ئې په څو تابلیتونو د مور په رحم کي وژني.

دې ته مو باید پام وي چي د بني اسرائیلو د عروج او زوال په قصه کي هغه ثابت الهي سنن توضیح شوي چي تل تکرارېږي، انساني تاریخ په حقیقت کي د هغو پېښو د تکرار اوږده قصه ده چي د بني اسرائیلو په قصه کي ئې تاریخي بېلګي ګورو. هره زمانه ځانته فرعون لري او په مقابل کي ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موسی علیه السلام په څېر یو مجاهد، تل به ګورئ چې د مجاهدینو په لیکو کې ټګمار سامري راپیدا شي او مجاهدین د الله له بندګۍ د سخوندر په څېر د یوه جعلي او کاذب معبود بندګۍ ته بیايي، د زماني په هر پړاو کې به د بلعم بن باعوراء په څېر د ټګمارو مذهبي مشرانو شاهد وئ، هغه چې دین په دنیا پلوري، د مذهب تر نامه لاندي د فرعون ملګرتیا او د موسی مقابله کوي، تل به قارون د فرعون په خوا کې ګورئ او فرعوني نظام به د خلکو د زامنو د وژلو او د ولس د شمېر کمولو هڅه کوي!!

قرآن نه یوازي د فرعون په قصې کې د نفوس کمولو هڅه فرعوني نظام ته منسوبوي بلکې په لاندي آیت کې د خلکو مال په ناحقه خوړل د خلکو له وژلو سره مترادف ګڼي او دواړه څنګ په څنګ کې یادوي او فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ٢٩ النساء: ٢٩

اې مؤمنانو! مالونه مو په خپل منځ کې په ناروا مه خورئ، مګر دا چې ستاسو د رضامندۍ تجارت وي او ځان وژنه مه کوئ، یقیناً چې الله درباندي مهربانه دئ. او چا چې په تېري او ظلم سره دا کار وکړ، حتماً به ئې اور ته ننباسو او دا خو الله ته آسان دئ.

په دې مبارکو آیتونو کې د مسلمانانو ترمنځ د اقتصادي اړیکو په ارتباط څو اساسي لارښووني شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په ناروا به یو د بل مال نه خورئ. په دې کې ټولو هغو ناراوو لارو ته اشاره شوې چې اسلام حرامې کړې، ربا، قمار، احتکار، دوکه، رشوت، د حرامو شیانو تجارت او نور.
- تجارت درته جائز دئ، په دې سره کولی شئ یو له بله جائزه گټه ترلاسه کړئ، خو په تجارت کې به د طرفینو رضایت په پام کې نیسئ، یو به د بل له مجبوریتونو ناروا گټه نه اوچتوي.
- له ځان وژلو ډډه وکړئ، مبادا د فقر له وجهي او یا د فقر له وېرې ځان یا خپل اولاد ووژنئ. د الله له رحمته مه مأیوسه کېږئ.
- خو که دا انسان وژنه له ظلم او تېرې راولاړه شوې وي او د انسانانو د مرگ او وژل کېدو عامل ظلم او تېرى وي، نو دا ظالمان او تېرى کوونکي دي د الله عذاب ته انتظار وکړي. د دې معنى دا ده چې مبادا کوم انسان په ظلم او تېرې سره ووژنئ او یا داسې اقتصادي نظام رائج کړئ چې د نېستمنو د مزید نېستمن کېدو باعث شي او د دوی په تدریجي مرگ منتج شي. دا اوس چې غربي استعمار په نړۍ باندې کوم اقتصادي نظام مسلط کړی، نړۍ ئې په بډایو او فقیرو هېوادو وېشلې، یو له ډېرو خوړو چوي او بل د یوې گولۍ وچې ډوډۍ له نه موندلو مري، یو د پړسوب او پرېړتوب بیماریو لپاره دواگانې او علاجونه لټوي او بل سل او ملاریا وهلی، د هډوکو له پاسه ئې له پوستکي پرته بل څه نشته، یو په سترو سترو افسانوي بنگلو کې هم قانع نه وي او بل یا له زړوکو جوړې شوې خېمې کې یا له ټیم جوړې شوې گوډلې کې د ژمي سړې شپې یا د دوبي تودې ورځې تېروي، د غرب ظالمانه پانگوال نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library
د ژوري په ځېر د وروسته پاته هېوادونو د مظلومو ولسونو ويني زبېښلې، ظالم او بې رحمه حکومتونه، جنرالان او پاچايان ئې ورباندي مسلط کړي، د دوی شتمنۍ ئې غارت کړې، يوه ټوټه اوسپنه او پلاسټيك د سرو زرو په بيع ورباندي پلوري، جنرالان ئې شتمنۍ په وسلو مصرفوي خو دا وسلي د دې پر ځای چي د دښمن په ضد استعمال شي پخپله د ولس د ځپلو لپاره کارول کېږي، په تېري پېړۍ کي به استعماري ځواکونو د خپل فوځ په زور ملکونه نيول او خپلو کمپنيو ته به ئې سپارل، خو اوس د دغو هېوادونو خپل فوځونه دا کار ورته کوي. ځو جنرالان په ارزانه بيع واخلي، هم فوځ د دوی په ولکه کي راشي او د قيامونو د ځپلو لپاره تري کار اخلي او هم د کودتاګانو له لاري نظامونه او چارواکي ئې يو په بل بدلوي. د قرآن په دغه وينا کي دا ټول حقائق توضيح شوي، واقعاً چي په ناروا سره د خلکو مال خوړل، د انسانانو د مرګ او هلاکت لوی عامل دئ.

- اسلام د نکاح تړون ته د داسي تعهد او تړون په سترګه ګوري چي د دوو انسانانو (نر او ښځي) تر منځ د يوه نوي ګډ ژوند بنسټ جوړوي، يوه نوې کورنۍ رامنځته کوي، د نسل د دوام شرائط برابروي، اولاد ته د پالني او روزني مصئون او خوندي غېږ جوړوي، د انسان جنسي اړتيا له قانوني او صفا لاري رفع کوي، په دې نکاح سره دواړه لوري په خپلو کي ژمنه کوي چي د ژوند په سفر کي به ځنګ په ځنګ وړاندي درومي، په ملګرتيا کي به ئې وفا، اخلاص، مينه او صداقت وي، د يوه غېږ به د بل لپاره داسي پناه ځی وي چي له جنسي انحراف ئې ساتي، اسلام په نکاح کي د جانبينو د توافق او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي تعهد او ژمني ترځنګ دا هم ضروري ګڼي چي نکاح د جانبینو د کورنیو او اولیاءو په رضایت او توافق ترسره شي، موخه ئې د اولاد درلودل او د یوې نوې کورنۍ جوړول وي، د نکاح ژمنه او تړون قانوني او ځرګند وي، نور هم پرې خبر شي، د دې لپاره ئې د ولیمې په نامه محفل جوړول او خلك ورته رابلل غوره دود ګڼلی او حتی د دریا وهلو اجازه ئې ورکړې، او دا ټول د دې لپاره چي نور خلك هم له دې تړون او ژمني خبر شي او له دې ځرګندي نکاح وروسته د ټولني هر غړی د دې تړون درناوی وکړي او په دې اړه قانوني پولي داسي مراعات کړي او له ړنګولو ئې ډډه وکړي لکه چي د نورو ملکیتونو په اړه خپل او د بل حد مراعاتوي او له قانوني پولو اوښتل تېری او تجاوز ګڼي. اسلام وايي: نکاح به د اولاد درلودو په موخه وي نه د جنسي غریزې د اشباع په موخه.

- غربي منحط فرهنګ موږ ته وايي: د انسانانو د ډېرښت مخنیوی وکړئ، چرګان، خوګان او سویان زیات کړئ!! له یوې خوا داسي ماشینونه جوړوي چي په سریع توګه او له طبیعي بهیر پرته له هګیو چوچوڼي راوباسي خو بلي خوا ته داسي دواګاني بازار ته راباسي او په پراخه پیمانه تبلیغات ورته کوي چي د حمل په مخنیوي او د سقط جنین په کار ګي له مېرمنو سره مرسته کوي، ځوانانو او پیغلو ته وايي: له نکاح ډډه وکړئ، او د خپلو جنسي اړتیاوو رفع کولو لپاره GIRL FRIEND او BOUY FRIND(ملګرې نجلۍ او ملګری هلك) غوره کړئ، د حمل مخنیوي لپاره له دواګانو استفاده وکړئ!!! نه پوهېږو د کوم انساني معیار له مخي دا د عقل، انساني عاطفې او فطري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سننو مخالف کار د توجيه وړ دئ، اسلام وايي: کله چي ځوانی ته ورسېدئ که توان ئې لرئ نو واده وکړئ، غوره مېرمن هغه ده چي ودود (مينه ناکه) او ولود (د زيات اولاد زېږوونکې) وي، کومه مؤمنه مېرمن چي دوه او تر هغه زيات اولاد وروزي جنت به ئې د پيغمبر عليه السلام خوا ته وي، که نکاح درته مقدور نه وي نو د عفت او صبر لمن کلکه ونيسئ، د روژې په نيولو سره خپلي نفسي غوښتني مهار کړئ او له نارواوو لارو ډډه کوئ.

## په نکاح کي د جانبينو توافق شرط دئ

اسلامي شريعت د نکاح او يوې نوې کورنۍ د جوړلو لپاره د جانبينو توافق شرط کړی، او د جانبينو د کورنيو تر منځ توافق ئې غوره او ګټور ګڼلی، دواړو ته په ښه سلوك او په خپلو کي په مشوره توصيه کوي، د لانجو غوځولو لپاره دواړو ته د صبر، زغم او عفوي سپارښتنه کوي او که په دې ئې لانجه حل نه شوه، د دواړو خپلوانو ته وايي چي مداخله وکړي او ستونزه حل کړي، د روغي جوړي لپاره دي په ګډه د مصالحې کوم هيئت او جرګه غوره او لانجه دي حل کړي، که په دې هم مشکل حل نه شو نو مېړه ته ئې د طلاق واك ورکړی، په داسي حال کي چي وايي: د الله په وړاندي تر ټولو کرکجن حلال کار طلاق دئ. طلاق ئې له هغي ترخي دوا سره تشبيه کړی چي ډاکټر ئې د علاج لپاره ناچار خپل بيمار ته ورکوي. د نکاح او طلاق په اړه د اسلامي شريعت لارښووني داسي دي چي هم د مېړه او ښځي ترمنځ ګډ ژوند د ميني، پېرزويني او احترام په فضاء کي وي او هم ئې د مجبوريت

(c) ketabton.com: The Digital Library
په صورت کې بېلېدل په ښه او غوره توګه، داسې ضوابط ئې وضع کړي چې دا معامله د دوو کورنیو ترمنځ د نږدې والي ذریعه وي نه د منافرت او دښمنۍ باعث.

د طلاق واك نارینه ته او په مقابل کې ئې د مهر حق ښځې ته ورکړی شوی، دا مهر د ښځې د مستقبل لپاره ډېر حکیمانه او غوره تضمین دئ، چې مېړه ونشي کولی بې موجبه خپلې مېرمنې ته طلاق ورکړي، یا د دې لپاره چې د هغې پېغلتوب ختم او د ځوانۍ ښایست ئې نه وي پاته او مېړه ئې غواړي له دې ځان خلاص کړي او بله پېغله او ښایسته وکړي، یا هسې تر دې ئې بله خوښه شوې وي، دې ته طلاق ورکړي او په بلې ئې بدله کړي، د دې لپاره چې څوك د ښځو په برخلیك لوبې ونکړی شي، اسلامي شریعت د مهر حق ښځې ته ورکړی او د همدې لپاره شریعت د مهر لپاره خاص حد نه دئ ټاکلی، دا اختیار ئې ښځې ته ورکړی چې د خپل مستقبل د تضمین لپاره له مېړه څه ترلاسه کول ضروري ګڼي، که مېړه ښځې ته طلاق ورکوي نو دا حق نه لري چې دې ته له ورکړو شیانو د مهر په شمول څه ترې بېرته واخلي، خو که ښځه د طلاق غوښتنه کوي نو بیا به دې ته خود تیاربېږي چې له مېړه اخیستی مهر بېرته مسترد کړي او په دې سره د دوی لانجه پای ته ورسېږي. د درېیم ځل طلاق معنی دا ده چې دا دواړه نور د ګډ ژوند وړتیاوې نه لري، خو که دې ښځې له بل سره نکاح وکړه او دا نوې نکاح هم په طلاق منتج شوه، ښایي دې ترخې تجربې لومړنۍ جوړه دې نتیجې ته رسولې وي چې یو ځل بیا ګډ ژوند پیل کړي، دوی ته د دې کار اجازه ورکړی شوې، خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library
دې شرط چې یو د بل د حقوقو د مراعات اراده او توان په ځان کې وګوري.

الله تعالی سړي ته د رجعت جواز د دې لپاره ورکړی چې مېړه او مېرمنې ته ئې د تجدید نظر او په خپلو کړو وړو د بیا کتنې فرصت ورکړي، د موقت بېلتون په دوران کې دواړه دا وګوري چې د تل لپاره یو له بل بېلتون؛ دوی دواړو او اولادونو ته ئې څومره ستونزې راپیدا کوي، خو مبادا له دې رخصت او جواز غلطه استفاده وشي او مېړه د ښځې د ځورولو لپاره ترې کار واخلي. الله تعالی داسې کار په الهي آیتونو ملنډې وهل او په خپل ځان له ظلم کولو سره مترادف ګڼلی او دا ئې د هغه الهي نعمت ناشکري ګڼلې چې د کتاب او حکمت په بڼه کې د دوی په برخه شوی. دوی باید متوجه وي چې معامله ئې له هغه علیم خدای سره ده چې په هر څه پوه دئ او د دوی هیڅ څه ترې پټ نه پاته کېږي.

## آیا په ازدواج کې د ولي موافقه د ښځې پر آزادۍ تېری دئ؟

د اسلامي ضوابطو په اړه د هغه چا اعتراض ډېر بې بنسټه او غلط دئ چې وايي په ازدواج کې د ولي موافقه لازمي ګڼل د ښځې د بشري حقوقو خلاف شرط دئ!! هغوی نه پوهېږي چې دا موافقه څومره اهمیت لري او له عدم مراعات ئې څومره ستونزې راولاړېږي. هومره چې مور او پلار د خپلې لور مستقبل په پام کې ساتي او د خپلو تجربو له مخې هغې ته سمه لار ښودلی شي او ښه مشوره ورکولی شي، په خپله دا ئې نشي کولی. دا خو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور پلار په اندازه تجربه لري او نه معرفت، ډېر ځله داسي واقع کېږي چي هغه د جذباتو او احساساتو له مخي فیصله وکړي، د چا حسن، لباس او ظاهري وضع ئې تر اغېز لاندي راولي، جذباتي فیصلې ته ئې وهڅوي، خو مور پلار ئې ډېرو نورو اړخونو ته هم توجه کوي او د خپلي لور مستقبل او ښه ژوند په پام کي نیسي.

کوم زوی او لور چي د مور او پلار له موافقې پرته له داسي چا سره نکاح کوي چي هغوی ورسره موافق نه وي، په حقیقت کي د یوې نوې او نه آزموېل شوې اړیکي لپاره ګڼ شمېر ژوري او له میني او پېرزویني ډکي اړیکي شلوي، آیا صحیح ده چي مور او پلار دومره بې ارزښته وګڼل شي چي زوی او لور ئې د خپلي نکاح په اړه د هغوی رأیې ته اعتناء ونه کړي، د هغوی خوښي او رضایت پرته عمل وکړي او ځان پر دې هم مکلف ونه ګڼي چي د هغوی قناعت او موافقه ترلاسه کړي؟!! دا رأیه یوازې هغه څوك ورکولی شي چي موخه ئې د کورنیو ړنګول وي نه جوړول!!

دا جنابان دې ته تیار نه دي چي کومه سپرلۍ ئې د بل له سپرلي سره په خپل سر ولاړه شي، بل ته څنګه وایي چي ستا لور کولی شي له هغه چا سره په خپل سر او ستا له خبرولو پرته ولاړه شي چي ته ئې ورته مناسب نه ګڼې!!

## د ژوند همسفر په احتیاط او دقت سره انتخاب کړئ

اسلام موږ ته سپارښتنه کوي چي د ژوند همسفر په انتخاب کي دقت

(c) ketabton.com: The Digital Library
او احتیاط وکړو، په دې اړه زموږ پرېکړه پر جذباتو ولاړه نه وي، دا حقیقت باید په پام کې ولرو چې په نکاح سره د یوې نوې کورنۍ بنسټ اېښودل کېږي، دوه کسان په خپلو کې تعهد کوي چې د ژوند په دې سفر کې به یو د بل مخلص او صادق ملګري وي، په دې اوږده سفر کې د دوی تر منځ فکري وحدت تر بل هر څه زیات مهم او ضروري دئ، د دوی دواړو لپاره هم او د اولاد لپاره ئې هم، د دې همسفر او ملګري په غوره کولو کې تر هر څه زیات باید د هغه ایمان او عقیدې ته اهمیت ورکړی شي، یوازي یو مؤمن همسفر به د ژوند په لوړو ژورو کې ستا ډاډمن مټ وي، بل ته به پر تا ترجیح نه ورکوي، نه به له تا سره خیانت کوي او نه ستا له اولاد سره، که د همسفر په غوره کولو کې؛ دې ته توجه ونکړې او د مال، جمال او حسب او نسب له مخي ئې غوره کړې، نو یا به دا ملګرتیا لنډه ثابته شي، یا به کور درته تنور شي او یا به ئې پایله د جهنم اور شي، ستا لپاره هم او ستا د اولاد لپاره هم، پیغمبر علیه السلام په دې اړه څومره عبرتناکه وینا لري:

عن أنس بن مالك قال سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول من تزوج امرأة لعزها لم يزده الله إلا ذلا ومن تزوجها لمالها لم يزده الله إلا فقرا ومن تزوجها لحسنها لم يزده الله إلا دناءة ومن تزوج امرأة لم يتزوجها إلا ليغض بصره أو ليحصن فرجه أو يصل رحمه بارك الله له فيها وبارك لها فيه. رواه الطبراني

انس رضی الله عنه وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي واورېدل چي فرمایل ئې: چا چي کومه ښځه د هغې عزت ته په پام سره نکاح کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله به ئې له ذلت پرته بل څه ورته زيات نه کړي او چا چې د هغې د مال په وجه په نکاح کړه نو الله تعالى به له فقر پرته بل څه ورته زيات نه کړي او چا چې د هغې د حسن په وجه په نکاح کړه، نو الله تعالى به له دنائت پرته بل څه ورته زيات نه کړي او چا چې کومه ښځه يوازې د دې لپاره په نکاح کړه چې خپلې سترګې (له ګناه) راټم کړي او يا خپل عورت حفظ کړي او يا د خپلوۍ اړيکې ټينګې کړي نو الله تعالى به دوی دواړه يو بل ته د برکت باعث کړي.

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال تنكح المرأة لأربع لجمالها ولحسبها ولمالها ولدينها فعليك بذات الدين.

له ابو هريرة رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ښځې د څلورو خصلتونو له مخې په نکاح کېږي: ښايست ئې، حسب و نسب ئې، مال ئې او ديانت ئې، نو ته ئې ديندار غوره کړه.

## د مجردو ځوانانو او پېغلو په اړه د چارواکو ديني دنده

قرآن ټول مسلمانان او د دوی چارواکي که دا پلار وي او که بل ولي او حکومتي چارواکي پر دې ګمارلي چې د پېغلو او ځوانانو د نکاح بند و بست وکړي، دوی ته لارښوونه کوي چې اقتصادي ستونزې بايد د دې کار مانع نشي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَـٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّـٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ۚ إِن يَكُونُوا۟ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَلۡيَسۡتَعۡفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغۡنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ
وَٱلَّذِينَ يَبۡتَغُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِمَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَكَاتِبُوهُمۡ إِنۡ عَلِمۡتُمۡ
فِيهِمۡ خَيۡرٗاۖ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ ءَاتَىٰكُمۡۚ وَلَا تُكۡرِهُواْ
فَتَيَٰتِكُمۡ عَلَى ٱلۡبِغَآءِ إِنۡ أَرَدۡنَ تَحَصُّنٗا لِّتَبۡتَغُواْ عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ
وَمَن يُكۡرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعۡدِ إِكۡرَٰهِهِنَّ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣٣

النور: ٣٢-٣٣

او خپل بې واده (نارينه او ښځې) او خپل بې واده صالح مريان او وينځې واده کړئ، که فقيران وي الله به ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، او الله پوه د وسعت خاوند دئ، او هغه چې واده نه مومي تر هغه دې عفت غوره کړي چې الله ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، او ستاسو په لاس کې هغه (مريان او وينځې) چې د مکاتبت غوښتنه کوي نو مکاتبت ورسره وکړئ که کومه ښېګڼه په کې وګورئ، او د الله له هغه مال څه ورکړئ چې تاسو ته ئې درکړی، او د دنيايي ګټې په لټه کې خپلې وينځې بدلمنۍ ته مه اړباسئ، (خاصتاً) که هغوی پاک لمنې غواړي، او څوك چې هغوی اړباسي نو يقيناً چې الله د دوی له اړ کېدو وروسته (ورته) مهربان بخښونکی دئ.

په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونې ځلېږي:

- مؤمنانو ته ويل شوي چې د خپلو بې واده او مجردو نارينه او ښځو او د بې واده صالح مريانو او وينځو د واده بند و بست وکړي، د بدلمنيو او

(c) ketabton.com: The Digital Library
اخلاقي فساد د مخنيوي تر ټولو اغېزمنه او ډاډمنه طريقه دا ده چي بلوغ ته رسېدلي ځوانان او پېغلي او له واده پاته شوي نارينه او ښځي واده کړی شي او د اوږدې مودې لپاره د مجرد پاته کېدو مخنيوی وشي، د کورنۍ مشران او د ټولني واکمنان بايد دې لوري ته خاصه توجه وکړي او هغه خنډونه له منځه يوسي چي نکاح پېچلې او ځنډمنه کوي.

- فقر او اقتصادي مشکلات بايد په واده کي د ځنډ باعث نشي، نه دي واده کوونکي د خپلو اقتصادي ستونزو له کبله او يا له دې وېري چي واده به ئې له اقتصادي مشکلاتو سره مخامخ کړي د واده کار ځنډوي، او نه دي پلرونه دا غلطي کوي چي کوم صالح او نېك انسان ته د خپلي لور له ورکولو له دې کبله ډډه وکړي چي هغه نېستمن او فقير دئ. باور او هيله ئې بايد دا وي چي الله تعالی به ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، دا لارښووني د هغه الله تعالی له لوري دي چي ښه پوه او د وسعت خاوند دئ، په هغه څه مو گماري چي ستاسو خير په کي مضمر دئ، که د عليم خدای په لارښوونو عمل وکړئ له تنگسې به مو وباسي او پراخي به درپه برخه کړي.

- هغه چي د واده توان نه لري او امکانات ئې نه مومي تر هغه دي د عفت لمنه کلکه ونيسي او په گناه کي له پرېوتو دي ځان وساتي چي الله تعالی ئې په خپل فضل سره شتمن کړي. له شتمن کېدو سره سم دي له ځنډ پرته دا کار وکړي.

- کوم مريان او وينځي چي د مکاتبت غوښتنه کوي، غواړي له غلامۍ وژغورل شي او د آزاد او خپلواك انسان په څېر ژوند وکړي، خپله آزادي پېري،

(c) ketabton.com: The Digital Library
له مالك سره داسي تړون ته چمتو کېږي چي د خپلي ازادۍ په بدل کي کومه مالي معاوضه يا کوم گټور کار ترسره کړي، نو الله تعالی مؤمنانو ته لارښوونه کوي چي نه يوازي داسي تړون ته چمتو شي بلکي مالي مرسته ورسره وکړي او له هغه مال يو څه ورکړي چي الله تعالی د دوی په واک کي ورکړی، خو مشروط په دې چي په هغه کي کومه ښېگڼه وگوري، د آزاد ژوند لپاره ئې مستعد ومومي، په دې پوه شي چي هغه دومره اهليت او کفايت لري چي خپل کارونه په سمه توگه ترسره کړي او د يوه صالح او نېك انسان په توگه آزاد ژوند وکړي. داسي نه چي آزادي ورته له اخلاقي حدودو د وتلو لار پرانيزي او بدو کارونو ته مخه کړي.

- مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چي د دنيايي گټي په لټه کي خپلي وينځي بدلمنۍ ته اړي نه کړي، خاصتاً که هغوی پاك لمني غواړي، او څوك چي هغوی اړباسي نو يقيناً چي الله د دوی له اړ کېدو وروسته ورته مهربان بخښونکی دئ. لکه چي ومو ليدل تر دې وړاندي د دوی په اړه دا مهمي سپارښتني وشوې چي د واده بند وبست ئې وکړئ او که ئې آزادي غوښته او تاسو د آزاد ژوند اهليت په کي وليد، آزاد ئې کړئ او مرسته ورسره وکړئ، دلته د هغو ذليلو انسانانو په کرکجني کړني نيوکه کوي چي د وينځو د ناموس او عفت سوداگران دي، د دنيوي گټي په موخه له وينځو د فاحشو او عزت پلورو په توگه استفاده کوي، تر اسلام وړاندي د عربي ټولني حالت همداسي وو، وينځي به د همدې حرفي لپاره کارول کېدې، په جاهلي ټولنو کي، که دا تر اسلام وړاندي وې او که نن او په يوويشتمي پېړۍ کي، هلته چي دين

(c) ketabton.com: The Digital Library
حاکم نه وي، او د حلال او حرام پولي د الهي دين له مخې نه ټاکل کېږي، هلته چې د شيطان پاچايي وي، هلته چې انسان د خپل هوس بنده وي، نو هلته به د شهوت مهارول او حلال او حرام، جائز او ناجائز ته حدود او پولي ټاکل؛ نه يوازې ممکن نه وي بلکې کرکجن به ګڼل کېږي او په وړاندې به ئې حساسيت ښودل کېږي، ناموس پلورنه او بدلمني به په ګټوري تجارتي حرفې بدلېږي، له اسلام وړاندې د عربي ټولني حالت همداسې وو، نن د غربي ټولني حالت همداسې دئ، که تاسو د غربي ټولني هر لوري ته مخ واړوئ؛ د دې ګنده او د انساني فطرت ضد عمل مظاهر به له ورايه وګورئ، په بازار کې، په مغازه کې، په هوټل کې، په بانك کې، په دفتر کې، د جمهوري رياست له ماڼۍ د ټرافيك تر غرفې، حتی په کليسا کې به د دې آثار او اغېز ومومئ، دا نن د لندن په ښار کې تر اويا زره زياتې د عزت پلورني او بدلمنۍ رسمي هټۍ دي چې دولت ته کميشن ورکوي!!! له همدې لارې دولت تر لاسه کېږي، له همدې لارې لوړو مقاماتو ته د رسېدو دروازې پرانيستل کېږي، استخباراتي شبکې له همدې دام جوړوي، پټو اسرارو ته لار مومي، وبه ګورئ چې د ژوند پر هرې برخې د دې ګنده حرفې تور وزر غوړېدلی. اسلام راغی، د فکري، اخلاقي، اجتماعي او اقتصادي اصلاحاتو لړۍ پيل شوه، هغه چې په پرونۍ جهل ځپلې او شرك وهلې ټولني کې د امتيازاتو خاوندان ول، چا له مذهب ځان ته حرفه جوړه کړې وه، چا ته د ټولني اجتماعي جوړښت واکمني ورپه برخه کړې وه، چا د ټولني له مخکنيو اقتصادي مناسباتو بې شمېره ګټې ترلاسه کولې، څوك په اخلاقي فساد اخته وو او له آزادو جنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library
اړيکو ئې خوند اخيست، او چا د عزت او ناموس سودا ګړي کوله، دوی ټولو اسلام ځان ته ګواښ ګڼلی او په خپل خپل وار او خپل خپل وخت کې ئې د اسلام مقابله کړې، په مکه کې د دې مخالفت مشري د ابو جهل په غاړه وه او په مدينه کې د عبد الله بن ابی بن سلول، يوه ښکاره مقابله کوله او له خپل پلرني مذهب د دفاع تر نامه لاندې، بل په پټه مقابله کوله او د اسلام په جامه کې، د عبدالله بن ابی بن سلول دښمني تر ابو جهل خطرناکه وه، د افک هغه فتنه چې د النور په مبارکې سورې کې پرې بحث شوی د ده له لوري راولاړه شوې وه، دی شتمن وو، د ټولني مخکني جوړښت مرفه ژوند ورپه برخه کړی وو، وينځې او غلامان ئې درلودل، خپلې وينځې ئې عزت پلورنې ته اړې کړې وې او له دې لارې ئې عوائد ترلاسه کول، مدينې ته د رسول الله صلی الله عليه و سلم په راتلو سره هغه نه يوازې خپل مخکنی مقام او اعتبار له لاسه ورکړ بلکې دغه بازار ئې هم سوړ شو، د اسلام پر اخلاقي اړخ بريد کول د ده يو ضرورت وو، هغه په دې موخه د افک فتنه راولاړه کړې وه او هغې ته ئې لمن وهله چې د خپلې بې عزتۍ او سپکاوي مشکل پرې حل کړي، هغه مشکل چې د عزت پلورنې له کبله ورسره مخامخ شوی وو. د ده په اړه په آثارو کې راغلي چې شپږ وينځې ئې د همدې کار لپاره کښېنولې وې، يوه ئې معاذه نومېده، مسلمانه شوه، له دې ګنده عمل ئې د لاس اخيستو او توبې پرېکړه وکړه، ابن ابی بن سلول سخته وځوروله، هغې ابوبکر رضی الله عنه ته شکايت وکړ، خبره ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورسېده، حکم ئې وکړ چې هغه دې د دې ظالم له منګولو وژغورل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
راشئ ځيني هغه روايات هم له نظره تېر کړو چي په پورتنۍ موضوع پوري ارتباط لري:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مَسْعُود، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصِّيَامِ، فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ. المعجم الكبير للطبراني، النسائي، مصنف ابن ابي شيبه

له عبد الله بن مسعود رضی الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: اې د ځوانانو ډولیه! ستاسو کوم یو چي د واده امکانات لري نو واده دي وکړي، ځکه دا د نظر ښه اړوونکی او د شهوت ښه مهاروونکی دئ. یعني واده د دې سبب کېږي چي انسان نا محرم ته نظر ونه کړي او له زنا خوندي پاته شي.

له دې روایت معلومېږي چي د مسلمانانو مشران او واکمنان باید ځوانان واده کولو ته وهڅوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم :«ثَلاَثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللَّهِ عَوْنُهُمْ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالنَّاكِحُ يُرِيدُ الْعَفَافَ وَالْمُكَاتَبُ يُرِيدُ الأَدَاءَ ». البیهقي

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: له دریو سره مرسته کول د الله تعالی پر ذمه دي: د الله د لاري مجاهد، هغه واده کوونکی چي د پاك لمنۍ اراده لري او هغه مریی چي د آزادۍ لپاره مکاتبت کوي او غواړي هغه معاوضه اداء کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
يعني که څوك شتمن نه وي او د جهاد وسائل او امکانات په واك کې نه لري خو سره له دې د الله په لار کې د جهاد اراده کوي، يا د عفاف او پاك لمنۍ په موخه د نکاح اراده کوي او يا د آزادۍ لپاره مکاتبه کوي او غواړي چې خپل پور پرې کړي نو الله تعالی به ئې حتماً مرسته کوي.

د مکاتبې له لارې د مريي او وينځې د آزادولو د هغه شرط په اړه چې په اړوند آيت کې ورته په دې الفاظو اشاره شوې: ان علمتم فيهم خيراً په لاندې روايت کې داسې راغلي:

مَا جَاءَ فِي حَدِيثِ مُرْسَلٍ وَمَرْفُوعٍ عِنْدَ أَبِي دَاوُد أَنَّهُ قَالَ صلى الله عليه و سلم : { إنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ حِرْفَةً وَلَا تُرْسِلُوهُمْ كَلًّا عَلَى النَّاسِ }. سبل السلام

د ابو داؤد له نظره مرسل او مرفوع حديث کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: که مو په هغوی کې کومه حرفه (کسب) وموند (نو مکاتبه ورسره وکړئ) او داسې ئې مه پرېږدئ چې د خلکو د اوږو پېټی وي. يعني له داسې غلامانو او وينځو سره په هغه صورت کې مکاتبه وکړئ او آزاد ئې کړئ چې د کوم کسب او کار له لارې خپل اقتصادي مشکلات په خپله او له حلالې لارې حلولی شي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:لا مُسَاعَاةَ فِي الإِسْلامِ . المعجم الكبير

له ابن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: په اسلام کې د عزت پلورنې (کنجريتوب) لپاره ځای نشته.

عن رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ :«مَهْرُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْبَغِيِّ خَبِيثٌ ». سنن البيهقي

له رافع بن خديج رضی الله عنه روايت دئ چي د کنجرۍ بدله ناولې او پلیته ده.

## د تصرف لپاره بلوغ شرط دئ که رشد؟

دا هم یوه اساسي او مهمه پوښتنه ده چي ځوان او پېغلي ته د خپل ځان او ازدواج په اړه د پرېکړي واك ورکړی شوی که نه، که ورکړی شوی له دې واك کله استفاده کولی شي، تر بلوغ وړاندي که وروسته، بلوغ شرط دئ که رشد؟ دې پوښتني ته تر ځواب وړاندي باید دا مطلب په پام کې ولرو چي قرآن یتیمانو ته د دوی د مال سپارل په دې پوري مشروط کړي چي بلوغ او رشد ته ورسېږي، په دې اړه د قرآن لارښوونه دا ده:

وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٦

النساء: ٦

او تر هغه یتیمان آزمویئ چي د نکاح (پړاو) ته ورسېږي، نو که د دوی هوښیاري مو احساس کړه، نو مالونه ئې وروسپارئ. او د دې لپاره په اسراف او تلوار سره د دوی مالونه مه مصرفوئ چي ستر به شي او څوك چي غني

(c) ketabton.com: The Digital Library
وي نو پرهېز دي وکړي او څوك چي نېستمن وي په مناسبه توګه دي مصرف کړي او کله چي دوی ته خپل مالونه مسترد کوئ نو شاهدان ورباندي ونیسئ او الله د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

دلته د یتیم اولیاوو ته څو لارښووني شوې:

- د یتیمانو د روزني په دوران کي دوی په پر له پسي توګه امتحانوئ، کله یو کار ورته وسپارئ او کله بل، د وړو وړو شیانو په پېرلو او پلورلو ئې وګمارئ، په دې سره به د هغوی ښه روزنه وشي، بلوغ ته له رسېدو وروسته به د خپل مال د ښه پاللو لپاره ذهناً او عملاً تیار وي او کافي تجربه به ئې ترلاسه کړې وي.
- دا کار به ترهغه کوئ چي یتیمان تر بلوغ او نکاح پوري ورسېږي، خو که دې مرحلې ته ورسېدل او تاسو په دوی کي کافي هوښیاري احساس کړه نو مالونه ئې وروسپارئ. د آیت له الفاظو معلومېږي چي د یتیم اولیاء به بلوغ ته د یتیم د رسېدو په وخت کي هم دا خبره په پام کي ساتي چي آیا هغه د دې وړتیا لري چي مال ئې وروسپاري او که نه. یوازي بلوغ معیار ونه ګڼي، بلکي د بلوغ ترڅنګ د ده رشد او هوښیارتیا هم په پام کي ولري.
- مبادا له دې وېري د دوی مال په اسراف او تلوار سره مصرف کړئ چي ستر به شي او خپل مال به درنه واخلي.
- غنیانو ته په کار ده چي د یتیم د مال له مصرف ډډه وکړي او په خپلو شتو اکتفاء وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- فقیر ولي ته دا اجازه ورکړی شوې چي له دې مال په مناسبه او غوره توګه څه مصرف کړي، خو دا به هومره وي چي یوه مستخدم ته په ټولني کي ورکول کیږي.
- یتیمانو ته د دوی د مالونو د سپارلو په وخت کي شاهدان ونیسئ.
- دې ته مو پام وي چي الله حسیب دئ، د هر څه حساب به درسره کوي.

راشئ وګورو چي که یتیم ته د خپل مال سپارلو په اړه د قرآن لارښوونه دا وي او هغه د یتیم په بلوغ او رشد پوري مشروطوي، نو د ازدواج په اړه به ئې لارښوونه او غوښتنه څه وي او الله تعالی به په څه راضي کیږي؟ یقیناً چي د ازدواج موضوع تر دې ډېر ډېر ارزښت او اهمیت لري چي د هغوی مال کله او په کوم عمر کي وروسپارل شي، په دې کي هیڅ شك نشته چي د نکاح لپاره بلوغ لومړنی شرط دئ، د نکاح موخه د نسل دوام او د اولاد درلودل دي، نه فقط د جنسي غریزې اشباع، له هغي ماشومي سره جنسي نږدېکت د دین او فطرت خلاف کار دئ چي بلوغ ته نه وي رسېدلې، غوره او له اسلامي لارښوونو سره سمه نکاح هغه ده چي:

- د دواړو په موافقه او له بلوغ وروسته او هغه مهال ترسره شي چي دواړه د رشد پړاو ته رسېدلي وي او د سمي پرېکړي او صحیح انتخاب جوګه وي.
- یو د بل کفو او سیال وي او اجتماعي حالت ئې سره ورته وي.
- د یوې کورنۍ جوړولو او اولاد پاللو په موخه وي، نه د جنسي غریزې د اشباع په موخه موقته اړیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د دواړو کورنيو په توافق وي.
- مناسب مهر وټاکل شي.
- لږ تر لږه دوه شاهدان په منځ کې وي.
- څرګنده وي او پټه پاته نشي.

لکه چي ګورئ په دې آيت کې د نکاح لپاره خاص وخت او حد په ګوته شوي، او ويل شوي ﴿وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ﴾: او تر هغه يتيمان آزمويئ چي د نکاح (پړاو) ته ورسيږي)، دا ټاکلی پړاو بلوغ (ځواني او پيلغتوب) دئ، او د آيت له لارښووني په ډېر وضاحت سره معلوميږي چي د بلوغ ترڅنګ بايد رشد او د عقل پوخوالی هم په پام کې وي.

دې ته مو بايد پام وي چي قرآن ځوانۍ ته رسېدا په دې صيغه يادوي: وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ او کله چي ستاسو ماشومان حلم (ځوانۍ) ته ورسيږي. او هغه چي لا بالغ شوي نه دي په دې صيغه ئې يادوي: وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ: او هغه چي لا حلم (ځوانۍ) ته نه دي رسېدلي. له دې معلوميږي چي د نکاح او واده حد ته رسېدا تر هغه توپير لري چي ماشوم ځوانۍ ته رسيږي، د نکاح لپاره د ځوانۍ او بلوغ تر څنګ؛ رشد او د کورنۍ جوړولو او پاللو وړتيا ته هم ضرورت شته.

دا پوښتنه راولاړيږي چي آيا پلار کولی شي د خپلې نابالغې لور په اړه د کوم خاص مصلحت په موخه دا پرېکړه وکړي چي کوم چا ته به ئې په نکاح ورکوي؟ لنډ ځواب ئې دا دئ: هو؛ خو په دې شرط چي ټول لازم شرائط

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې په پام کې نیولي وي، د خپلې لور د خیر او مصلحت لپاره دا کار وکړي، نکاح ئې له بلوغ وروسته او د لور په موافقه وي، لور دا حق لري چې دا نکاح فسخ کړي.

البته په دې اړه د علماوو تر منځ اختلاف دئ، ځیني د قرآن په یوه آیت استناد کوي او وایي چې د نابالغي نجلۍ نکاح کول مانع نه لري، آیت دا دئ:

**وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا ٤** الطلاق: ٤

او ستاسي هغه مېرمني چې له حیض ناهیلې شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې میاشتي دئ او د هغو هم چې حیض ئې نه دئ شوی، او د حامله مېرمنو نېټه دا ده چې خپل حمل وزېږوي، او څوك چې له الله وویرېږي هغه ته به په خپل کار کې آساني وگرځوي.

په دې مبارك آیت کې د عدت په اړه لاندي لارښووني شوې:

- ستاسي هغه مېرمني چې له حیض ناهیلې شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې میاشتي دئ. دلته څو خبري باید په پام کې ونیول شي: ۱- له (وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ) هغه مېرمني مراد دي چې د زړښت له کبله له حیض ناهیلې شوې، یعني د دوی عدت د درې حیضونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ځای درې میاشتې حساب کړئ، ۲- د (إِنِ ارْتَبْتُمْ) په اړه ځینو مفسرینو ویلي چې معنی ئې د اړوند حکم په ارتباط شك دئ، یعني که شکمن شوئ چې حکم به ئې څه وي نو پوه شئ چې حکم ئې دا دئ، چې دا یقیناً ډېر کمزوری تعبیر دئ، ځینو نورو ویلي چې معنی ئې دا ده: که شکمن شوئ او داسې وینه ترسترګو شوه چې نه پوهېږئ د حیض له کبله ده او که د کومې بیمارۍ له کبله نو عدت ئې درې میاشتې دئ، داسې وینه انسان په شك کې اچوي چې دوی د عمر هغه حد ته رسېدلې که نه چې د حامله کېدو او زېږون امکان له منځه ځي، د آیت له فحوی په څرګنده توګه معلومېږي چې د دوهمې ډلې مفسرینو رأیه دقیقه ده، دا ځکه چې د حکم په اړه شکمن کېدل وارد او مناسب نه برېښي.

- او د هغو هم درې میاشتې دئ چې حیض ئې نه دئ شوی، دلته هم د مفسرینو تر منځ د اختلاف شاهد یو، ځیني وایي چې مراد ئې هغه مېرمنې دي چې لا د حیض سن (بلوغ) ته نه دي رسېدلې، دوی د دغه آیت په استناد له داسې نجلۍ سره نکاح جائز ګڼي چې لا پېغلتوب ته نه وي رسېدلې، او دا هم له شکه پرته ضعیف تعبیر دئ، ځیني نور وایي: چې مراد ئې هغه مېرمنې دي چې د زېږښت یا د کوم خاص عامل له کبله د هغوی په میاشتني حیض کې کوم خلل رامنځته شوی وي، او له اوږدې مودې راایسې ئې حیض بند شوی وي، د دوی عدت هم درې میاشتې دئ. د آیت له فحوی معلومېږي چې د مفسرینو د دوهمې ډلې رأیه دقیقه ده، دلته لومړی د هغو مېرمنو عدت په ګوته شوی چې له حیض مأیوسه شوې خو ناڅاپي داسې وینه وګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په شك كې ئې واچوي، او ورپسې د هغو مېرمنو عدت بيان شوی چي داسي وينه ئې هم نه ده ليدلې چي د شك باعث شي، دا قطعاً صحيح نه ده چي (لم يحضن) د نابالغي نجلۍ په معنی ونيول شي، كه دا د نابالغي نجلۍ په معنی ونيول شي نو دا تعبير له هر مخاطب سره دا پوښتنه راولاړوي چي له يوې ورځنۍ ماشومي تر هغه چي پېغلتوب ته رسېږي آيا په ټولي دغي مودې كې له هغې سره نكاح او جنسي نږدېكت جائز دئ؟! څنگه به د قرآن له دغه آيت داسي مبهم او شكمن تعبير د منلو وړ وي؟ قرآن خو د نكاح لپاره يو مشخص حد ټاكلی او وايي: حتى إذا بلغوا النكاح: تر هغه چي د نكاح حد ته ورسېږي، يعني نكاح يو فطري حد لري، حد ئې همغه دئ چي نجلۍ او هلك ځوانۍ او پېغلتوب ته ورسېږي، له دې فقرې خو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چي د نكاح لپاره بلوغ شرط دئ، آيا هغه تعبير د منلو وړ دئ چي له دې څرگند آيت سره تعارض لري؟!! دې ته مو هم بايد پام وي چي قرآن د نكاح موخه د اولاد درلودل ښيي او وايي: نِساؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنّى شِئْتُمْ وَ قَدِّمُوا لأَنفُسِكُمْ.... البقره: ۲۲۳: مېرمني مو ستاسو لپاره يو كرځی دئ، نو چي څنگه مو خوښه وئ همغسي خپل كرځي ته ورشئ او د ځان لپاره څه وړاندي ولېږئ... دلته د مباشرت او نږدې والي مقصد او هدف په گوته شوی، دا بايد يوازي د نفساني حظ او د جنسي غريزې د اشباع لپاره نه وي، د نكاح اصلي مقصد او هدف به د اولاد پيدا كول او د نسل دوام وي، له ماشومي سره نږدېكت د دې لارښووني او اصل خلاف عمل دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې ارتباط د اسلام ناپوه معاندين د عائشې رضی الله عنها د نکاح په اړه ځيني پوښتني او اعتراضات لري او په اړه ئې شکوك او شبهات راولاړوي، په داسي حال کي چي د هغې خِطبه په مکه کي او نکاح ئې په مدينه کي ترسره شوې، د عمر په اړه ئې روايات بېل بېل او متعارض دي، ځيني ئې د عمر په اړه يو څه وايي او ځيني بل څه، داسي دليل او شاهد هم نه تر سترگو کېږي چي د دغو متعارضو رواياتو له منځه يوه ته پر بل ترجيح ورکړی شي، په داسي مواردو کي د محققينو محدثينو رأيه دا ده چي احتياط وشي او د متعارضو رواياتو له منځه پر کوم يوه له استناد ډډه وشي، په ځانگړې توگه کله چي دا متعارض روايات د احکامو په اړه وي، د متن له پلوه په قرآن کي کوم شاهد ونه لري او د سند له پلوه غريب وي. که څه هم د بخاري يو روايت چي اوه ځلي ئې تکراري راوړی، غريب دئ او په دوو طبقو کي يوازي يو يو راوي لري، وايي چي د عائشې رضی الله عنها نکاح په نه کلنۍ کي تر سره شوې، او همدا خبره په مسلمانانو کي مشهوره شوې، ځيني د دغه روايت د توجيه لپاره وايي چي د تودو سيمو نجلۍ او هلکان د سړو سيمو په پرتله ژر بلوغ ته رسېږي، دوی هم بلوغ شرط گڼي، او رأيه ئې دا ده چي کېدی شي يوه نجلۍ په نه کلنۍ کي پېغلتوب ته ورسېږي، خو له يوې خوا په مکه کي د عائشې رضی الله عنها خِطبه ښيي چي عائشه رضی الله عنها به له کوم شك پرته هغه مهال بلوغ ته رسېدلې وه، او په مدينه کي درې کاله وروسته د هغې نکاح ترسره شوه، له بلي خوا داسي روايات شته چي ښيي ابوبکر رضی الله عنه په مکه کي او د رسول الله صلی الله عليه و

(c) ketabton.com: The Digital Library
سلم تر خطبې وړاندي بل چا ته د عائشې رضی الله عنها د نکاح کولو پرېکړه کړې وه خو هغه له ایمان راوړلو ډېره وکړه نو ځکه ئې هغه موافقه فسخ کړه. بل روایت وایي چې علي رضی الله عنه د خپلي لور کلثوم رضی الله عنها په اړه د عمر رضی الله عنه خطبې ته په دې دلیل د نفي ځواب ورکړ چې صغیره ده، او هغه مهال ئې په نکاح ورکړه چې پېغلتوب ته ورسېده. له دې څرگندو آیتونو او روایاتو په صریح توگه معلومېږي چې د نکاح او جنسي نږدېکت لپاره بلوغ شرط دئ.

## د ښځي او مېړه حقوق یو پر بل

قرآن په دې اړه فرمایي:

وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكۡتُمۡنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِيٓ أَرۡحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤۡمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنۡ أَرَادُوٓاْ إِصۡلَٰحٗاۚ وَلَهُنَّ مِثۡلُ ٱلَّذِي عَلَيۡهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ دَرَجَةٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٢٢٨

البقره: ۲۲۸

طلاقي شوې ښځي دي د ځان په اړه تر درې واري حیضه انتظار وکړي او د هغه څه پټول ورته روا نه دي چې الله تعالی د دوی په رحم کې پیدا کړی، که په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، په دې (موده) کې، د دوی مېړونه تر هر چا زیات د دې وړ او مستحق دي چې دوی بېرته راوگرځوي. (په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library
شرط چي) د روغي جوړي اراده ولري. دوی لره (د هغو حقوقو) په شان (حقونه دي) لکه پر دوی چي (د دوی د مېړونو) دي، خو د نارينه وو پر دوی يوه خاصه مرتبه ده او الله با حکمته عزتمن دئ.

په دې مبارك آيت کي څو لارښووني شوې:

- طلاقي شوې ښځي به تر درې واري حيضه انتظار کوي، تر څو دا خبره په يقيني توګه څرګنده شي چي په رحم کي څه لري که نه، د انتظار په دې مودې کي د هغې مخکنی خاوند تر بل هر چا د دې مستحق او وړ دئ چي ورسره روغه جوړه او بيا نکاح وکړي، خو په دې شرط چي دواړه د جوړ جاړي او اصلاح اراده ولري او يو د بل د حقوقو مراعات وکړي،
- مېړه بايد دې ته متوجه وي چي مېرمن ئې په ده باندي هومره حقوق لري لکه دی چي ئې په خپلي مېرمني لري او مېرمن بايد دې ته متوجه وي چي مېړه د کورنۍ د قيم او مدير په توګه ومني او دا هڅه به نه کوي چي دا د کور واکمنه وي او مېړه ئې دې ته تابع او منقاد وي، کورنۍ او وړه او لويه ټولنه يوه قيم، رئيس او ناظم ته ضرورت لري، له مدير او قيم پرته ټولنه د تشتت او بدنظمۍ ښکار کېږي، اسلام دا وظيفه نارينه ته سپارلې او د دې لپاره ئې دوه دلائل وړاندي کړي: لومړی دا چي د کورنۍ ټول مصارف ئې په غاړه دي، له مهر نيولې بيا تر کور، جامو او نفقې پوري او دوهم دا چي د دې وظيفې لپاره نارينه تر ښځي مناسب دئ. د ښځي د عاطفې او عقل ترمنځ انډول داسي دئ چي د عاطفې اړخ ئې کافي درون دئ، څواکمنه عاطفه ورکړی شوې، هومره چي اکثراً عقل ترخپلې اغېز لاندي راولي، د اولاد

(c) ketabton.com: The Digital Library
د روزني لپاره همدې صفت ته اړه وه، د همدغې عاطفې په حکم د اولاد د هوسایۍ او سوکالۍ لپاره خپله هوسایي قرباني کوي، دا هغه څه دي چې نارینه ترې محروم دئ، د نارینه عاطفه د دې په څېر ځواکمنه نه ده، د عقل او عاطفې ترمنځ ئې نسبي انډول شته، د قیمومیت او مدیریت لپاره دغه انډول ته ضرورت دئ، که څه هم د دغو دوو دلائلو له مخې اسلام نارینه د کورنۍ قیم ټاکلی خو دواړه مخصوصاً نارینه ئې په ښه سلوك او د کورنۍ په ټولو کارونو کې په مشوره مکلف کړی.

## آیا مېرمن حق لري خپله مېړه ووهي؟

د (قانون منع خشونت علیه زن) محوري او بنسټیز هدف د ښځو په ضد د تشدد مخنیوی ښودل شوی، خو که دا قانون په غور او دقت سره وڅېړو په آسانۍ راته جوته کېږي چې د لیکونکو موخه د افغاني ټولني او د دې ټولني د هرې کورنۍ هغه جوړښت رنګول دي چې بنسټ ئې پر اسلامي لارښوونو اېښودل شوی، افغاني کورنۍ ته ئې ځانګړی او امتیازي مقام ورکړی، د اولاد لپاره ئې مصئون او خوندي چاپېریال رامنځته کړی، د فکري او اخلاقي یرغلونو په وړاندې ئې د هغوی ساتنه کړې. د دې قانون له لارې هڅه شوې چې مېرمن د مېړه او پلار په وړاندې بغاوت ته وهڅول شي، داسې ښودل شوې چې د ښځو په ضد تاو تریخوالی هغه مهال له منځه ځي چې په کورنۍ کې د پلار او مېړه واکمني او قیمومیت (د دوی په اصطلاح مرد سالاري) پای ته ورسېږي، لور او ښځه دا حق تر لاسه کړي چې په خپل سر او خپله خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پرته له دې چې د پلار او مېره اجازې او موافقې نه اړه وي له کوره وتلی شي، له هر چا سره لیدلی او کتلی شي، نه پلار د هغې مخنیوی کولی شي او نه مېره، د داسې مخنیوې په صورت کې به له سزا سره مخامخ کېږي!! حتی که پلار له کوم ناصالح فرد سره د خپلې پېغلې لور له ازدواج ممانعت وکړي نو سزا به ئې څو میاشتې حبس وي!!

د دې سپېرو اوراقو له لیکونکو او حامیانو زموږ لومړۍ پوښتنه دا ده چې ولې یوازې د ښځو په اړه زړه سوی ښیئ او یوازې د دوی په اړه د تشدد د مخنیوې لپاره قوانین وضع کوئ؟ ولې مو نارینه او ماشومان هېر کړي او داسې قانون نه وړاندې کوئ چې نور مظلومان هم احتوی کړي؟ مګر د دوی په خلاف تشدد تر ښځو لږ او خفیف دئ؟ ولې ئې نه دي ویلي چې تشدد جرم دئ که دا د نارینه په ضد وي، که د ښځې په ضد، که د زوړ په ضد او که د ځوان او ماشوم په خلاف؟ ولې ئې نه دي ویلي چې نه مور حق لري خپل ماشوم ووهي، نه استاد خپل شاګرد، نه افسر خپل عسکر، نه پولیس عام وګړی او په جرم تورن کس؟ مګر پر ماشومانو باندې ظلم او تېری تر ښځو زیات نه دئ؟ مګر له متهم او تورن بندي سره د پولیس او مستنطق چلن تر هغه په څو څو ځله زیات غضبناك او شدید نه دئ چې کوم عصبي او له رواني پلوه بیمار خاوند ئې له خپلې مېرمنې سره کوي؟! یوازې د ښځو په اړه داسې قانون راایستل یعنې څه؟!! اصولي خبره خو دا ده چې ووایو: هېڅوك حق نه لري کوم انسان د باصلاحیته او قانوني محکمې له شرعي او قانوني پرېکړې پرته مجازات او تعذیب کړي، او دا هغه څه دي چې تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library
وړاندي اسلام ويلي او نورو په دې ميدان کي د اسلام تقليد کړی.

د دې قانون وړاندي کوونکو په ډېر خلاص لاس سزاګاني ټاکلې دي، هغه هم پلار او مېره ته، او دا هم په داسي حال کي چي خپلو سپېرو پاڼو ته ئې د قانون منع خشونت نوم ورکړی!! پرته له دې چي د دې پروا ولري چي سزا د يوه انسان پر کرامت، عزت او آزادۍ تېری دئ، هغه چاته بايد ورکړی شي چي د دې وړ وي، په خپل جرم او ګناه سره ئې خپل عزت يا د بل عزت او حق تر پښو لاندي کړی وي، سزا د جرمونو د مخنيوي آخري چاره ده، هغه مهال بايد اجراء شي چي نوري لاري چاري اغېزمني ثابتي نشي، د سزا پرېکړه د کافي او ژور تحقيق او احتياط غوښتنه کوي، دا مجال بايد هيچا ته ورنه کړی شي چي د يوه انسان کرامت په آسانۍ تر پښو لاندي کړی شي، ټول هغه ضروري احتياطي تدابير بايد په پام کي ونيول شي چي چارواکو ته په خلاص لاس د هر چا تعذيبولو او هر چا ته د سزا ورکولو فرصت په لاس ورنه شي، د همدې لپاره ده چي قرآن د زنا کوونکي د مجازات لپاره د څلورو مسلمانو شاهدانو شهادت ضروري ګڼلی، هغه هم داسي شهادت چي شاهد به د نږدېکت حالت په خپلو سترګو په داسي توګه ليدلی وي لکه سلايي د رانجو په کڅوړه کي. له دې شرط معلومېږي چي اسلام د يوه انسان د مجازات په اړه څومره احتياط لازم کړی، که څوك بل په زنا تورن کړي خو د خپلي ادعاء د اثبات لپاره څلور شاهدان حاضر نه کړی شي، هغه مفتري او فاسق ګڼل کېږي، په درو به وهل کېږي او له دې وروسته به ئې هيڅ شهادت د منلو وړ نه وي. که د ښځي خپل خاوند دا تور ولګوي نو يا به څلور شاهدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

راولي او يا به څلور ځله د الله په نامه لوړه کوي چي رښتيا وايي او پنځم ځل به وايي: که دی دروغجن وي نو د الله لعنت دي ورباندي وي، خو که ښځه اعتراف ونکړي او د خاوند په څېر په څلور ځله قسم او يو ځل لعنت سره دا اتهام رد کړي د قاضي په وړاندي برئ ګڼل کېږي. د شاهدانو شهادت هم يوازي په هغه صورت کي اعتبار لري چي دا عمل ئې په خپلو سترګو ليدلی وي، د شك او ګمان په بنياد شهادت نه منل کېږي. دا ټول احتياطي تدابير د دې لپاره دي چي هسي د شك او وهم په بنسټ څوك مجازات نشي او عزت ته ئې تاوان ونه رسېږي، د ناروا او په خپل سر قتلونو مخنيوی وشي، قضايا محکمې ته وړاندي شي او قاضي له پوره غور او دقت وروسته په احتياط سره فيصله وکړي. خو د دې سپېرو پاڼو ليکونکو ليکلي: که خاوند خپله مېرمن بهر ته له تګ منع کړه بايد مجازات شي، سزا به ئې څو مياشتي حبس وي!! که پلار خپله لور له کوم کس سره (که څه هم ناصالح او مفسد وي او د دوستۍ وړ نه وي) له ازدواج منع کړه په څو مياشتو حبس به محکومېږي!! که پلار خپله لور او مېړه خپله مېرمن تأديب کړه بايد په څو مياشتو حبس محکوم شي!! او دې ته ورته ډېري نوري سزاګاني!!

د دې سپېرو پاڼو ليکونکي په دې نه پوهېږي چي د تعذيب او تأديب تر منځ ډېر ژور توپيرونه شته، يو ئې جائز دئ او د ولي او مربي رأيي ته پرېښودل شوی او بل ئې هر فرد ته ناجائز ګڼلی او واك ئې شرعي محکمې ته سپارلی، قاضي هم يوازي د قانون مطابق سزا ورکولی شي، تعذيب او مجازات هغي قانوني سزا ته ويل کېږي چي د محکمې له لوري او د قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library
له مخي د يوه داسي عمل له کبله يوه مجرم ته ورکول کېږي چي قانون ئې جرم ګڼي، د سزا حد هم په قانون کي ټاکل شوی، او تأدیب د مهرباني او زړه سواندي مور هغه چلن ته ورته کار دئ چي د خپل شوخ زوی د اصلاح لپاره ئې کوي، په لومړي ځل له مهربانۍ او خواخوږۍ ډک نصحیت ورته وکړي، په دوهم ځل تندی ورته تریو کړي، په دریيم ځل ئې تهدید کړي او ورته ووايي پلار ته دي وايم چي غوږ دي تاو کړي، په څلورم ځل ترې مروره شي او مخ ترې واړوي، که دا هم اغېزمن نه شو نو لاس پرې پورته کړي او پر داسي ځای څپېړه ورکړي چي د ټپي کېدو احتمال ئې کم وي، پر اوږې او کوناټو ئې په څپېړي ووهي. یوازي يو ناپوه انسان به دې دواړو ته په یوه سترګه ګوري. لکه څنګه چي دولت ته دا حق ورکړی شوی چي مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړي او داسي سزا په هيڅ دين، مذهب او نظام کي د عدل او انساني کرامت خلاف عمل نه ګڼل کېږي؛ همداسي د پلار او مېړه له لوري د لور او مېرمني تأديب نه د عدل خلاف عمل دئ او نه د انساني کرامت خلاف عمل.

اسلام زوجينو ته توصيه کوي چي يو به له بل سره په غوره توګه او له ميني او احترام سره چلن کوي، وايي تر ټولو غوره مسلمان هغه دئ چي له خپلي مېرمني سره په چلن کي تر نورو غوره وي، تر ټولو غوره مېرمن هغه ده چي مينه ناکه، پاك لمنه او خپل مېړه ته مطيع وي، د مېرمني د نشوز او سرغړاوي په صورت کي نارينه ته د تأديب حق ورکړی شوی خو دا به په کومي لويي فتني کي د مېرمني له پرېوتو د مخنيوي په موخه وي نه د کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library
جرم سزا، او نه په داسي مواردو کي چي ده ته ئې ډوډۍ نه ده تیاره کړې، جامې ئې نه دي مینځلې، او حتی د ده ماشوم ته ئې تی نه دئ ورکړی، په داسي مواردو کي قطعاً د هغې د تأدیب او وهلو حق نه لري، قرآن وایي: که مېرمني خپل ماشوم ته له تي ورکولو ډډه وکړه مېړه مکلف دئ بله مناسبه چاره وکړي.

## د زوجینو تر منځ په کورنیو چارو کي د مشورې سپارښتنه

اسلامي شریعت مېړه او مېرمن پر دې مکلف کړي چي په اړوند چارو کي به په خپلو کي مشوره کوي، مېړه ته وایي: له خپلي مېرمني سره په ښه او معروفه توګه چلن کوه، وایي: تر ټولو غوره انسان هغه دئ چي له خپلي مېرمني سره په خپل چلن کي تر نورو غوره وي، له طلاق وروسته ئې هم ښځه او مېړه په دې مکلف کړي چي د خپل تي خور ماشوم په اړه به مشوره کوي، په دې موده کي به مور تی ورکوي او پلار به د دې د رزق روزي او جامو ذمه وار وي، خو نه به مور په خپل زوی ځورول کېږي او نه پلار، که پلار نه وي نو په ورثه وو دا ذمه واري راځي، د تي ورکولو پوره موده دوه کاله ده، خو که مور پلار وغواړي چي د کوم ضرورت یا مصلحت له مخي دا موده رالنډه کړي نو په دوه شرطه دا کار کولی شي: دواړه به په دې کار راضي وي او په خپلو کي به ئې مشوره کړې وي. مشوره او د دواړو رضایت او موافقه ئې شرط کړی. ګورئ چي اسلام په کورني ژوند کي مېړه او مېرمن په دې مکلف کړي چي کار به ئې په مشوره او د طرفینو په رضایت وي. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library
آیت د اسلام له نظره د مشورې حقیقت هم څرګندېږي، له مشورې به هغه پرېکړه راوځي چي دواړه خواوي ورباندي راضي او متفق وي، مشوره دا نه ده چي يو طرف به له بل فقط نظر او رأيه غواړي او وروستۍ پرېکړه به دی په خپله کوي، مشوره د بل د رأيي معلومولو لپاره نه وي، داسي مشوره هيڅ ارزښت نه لري، چي يو کس دي د نورو رأيه واوري خو پرېکړه دي په خپله او د نورو له موافقې او رضايت پرته وکړي، مشوره دې ته ويل کېږي چي د تفاهم او بحث په نتيجه کي د طرفينو د خوښي هغه پرېکړه ترې راووځي چي دواړه ورباندي راضي او متفق وي.

## د کورنۍ اهميت

اسلام کورنۍ ته د ټولني د لويي ماڼۍ د يوې اساسي خښتي په سترګه ګوري، په کورنۍ کي ناخوالي د ټولني د ټولو ناخوالو بنسټ ګڼي، پيغمبر عليه السلام فرمايي چي شيطان تر بل هر کار په دې ډېر خوشحاله کېږي چي د مېړه او ښځي ترمنځ داسي اختلاف راولاړ شي چي د کورنۍ په متلاشي کېدو منتج شي، شيطان چي د فتنو راولاړولو لپاره خپلي لښکري هري خوا ته لېږي، ځيني ئې خلك قتلونو ته هڅوي، ځيني ئې غلا، شراب، زنا او نورو ګناهونو ته، خو ابليس تر بل هرچا د هغه شيطان په شرارت ډېر خوښ شي او هغه په شا وټپوي چي يوه کورنۍ ئې تباه کړې او ښځه او مېړه ئې سره بېل کړي. د همدې لپاره قرآن د کورني ژوند د مختلفو قضاياوو په اړه په ډېر دقت او تفصيل سره بحث کړی او د ټولو مسائلو په ارتباط ئې واضح او ژوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارښووني کړي.

په قانون منع خشونت علیه زنان کي مېرمني دې ته هڅول شوې چي نه یوازي د مېړه برلاسی ونه مني، د بغاوت لار غوره کړي، له اجازې پرته له کوره وتل او له هر چا سره له کوم ممانعت، قید او شرط پرته روابط ساتل د ځان مسلم حق وګڼي، که مېړه د هغې غوښتنو ته غاړه نه ږدي کولی شي هغو استوګنځیو ته پناه یوسي چي د (خانه امن) نوم ورکړی شوی او د فراري مېرمنو لپاره جوړ شوي، یقیناً چي دا د کورنیو د افغاني جوړښت د ختمولو او متلاشي کولو هغه کرکجنه هڅه ده چي شیطان تر بلي هري ګناه او جرم زیات پرې خوشحالېږي!! هغه مېرمن چي د خپل مېړه له کوره تښتي، د دې پر ځای چي د خپل پلار، ورور، خور او نورو خپلوانو کور ته ولاړه شي دغو دولتي استوګنځیو ته پناه وړي چي هلته ئې نه عزت خوندي دئ، نه حیثیت او نه عفت او ناموس، نه ئې اداره کوونکي صالح او امین وګړي دي او نه ساتونکي، دا مېرمن به بیا څنګه او په کومو سترګو د خپل خاوند کور ته درومي او مېړه به ئې څنګه هغې ته د مخکي په څېر په درنه سترګه ګوري او اعتماد به پرې کوي؟!! یقیناً چي د دې قانون د لیکونکو او مدافعینو یا موخي ډېري ډېري شیطاني دي او یا ډېر ډېر ناپوه دي، نه د انساني فطرت له مقتضیاتو خبر دي او نه د افغاني ټولني له ځانګړتیاوو، نه پوهېږي چي د دې قانون پایلي څومره بدي او خطرناکي دي. پر دغو ناأمنو کورونو د کابل حکومت د عدلیي وزیر کلکه نیوکه او په سختو الفاظو اعتراض وکړ او هغه ئې د اخلاقي فساد او فحشاء خوړولو مرکزونه وګڼل، د غربپالو مېرمنو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربي رسنيو غوغا او د غربي سفارتونو توند عکس العلمونه ئې راوپارول، او جناب وزير ئې دې ته اړ کړ چې خپلې خبرې ترميم کړي!!

## د کور حرمت

د اسلام له نظره د يوه انسان کور ځانګړی حرمت لري، هيڅوك حق نه لري د هغه کور ته د ده له اجازې پرته ننوځي، له کومې لوړې، له کوم چاود، يا د دروازې له چولې د کور منځ ته وګوري، د باصلاحيته محکمې له حکم پرته هيڅوك د چا د کور د پلټنې حق نه لري که څه هم يوه قاتل هلته پناه وړې وي، په دې اړه د اسلام په لارښوونو د ښه پوهېدو لپاره د قرآن دې لارښوونې ته ځير شئ:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٢٧

اې مؤمنانو! داسې کورونو ته مه ننوځئ چې ستاسو خپل کورونه نه وي، تر هغه چې موافقه (اجازه) وغواړئ او پر خاوندانو (استوګنو) ئې سلام واچوئ، همدا درته غوره دئ، ښايي پند واخلئ،

د النور د سورې په دغه ٢٧مبارك آيت کې لاندې مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

- مؤمنانو ته ويل شوي: داسې کورونو ته مه ننوځئ چې ستاسو خپل کورونه نه وي، تر هغه چې موافقه (اجازه) وغواړئ، او پر استوګنو ئې سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library
واچوئ، همدا درته غوره دئ، يعني د بل كور ته د ننوتلو لپاره به دوه خبري په پام كي لرئ: لومړی دا چي د كور د خاوند او استوګن موافقه او اجازه به ترلاسه كوئ، دلته د استئذان (اجازه غوښتلو) پر ځای د تستأنسوا صيغه كارول شوې چي رضايت او موافقه افاده كوي او معنی ئې دا ده چي د بل كورته په هغه صورت كي ننوځئ چي هغه ستاسو له ورتلو سره موافق وي او د اجازې وركولو ته اړ شوی نه وي، داسي نه چي هغه اجازې وركولو ته اړ شوی وي، په وار وار او تر هغه دي دروازه ورټكولې وي چي ناچار درته پرائې نيزي او د ننوتلو اجازه دركړي او يا د ده له خوښي او موافقې پرته ورننوځې، دوهمه دا چي پر اوسېدونكو به سلام اچوئ، دا سلام يوازي د معاشرتي آدابو يوه ببلګه نه ده چي له اخلاقي پلوه ئې مراعات ضروري دئ او يوازي يوه دعاء هم نه ده، بلكي دا استوګن ته د ځان له لوري د سلامتيا پيغام او د تاوان نه رسولو ډاډ وركول او له هغه سره ژمنه هم ده، له همدې پيغام سره به د بل كور ته ننوځئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ، دا د ډېرو ناخوالو مخنيوی كوي، هم له اخلاقي پلوه او هم له معاشرتي پلوه. خو دې ته مو پام وي چي دا نه يوازي د ټولني د افرادو تر منځ معاشرتي دود او ادب دئ بلكي د ټولني په كچه او د دولت او وګړو تر منځ د يوه قانون او الهي لارښوونې حيثيت لري، نه يوازي اشخاص حق نه لري د بل كور ته ننوځي، د دروازې له چاك او چاود، يا د بام له سره او له كومي لوري د بل د كور منځ ته وګوري، يا خپل كور داسي جوړ كړي چي د بل پر كور مشرِف وي او منځ ئې ترې وليدی شي، بلكي د اسلامي حكومت هيڅ چارواكی حق نه لري د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته د شرعي محکمې له پرېکړې پرته داخل شي، که دا د پلټنې په موخه وي او که د کوم مجرم د نیونې په موخه، همدا راز چارواکو ته دا حق نه دئ ورکړی شوی چې د چا د کور دننه رازونو تجسس وکړي.

- که په کوم کور کې هیڅوک ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ چې اجازه درکړی شي، یعنې تشو کورونو ته مه ننوځئ، که ننوتو ته اړ شوئ نو له اجازې وروسته ورننوځئ.

- که د کوم کور دروازې ته ودرېدئ، د ننوتلو اجازه مو وغوښته، او د کور له منځه مو د ننوتلو اجازه تر غوږ نه شوه او یا درته وویل شول چې ستانه شئ، نو ستانه شئ، په دروازې کې له مزید ودرېدا او تر درې واري زیات د دروازې له ټکولو او د اجازې له غوښتلو ډډه وکړئ، په دې مه ناراضه کېږئ چې د ننوتلو اجازه درنه کړی شي، یا درته وویل شي چې اوس ستون شه او بل وخت راشه، همدا درته ښه پاکیزه او د پاکوالي ضامنه طریقه ده، الله تعالی ستاسو پر ټولو کړنو او ښو او بدو پایلو او اغېزو ئې ډېر ښه پوهېږي، د خپل بشپړ علم له مخې تاسو ته لارښوونه کوي چې همداسې وکړئ او په همدې کې ستاسو خیر مضمر دئ.

- خو که داسې کور ته د ننوتلو ضرورت احساس کړئ چې نااستوګن وي او په هغه کې ستاسو لپاره کومه متاع او د استفادې وړ شی وي، نو په دې کې څه ګناه درباندې نشته چې داسې کورونو ته له اجازې پرته ننوځئ.

- الله تعالی پوهېږي چې تاسو یوه تش یا ډك کور ته په کوم نیت ننوځئ، د کوم پټ کار اراده لرئ که د کوم ښکاره کار، په نېك نیت ننوځئ که په بد

(c) ketabton.com: The Digital Library

نيت، تشو كورونو ته ننوتل ډېر ځلي په دې نيت وي چې څوك غواړي د نورو له نظره پټ كوم كار وكړي، نو ځكه دلته ويل شوي چې الله تعالی په هر هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې په ښرګنده يا په پټه توګه كوئ.

- كه څه هم په دې آيت كې موږ ته دا لارښوونه شوې چې د چا كور او استوګنځي ته د هغه له موافقې او اجازې پرته داخل نشو، خو د دې لارښوونې لازمي تقاضا دا ده چې له هر هغه عمل هم ډډه وكړو چې د بل كور ته له اجازې او موافقې پرته د دخول او ننوتلو په معنی تعبيرېږي، لكه تجسس، دا هڅه چې پوه شو په دې كور كې څه تېرېږي، د دېوال له شا، د دروازې له چاود او د بل بام له سر د كور منځ ته كتل، له لري په دوربين سره د كور منځ ښارل، د ټيلفون غږ ئې ثبتول، استراق السمع او داسې وسائل لګول چې د استوګن غږ واورېدی شي دا ټول د دې لارښوونې خلاف كړني دي. كه كوم كور يا خونه دروازه نه لري، يا داسې پرده پرې ځوړنده وي چې د كور او خونې منځ ترې معلومېږي، نو داسې ودرېدل د دې لارښوونې خلاف عمل دئ چې لومړی ځان كوربه ته وروښيي، يا د كور منځ ته وګوري، يا د استوګن د ليدو هڅه وكړي او بيا د ننوتلو اجازه وغواړي.

- دا پوښتنه هم راولاړېږي چې د بل كور ته تر ننوتلو وړاندې لومړی سلام اچول دي كه د ننوتلو اجازه غوښتل؟ ځواب دا دئ چې د آيت له مخې لومړی استئناس دئ او بيا سلام، لومړی دروازه ټكول دي، كله چې ورته معلومه شي چې په كور كې څوك شته او د ده غږ اوري نو بيا سلام اچول او د ننوتلو اجازه غوښتل دي. كه د ټيلفون له لارې د اجازې غوښتل ممكن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library
نو لومړی ټیلفون کول دي، بیا سلام اچول او بیا د ننوتلو اجازه او موافقه ترلاسه کول دي.

د دې مطلب په ښه پوهېدو دا روایات زموږ مزید مرسته کوي:

عن ابي هريرة أَنَّ رَسُول اللَّه صلى الله عليه و سلم قَالَ : مَنْ اطَّلَعَ فِي بَيْت قَوْم فَفَقَئُوا عَيْنه , فَلَا دِيَة لَهُ وَلَا قِصَاص " رَوَاهُ النَّسَائِيّ

عن أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ :«مَنِ اطَّلَعَ فِى دَارِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ فَفَقَئُوا عَيْنَهُ هُدِرَتْ عَيْنُهُ » رواه ابو داؤد

امام شافعي د دغو روایاتو ظاهري الفاظو ته په پام سره وايي چي که څوك د بل چا د کور منځ ته نظر وکړي او استوګن ئې د هغه سترګه ړنده کړي دیت او قصاص پرې نشته. خو احناف په دې عقیده دي چي دا حکم د داسي حالت اړوند حکم دئ چي څوك له اجازې پرته د بل کور ته ننوځي، کوربه ئې مخنیوی وکړي، سره لاس او ګرېوان شي، په دې ترڅ کې د ننوتونکي سترګه ړنده شي، نو د کور پر خاوند دیت او قصاص نه لازمېږي. باید ووایو چي د چا کور ته د دروازې له چولي کتل دومره ستر جرم نه دئ چي سزا ئې د سترګي ړندول وي. د اړوند روایت غوره توجیه همغه ده چي احناف ئې وړاندي کوي.

عن عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « .... مَنْ نَظَرَ فِى كِتَابِ أَخِيهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَإِنَّمَا يَنْظُرُ فِى النَّارِ. سنن ابي داؤد

له عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليه و سلم فرمايلي: ... چا چي د خپل ورور ليك نه د هغه له اجازې پرته وکتل نو اور ته ئې کتلي. يعني دا داسي گناه ده چي د دوزخ اور ورپه برخه کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"إِذَا دَخَلَ الْبَصَرُ فَلا إِذْنَ" المعجم الكبير للطبراني

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: کله چي سترگه ننوځي بيا اجازه نشته، يعني کله چي څوك د بل کور او خوني ته نظر وکړي بيا نو د اجازې اخيستو ضرورت او ارزښت منتفي شي، هغه اجازه هيڅ ارزښت نه لري چي له کتلو وروسته وي.

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم سَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : نَعَمْ فَقَالَ الرَّجُلُ : إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم : اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا، فَقَالَ الرَّجُلُ : إِنِّي خَادِمُهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم : أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً ؟ قَالَ : لا، قَالَ : فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا. سنن البيهقي

له عطاء بن يسار رضی الله عنه روايت دئ چي يوه سړي له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه وکړه او وئې ويل: يا رسول الله! آيا د خپلي مور خوني ته د ورتلو په وخت کي به هم ترې اجازه غواړم؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: هو؛ هغه سړي وويل: زه خو له هغې سره په يوه کور کي اوسېږم، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: له هغې اجازه غواړه، هغه سړي وويل: زه ئې خادم يم، رسول الله صلی الله عليه و سلم

(c) ketabton.com: The Digital Library
وفرمایل: آیا دا خوښوې چې بربنډه ئې وګورې؟ وئې ویل: نه، وئې فرمایل: نو اجازه ترې غواړه.

## څوك به د کورنۍ مدیر او قیم وي؟

د قرآن له نظره نارینه د کورنۍ قیم، ناظم او مدیر دئ، خو د مېرمنو د حقونو دروغجن او ریاء کار مدافعین دا د مېرمنو په اړه تبعیض او بې عدالتي ګڼي، راشئ د قرآن هغه آیت خپلې مخې ته کېږدو چې دا لارښوونه په کې راغلې، دې مبارك آیت ته ځیر شئ:

ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٞ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيّٗا كَبِيرٗا ٣٤ النساء: ٣٤

نارینه پر ښځو قیم ( مدبر او منتظم) دي، د هغه فضیلت په وجه هم چې الله یوه ته پر بل ورکړی او د خپلو مالونو د انفاق له کبله هم، نو صالحې ښځې مطیع وي او په غیاب کې د هغه څه ساتونکې وي چې الله خوندي کړي او د کومو ښځو له بدخویي او سرغړاوي چې وېره لرئ نو نصیحت ورته وکړئ، په بستر کې ترې لرې شئ او وئې وهئ، نو که ستاسو اطاعت ئې وکړ نو هسې حیلې او بهانې ورته مه لټوئ، بې شکه چې الله ستر لوړ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې مبارك آيت په ترڅ کې د كورنۍ د څېلمنځي چارو او د ښځې او مېړه د وظائفو په اړه لاندې هدايات ورکړی شوي:

- كورنۍ يوه وړوکې ټولنه ده، وړه او لويه ټولنه يوه قيم، رئيس او ناظم ته ضرورت لري، له مدير او قيم پرته ټولنه د تشتت او بدنظمۍ ښکار کېږي، الله تعالى د كورنۍ د قيموميت او مديريت دنده نارينه ته سپارلې او د دې لپاره ئې دوه دلائل وړاندې کړي: لومړی دا چې د دې وظيفې لپاره نارينه تر ښځې مناسب دئ. د ښځې د عاطفې او عقل ترمنځ انډول داسې دئ چې د عاطفې اړخ ئې کافي درووند دئ، ځواکمنه عاطفه ورکړی شوې، هومره چې اکثراً عقل تر څپل اغېز لاندې راولي، همدې صفت ته د اولاد د روزنې لپاره اړه وه، د همدغې عاطفې په حکم د اولاد د هوسايې او سوکالۍ لپاره څپله هوسايي قرباني کوي، دا هغه څه دي چې نارينه ترې محروم دئ، د نارينه عاطفه د دې په څېر ځواکمنه نه ده، د عقل او عاطفې ترمنځ ئې نسبي انډول شته، د قيموميت او مديريت لپاره دغه انډول ته ضرورت دئ او دوهم دليل ئې دا چې د كورنۍ ټول مصارف ئې په غاړه دي، له مهر نيولې بيا تر کور، جامو او نفقې پورې.
- صالحې ښځې هغه دي چې په كورنۍ کې د مېړه قيموميت مني، دا هڅه نه کوي چې دا د کور واکمنه او مېړه ئې دې ته تابع او منقاد وي، د خاوند په غياب کې بايد د ټولو هغو شيانو حفاظت وکړي چې الله تعالى ئې د حفاظت امر کړی، څپل عفت، څپل ماشومان، د خاوند مال او د ده عزت.

د دې آيت له مخې نارينه د کور (چارواکی) او مېرمن ئې (ساتونکې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. صالحه ښځه هغه ده چې د وظائفو دا وېش مني او خپله دنده په ښه توګه ترسره کوي.

که څه هم د دغو دوو دلائلو له مخې اسلام نارینه د کورنۍ قیم ټاکلی خو دواړه مخصوصاً نارینه ئې په ښه سلوك او د کورنۍ په ټولو کارونو کې په مشوره مکلف کړی.

که ښځو نشوز کاوو، نه ئې دا پورتنی تقسیم منلو او نه ئې د ساتني دنده په امانتدارۍ او اخلاص ترسره کوله، ځان ئې تر مېړه اوچت ګاڼو او هڅه ئې کوله چې هغه ځان ته مطیع کړي، نو د ستونزې د حل لپاره ئې خاوند څو کارونه کولی شي: په وعظ او نصیحت سره دې هغه اصلاح کړي، که وعظ او نصیحت نتیجه ورنکړه، نو څه وخت دې ترې مرور شي، خو داسې مرور نه چې یا دی کور ورته پرېږدي او یا دا له خپل کور بل ته ولېږي، نه، پخپله خونه او بستره کې دې لږ ترې لرې ځملي، کېدی شي په دې سره د هغې بې ځایه غرور مات شي او روغه جوړه وشي، خو که دې تدبیر هم نتیجه ورنکړه نو د تأدیب لپاره ئې وهلی شي، خو دا وهل به داسې وي لکه پلار چې زوی تأدیبوي، هدف به اصلاح وي نه غچ او انتقام، نه د خپلې برلاسۍ ثابتول، نه به ئې پر مخ او بل نازك ځای وهي او نه به د داسې شي ګوزار ورباندې کوي چې ټپي ئې کړي. که په دې سره هغې له نشوز لاس واخیست او د مېړه اطاعت ته چمتو شوه، نو باید د تېرو کړو په وجه ئې ونه ځوروي او د ځورولو لپاره ئې حیلې او بهانې ونه لټوي.

د آیت په پای کې د الله تعالی دوه صفتونه راغلي چې له پورتني مضمون

(c) ketabton.com: The Digital Library
سره ئې خاص تعلق دئ: الله لوړ او ستر دئ، لويي او کبر يوازي له ده سره ښايي، نه دې ښځه کبر او لويي کوي او نه ئې مېړه، ستونزه له همدې راولاړېږي چې يو تر بل ځان اوچت وګڼي، کبر او لويي وکړي، بل ته د حقارت په سترګه وګوري او حقوق ئې تر پښو لاندې کړي.

که ستونزه په دې هم حل نشوه نو لانجه بايد د يوه مصلح ګډ کورني هيئت د حکميت له لارې حل شي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَٱبْعَثُوا۟ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِۦ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصْلَٰحًا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيْنَهُمَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ٣٥

النساء: ٣٥

او که د دوی ترمنځ له بېلتون ووېرېدئ نو يو حکم د ده له کورنۍ او يو حکم د دې له کورنۍ ورولېږئ، که ئې د اصلاح اراده وه نو الله به د دواړو ترمنځ موافقت راولي، يقيناً چې الله خبردار پوه دئ.

که مخکني تدبيرونه مؤثر ثابت نه شول، نو بايد د دواړو د کورنيو د مداخلې له لارې شخړه حل شي، دوه کسيزه جرګه دې وټاکل شي، يو د يوه له کورنۍ او بل د بلې له کورنۍ، دې جرګې ته دې د کشالې د حل و فصل واک ورکړی شي، دواړه دې د جرګې وروستۍ پرېکړې ته غاړه کېږدي. په دې سره به قاضي ته د شخړې د وړاندې کېدو او يا طلاق مخنيوی وشي.

که د مصالحې حکم هيئت هم ونه توانېدو د دوی لانجه حل کړي او د دوی دواړو له بېلتون پرته بله د حل لار نه وه نو اسلام نارينه ته دا حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړی چي خپله مېرمن طلاق کړي او مېرمني ته ئې دا حق ورکړی چي د طلاق مطالبه وکړي، دا مطالبه هم خپل خاوند ته وړاندي کولی شي او هم د هغه د مخالفت او عدم توافق په صورت کي محکمې ته.

دا باید په پام کي ولرو چي په نورو ژوو کي هم نارینه د کورنۍ قیم، مدیر او ساتونکی دئ، د هر یرغل مقابله کوي، سره له دې چي ځان او بچو ته د خواړو په مهیا کولو کي دواړه په ګډه برخه اخلي، حتی زمریان ګورو چي اکثراً د ښکار دنده هم د زمرۍ (ښځي) په غاړه وي، په ځانګړې توګه هغه مهال چي د زمري عمر زیات شي او د زمرۍ په څېر منډي نشي وهلی، دا مهال د ښکار دنده په بشپړه توګه د زمرۍ په غاړه وي، او دا وفاداره مېرمن تل خپل ښکار د مېړه مخي ته ږدي، لومړی هغه ځان موړ کړي بیا دا په خوراك پیل کوي، دا کافي ګڼي چي مېړه ئې د دې او بچیانو ساتنه کوي.

## آیا تر یوې مېرمني زیاتي ښځي درلودل جرم دئ؟

په قانون منع خشونت کي هغه څوك مجرم او د سزا وړ ګڼل شوی چي تر یوې زیاتي مېرمني ئې په نکاح کړې؛ پرته له دې چي د مدني قانون اړوند شرط تأمین کړي!! راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه ویلي، په کوم صورت کي ئې تر یوې د زیاتو ښځو نکاح کول جائز ګڼلي او کوم شرائط ئې وضع کړي؟ او که څوك دا شرائط مراعات نه کړي نو آیا د هغه لپاره ئې کومه سزا ټاکلې او که مېرمني ته ئې دا حق ورکړی چي د خپلو حقوقو ترلاسه کولو او یا نکاح فسخ کولو لپاره مناسبې لاري چاري ولټوي؟ قرآن فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُواْ فِي ٱلْيَتَٰمَىٰ فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُواْ ٣ النساء: ٣

او که له دې وویرېدئ چې د یتیمانو په اړه به عدالت ونکړئ، نو له دغو ښځو د خپلې خوښې، دوه دوه، درې درې او څلور څلور په نکاح کړئ، خو که وویرېدئ چې عدالت به ونکړئ نو بیا به یوازې یوه وي او په خپل واك کې وینځې مو، دا دې ته نږدې ده چې ظلم ونکړئ.

د دې آیت په ارتباط لاندې ټکې په پام کې وساتئ:

- که یتیمان داسې ولې ته پاته شوي وي چې د دوی ترمنځ نکاح روا وي، لکه د تره زوی، نو ولې په هغه صورت کې دا کار کولی شي چې له یتیم سره د خواخوږۍ په نیت دا کار وکړي، بې عدالتې ترې ونشي، د خپل شوق پوره کولو او د یتیم د مال ترلاسه کولو په نیت نه وي.
- که د بې عدالتۍ وېره ئې درلوده نو له داسې نکاح دې ډډه وکړي او پر ځای دې له نورو ښځو څوك په نکاح کړي.
- خو له دې نورو ښځو مراد کومې ښځې دي؟ له یتیم سره ئې څه تعلق شته که نه؟ په یوه آیت کې د دواړو له راتلو خو معلومېږي چې د یتیمانو او دغو ښځو ترمنځ حتماً څه ارتباط باید وي. تاسو پوهېږئ چې له یتیمانو سره یوه لویه مرسته دا ده چې د دوی میندې بې کفیل او متولي پاته نشي، څوك ئې په نکاح کړي، په دې نکاح سره به له یوې خوا هغه تشه ډکه شي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library
خپل پلار له مړيني وروسته د يتيمانو په برخه شوې او له بلي خوا به د کونډو مشکل حل شي، دا لويه بې عدالتي ده چي د چا پلار د اسلام په لار کي شهيد شي، يا په خپل مرگ ومري، نو هم ئې زامن بې کفالته پاته شي او هم ئې ښځه، نه څوك د يتيم په وړاندي د مسئوليت احساس وکړي او نه د کونډو په اړه. د کونډو او يتيمانو د مشکل تر ټولو غوره او مناسبه د حل لار همدا ده چي کونډې په نکاح شي. د يتيمانو د بحث په ضمن کي د تعدد زوجات ذکر همدا مطلب افاده کوي چي دا اجازه په اصل کي د دغي لويي ستونزي د حل لپاره ورکړی شوې، د پيغمبر عليه السلام له سنت هم دغه معلومېږي او د صحابه وو له عمل هم، چي له هر جنگ وروسته دوی تر هر څه د مخه دې موضوع ته اهتمام کاوو چي د خپلو شهيدانو وروڼو د کونډو او يتيمانو ستونزه حل کړي، حتی د جنگ په ميدان کي به ئې دا پرېکړه کوله چي څوك به د کوم کوم شهيد کونډه په نکاح کوي او د يتيمانو کفالت او پالنه به ئې په غاړه اخلي. له عائشې رضی الله عنها پرته د پيغمبر عليه السلام نوري بيبياني کونډې دي او رسول الله صلي الله عليه وسلم په همدې موخه په نکاح کړې.

- هسي هم د ښځو شمېر تر نارينه وو زيات دئ، عادتاً نجوني تر هلکانو زياتي پيدا کېږي، په جنگونو کي خو اکثر نارينه مري او هر جنگ په جگړو کي ښکېل ولسونه د کونډو او تر نارينه وو د ښځو د شمېر د زياتېدو له ستونزي سره مخامخ کوي، د شورويانو په ضد د جهاد په دوران کي يو نيم مليون افغانان په شهادت ورسېدل، چي اکثر ئې نارينه وو، د ايران او عراق په جنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي یو ملیون ایرانیان ووژل شول چي غالب اکثریت ئې نارینه وو، په دې دواړو ملکونو کي به له جګړو دا راولاړه شوې ستونزه څنګه حل کېږي؟ د غرب په څېر د زنا د جائز ګڼلو له لاري؟! د متعه او موقتي نکاح له لاري؟! که د زوجاتو تعدد ته د اجازې ورکولو له لاري؟ د زنا په اړه خو نن د نړۍ فرد فرد ته معلومه شوه چي پایلي ئې څومره خطرناکي دي او انسانانو ته ئې څومره ستونزي راپیدا کړې، د ایډز خطرناکه بیماري له همدې راپیدا شوې، ایران ونه توانېدو چي په موقته نکاح او متعه سره دا ستونزه حل کړي، که څه هم تر سل زرو زیاتي ایرانۍ ښځي افغانانو په نکاح کړې خو د ایران دا ستونزه په خپل حال پاته ده. د دې ستر مشکل د حل یوازینۍ لار هغه ده چي اسلامي شریعت معرفي کړې او په دغه مبارك آیت کي ورته اشاره شوې، اسلام نه یوازي دا جائز ګڼي بلکي هغه د همت او مېړاني او په یتیم او کونډې د زړه سوي نښه ګڼي، خو وایي چي هم به له یوې د زیاتو ښځو کول د عدل په موخه وي او هم به په یوې ښځي اکتفاء د عدل په حکم. په دواړو آیتونو کي د عدل ذکر د همدې لپاره راغلی.

هغه کمعقله کسان چي د زوجاتو د تعدد په اړه پر اسلام نیوکي او اعتراضات کوي او هغه د عدالت او مساوات خلاف کار ګڼي، دې پوښتني ته له ځواب ویلو عاجز دي چي د کونډو او یتیمانو ستونزه به څنګه حل کېږي، تر نارینه وو د ښځو د شمېر د زیاتوالي په صورت کي به دا مشکل څنګه حل کوو؟ دوی نه په غرب کي د زنا په جواز اعتراض کوي، نه په دې چي یو کس یوه قانوني ښځه لري او لس غیر قانوني او نه په دې چي په غرب کي زنا په

(c) ketabton.com: The Digital Library
تجارتي کار وبار بدله شوي او د حکومتونو د عوائدو يو مورد هغه ماليه ده چي له فاحشو ئې ترلاسه کوي، د لندن په يوه ښار کي اويا زره فاحشو ته د دې تجارت اجازه ورکړی شوې او دولت ته ماليه ورکوي، عجيبه ده چي څوك زنا جائزه ګڼي، خو هغه قانوني، صفا او ستره نکاح ناجائزه ګڼي چي اسلام د عدل په موخه او شرط روا کړې، په داسي حال کي چي اسلام نکاح هغه تړون ته وايي چي د ښځي او نارينه ترمنځ او د دواړو په موافقه ترسره کېږي، که کومه ښځه پخپله خوښه له داسي مېړه سره نکاح کوي چي نوري ښځي هم لري نو په دې باندي د نورو د اعتراض لپاره څه مجال پاته کېږي؟!!

په داسي حال کي چي اسلام د ښځي موافقه د نکاح لپاره اساسي شرط ګڼلی، نو دا بې بنسټه اعتراض به څه وزن لري چي نارينه ولي تر څلورو مېرمنو پوري په نکاح کولی شي، څوك چي غواړي بن ونه لري نو له داسي چا سره دي نکاح نه کوي چي بله مېرمن هم لري.

نه پوهېږو هغه کسان څنګه ځانته د دې حق ورکوي چي د اسلام په دې اصل اعتراض وکړي، په داسي حال کي چي د يوې قانوني ښځي تر څنګ د ګڼ شمېر غيرقانوني جنسي ارتباطاتو په درلودو اعتراض نلري!! کمونستان خو د (کورنۍ جوړېدل) د (فردي ملکيت) په څېر د غير کمونستي ټولني نښه ګڼي او په دې باور دي چي په دې برخي کي هم بايد فردي ملکيت له منځه ولاړ شي، بايد کورنۍ منحل او آزاد جنسي تعلقات رائج شي، اولاد د کورنۍ (مال) نه بلکي د ټولني (مال) وګڼل شي، دولت د دوی روزنه په غاړه واخلي، د کورنۍ د غېږ پر ځای بايد په وړکتون کي وروزل شي، په کورنۍ کي د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزنه په دوی کې د (فردي ملکیت) غلط افکار راولاړوي!! خو راشئ وګورو چې د غیر قانوني او آزادو جنسي تعلقاتو نتائج څه وو او نن (علم) په دې اړه څه وایي او د کومو خطرناکو اجتماعی ستونزو او نا علاجه ناروغیو منشأ ئې ګڼي!! د ( ایډز) په شان ناعلاجه ناروغي، د ګڼ شمېر نورو جسمي او رواني ناروغیو په شمول، د همدې فاجعې نتائج ګڼي او وایي: اکثر ستر ستر جانیان هغه دي چې د مور په غېږ کې نه دي روزل شوي، د پلار د ترحم او مینې لاس ئې پر سر نه دئ تېر شوی، داسې څوك ئې نه دئ موندلی چې صادقانه ترحم، عاطفه، زړه سوی او رښتینې مینه ئې له هغه زده کړې وي.

تاسو په مرغانو کې ګورئ، هغه مرغان چې د نر او ښځې شمېر ئې سره برابر دئ، دوه دوه سره جوړه کېږي او بېله کورنۍ جوړوي، ناسته پاسته، الوتل او اوسېدل ئې سره یو ځای وي، لکه ښارو (مینا)، مرغۍ او کوترې، خو هغه مرغان چې د نارینه وو شمېر ئې تر ښځینه وو لږ دئ یو یو ئې ګڼ شمېر ښځې پالي، چرګان ئې یو مثال دئ. ښايي بده نه وي چې د خپلو سترګو یو لیدلی جریان دلته ولیکم: په چهارآسیاب کې په یوه کور کې اوسېدم، غولې ته راووتم او ناڅاپي مې سترګې په یوه چرګ ولګېدې چې له نورو یوازې په غولي کې ګرځې، نورې چرګې له کلا بهر دي، د انګور یوه دانه ئې وموندله، په مښوکه کې ئې راپورته کړه، څو ثانیې په فکر کې ولاړ، بیا ئې یو خاص غږ وکړ، له بهره یوه چرګه په منډه د ده خوا ته راغله، ده د انګور هغه دانه په زمکه واچوله او هغې چرګې وخوړه!! دا په داسې حال کې چې ده د څو چرګو پالنه په غاړه درلوده، هغوی به ئې ساتلې، مازدیګر به ئې کوډلې ته ننه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایستلي، زمکه به ئي په خپلو پیاوړو منګولو ورته کیندله، له وني به ئي پاڼي ورته راشکولې، کله چي به د دانو لوښی د دوی په وړاندي کېښودی شو نو هغه به لومړی خپلو مېرمنو ته فرصت ورکړ چي دانه وخوري او ده به تر دوی وروسته د دانو په خوړلو پیل وکړ، خدای خبر له څومره مودې وروسته د انګور یوه خوږه دانه په لاس ورغلې وه او څومره به ئي زړه غوښتل چي هغه پخپله وخوري، خو لوړ همت او د خپلو مېرمنو په نسبت زړه سوي او رحمت دې ته اړ کړ چي یوه مېرمن راوبلي او دا دانه د هغې مخي ته کېږدي!! له ځان سره مي ویل: آیا د انسانانو نارینه هم دومره همت، مېړانه او عاطفه لري؟!!

د آیت له ورستۍ فقرې معلومېږي چي د عدم عدالت له وېري په وینځي (چي اوس نشته) یا یوې ښځي اکتفاء دې ته نږدې ده چي له ظلم کولو خوندي پاته شئ. په دې صورت کي هم د ښځي ټول حقوق اداء کولی شئ او هم ئي ماشومان ښه پاللی شئ.

اما دا چي پیغمبر علیه السلام ته ولي د (نه) ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دلائل څه دي او دا کار په کومي زماني کي او د پیغمبر علیه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کي تر سره شوی؟ ځواب ئي دا دئ:

ټولو ته جوته ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په پنځه ویشت کلنۍ کي واده وکړ، خدیجه رضی الله عنها د ده لومړۍ بي بي څلوېښت کلنه کونډه وه، د هغې تر وفات پوري ئي بله ښځه نه ده کړې، تر پنځوس کلنۍ پوري ئي یوازي یوه ښځه درلوده، د خدیجي رضی الله عنها له وفات وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library
ئې سوده رضی الله عنها چي کونډه وه، په نکاح کړه، سوده له لومړيو مسلمانانو وه، له خپل مخکني مېړه سره ئې يو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شپېبې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او ښکلا، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار کې قرباني وه، پيغمبر عليه السلام صرف يوه ښځه په ښکلتوب کې کړې، نوري ټولي ئې کونډې وې، هره يوه ئې د يوه لوی اجتماعی مصلحت لپاره په نکاح کړې، ښايي د حفصه رضی الله عنها د نکاح څرنګوالی د نورو ودونو د املونو لپاره ښه مثال وي:

حفصه رضی الله عنها د عمر رضی الله عنه لور وه، مخکنی مېړه ئې د بدر په جګړی کې برخه اخيستې وه، هغه وفات شو، عمر رضی الله عنه؛ خپلو ملګرو ابوبکر رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه ته ورغی او له هغوی ئې وغوښتل چي حفصه په نکاح کړي، خو دوی د خپلو معاذيرو په وجه ډډه وکړه، عمر رضی الله عنه دا مشکل له پيغمبر عليه السلام سره ياد کړ او هغه په دې خاطر له حفصې رضی الله عنها سره د نکاح اراده وکړه چي له خپل نږدې او مخلص ملګري سره د يوې داسي ستونزي په حل کې مرسته وکړي چي نورو ورته حل نه کړی شوه.

همدا راز زينب رضی الله عنها چي مېړه ئې د بدر په جګړي کې په شهادت ورسېدو، عمر خوړلې کونډه وه، په نېکو کارونو کې هومره مشهوره وه چي خلکو به د (بې وزلو مور) په نامه يادوله، پيغمبر عليه السلام هغه په دې خاطر ځانته نکاح کړه چي له يوې خوا ئې د يوه بدري مجاهد په اړه خپله خواخوږي ښودلې وي او له بلې خوا ئې د يوې داسي نوميالۍ، خيري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او با ايمانه ښځي ستونزه حل کړې وي. دا نېکه بي بي يوازې دوه کاله نور ژوندۍ وه.

همدا راز ام سلمه رضی الله عنها چي ٦ اولاده ئې درلودل، مېړه ئې د احد په جګړي کي زخمي شو، د بلي جګړي په دوران کي د ده زوړ پرهار پرې شو او له همدې وفات شو، پېغمبر علیه السلام د ده په مړيني هومره خواشينی شو چي اوښکي ئې توی شوې، د ده له مړيني ٤ مياشتي وروسته ئې ام سلمې ته څوك د خطبې لپاره ورولېږو، هغې خپل عذر داسي وړاندي کړ: زه عمر خوړلې يم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذيت باعث شم. خو پيغمبر عليه السلام غوښتل په دې نکاح سره مسلمانانو ته د خپلو ديني ورونو په نسبت د وفادارۍ او د کونډو او يتيمانو د پالني او روزني نه هېرېدونکې اسوه وړاندي کړي. ام سلمې ته ئې قناعت ورکړ او دا نکاح ترسره شوه. د پيغمبر عليه السلام ټول ودونه همداسي وو.

په دې ودونو کي يو بل ستر مصلحت هم مضمر وو او هغه دا چي د پيغمبر عليه السلام د بيبيانو له لاري د دين يوه لويه برخه مسلمانانو ته رسېدلې، دوی د نورو ښځو لپاره د ښوونکو حيثيت درلود، نورو ښځو به له دوی دين زده کاوو، که تاسو د رواياتو کتابونه وڅېړئ په څرګنده به وګورئ چي د دې کتابونو په هر مخ کي له همدې بيبيانو يو په بل پسي روايتونه ستاسو مخي ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولي د طلاق واك نارينه ته سپارل شوی؟

د دې پوښتنې په اړه چې اسلام ولې د طلاق حق نارينه ته ورکړی، بايد ووايو: اسلام د طلاق له لاندې ممکنو څلورو صورتونو يو غوره کړی:

الف: ښځه او مېړه په ګډه د طلاق فيصله وکړي.

ب: اختلاف محکمې ته وړاندې شي او محکمه په دې اړه وروستۍ فيصله وکړي.

ج: د طلاق حق ښځې ته ورکړی شي.

د: د طلاق پرېکړه د مېړه په لاس کې وي.

مخکې له دې چې وګورو اسلام ولې څلورم صورت غوره کړی بايد څو خبرې په پام کې ولرو:

- اسلام له طلاق کرکه لري، د مجبوريت لپاره جواز ورکوي، خو هغه تر ټولو کرکجن حلال کار او د حل وروستۍ لار ګڼي.
- په اسلام کې نارينه له يوې خوا په دې مکلف شوی چې د کورنۍ ټول لازم ورځني مصارف په غاړه واخلي، هغه به د کورنۍ د ټولو مصارفو متکفل وي. له بلې خوا په دې مکلف شوی چې د نکاح په ورځ به هومره مهر په غاړه اخلي چې ښځه ورباندې راضي شي، دا (مهر) د ښځې حق دئ او د دې د راتلونکې لپاره يو مهم تضمين. (ښځه) کولی شي له (مېړه) هومره مهر ترلاسه کړي چې د دې راتلونکی تضمين کړي او د وخت ناوخت، بې ځايه او بې موجبه طلاق مخه ونيسي، مېړه ونشي کولی چې له يوې خوند واخلي، له لنډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مودې وروسته هغې ته طلاق ورکړي او د هوس په حکم بله په نکاح کړي، طلاق نباید په یوې ملعبې بدل شي، د نکاح په ورځ باید داسې تدابیر ونیول شي چې دا مقدسه رابطه دوام وکړي، اسلام د همدې لپاره د مهر حق د ښځې د مستقبل لپاره د یوه تضمین په توگه وضع کړی.

- اسلام دوه دلیله د دې لپاره وړاندې کړي چې نارینه به د کورنۍ قیم وی او د طلاق پرېکړه به د ده له لوري کېږي:

الف: (مهر) ورکوي او د کورنۍ مصارف ئې په غاړه دي.

ب: د قیمومیت لپاره چې کومو مواصفاتو ته اړتیا ده، په نارینه کې دا مواصفات تر ښځو زیات دي. د ښځې طبیعي وظائف دا ایجابوي چې قوي عاطفه ولري. قوي عاطفه اکثراً د انسان (تعقل) تر اغېز لاندې نیسي، ښځه د همدې (قوي عاطفې) په حکم د اولاد د روزنې ټولې ستونزې په ورین تندې قبلوي، بې خوبې گالي، خپل ژوند او صحت په خطر کې اچوي، د اولاد د هرې غلطۍ په وړاندې صبر کوي او حتی د پردیو په مقابل کې د دوی له هرې غلطۍ دفاع کوي، د (قیادت) او (قضاوت) لپاره د (قوي عاطفې) پر ځای داسې (تعقل) ته اړتیا ده چې د عاطفې تر اغېز لاندې رانشي. د نارینه روحي جوړښت داسې دئ چې د (عقل) او (عاطفې) ترمنځ ئې تعادل او توازن شته او د (عاطفې) تله ئې د ښځو په شان تر (تعقل) درنه نه ده.

پداسې حال کې چې اسلامي شریعت د طلاق حق نارینه ته سپارلی، خوله دې حق د ښځې د ځورولو او د هغې په حقوقو د تېري په لار کې ناروا استفاده نشي کولی، که خبره دې حد ته ورسېده ښځه حق لري (محکمې) ته

(c) ketabton.com: The Digital Library
مراجعه وکړي، چي محکمه به يا د دې حقوق احياء کوي او يا به دا رابطه فسخ کوي.

## کونډې او حقوق ئې

تر اسلام مخکي به خلکو کونډې داسي ګڼلې لکه د ميراث مال، لکه ځاروي چي په پيسو اخيستل شوي وي او خپل واك او اختيار نلري، نه خپلي کورنۍ ته ستنېدی شوی او نه ئې پخپله خوښه له چا سره نکاح کولی شوی، که به ئې وغوښتل چي خپلي کورنۍ ته ستنه شي نو دې ته به اړ کېده چي مهر او ټول هغه څه د مېړه ورثه وو ته مسترد کړي چي هغه ورکړي وو!! اوس هم په ډېرو جهل ځپلو ټولنو کي له ښځو سره همداسي ظالمانه او جاهلانه سلوك کېږي، په پښتنو کي خو دا ظالمانه دود دستور ډېر عام دئ، پلار ئې د بوده او ځاروي په څېر خرڅه کړي، د مېړه له مرګه وروسته د ميراث مال ګڼل کېږي، د مېړه خپلوان به د دې برخليك ټاکي، د پلار کور ته نشي ستنېدی، د خپل راتلونکي خاوند په اړه نه څه ويلی شي او نه څه کولی شي، د خپل مخکني مېړه ورور ته به په نکاح کېږي، که ئې ورور ماشوم وو تر هغه به انتظار کوي چي ستر شي او که ئې ورور نه وو نو کوم بل خپلوان ته به ئې په نکاح کوي!! اسلام دا کار ستر ظلم وګاڼو او هغه ئې تحريم کړ، مسلمانانو ته ئې امر وکړ چي نه به کونډې خپل ميراث ګڼئ، نه به ئې د خپلي خوښي له مېړه سره له نکاح منع کوئ او نه به د مهر او نورو شيانو د بېرته ترلاسه کولو لپاره هغه ځوروئ. د ښځو خاوندانو ته ئې امر وکړ چي

(c) ketabton.com: The Digital Library
له دې سره به ښه سلوك كوئ، كه مو خوښه نه وي په دې طمع او امید ئې وساتئ او له ناروا سلوك ډډه وكړئ چي امید دئ الله ئې تاسو ته د خیر او ښېګڼې ذریعه كړي، كه ئې اخلاق ښه نه وو او كومه څرګنده بداخلاقي مو په كې وموندله، بیا دا اختیار لرئ چي د كوم څه په بدل كې ئې طلاقي كړئ.

## كونډې او مطلقه مېرمنې د خپل مېړه د انتخاب حق لري

قرآن موږ ته لارښوونه كوي چي مطلقه مېرمنې له دې منع نه كړو چي ځان ته مناسب مېړه غوره كړي، فرمايي:

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْا۟ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ٢٣٢ البقره: ٢٣٢

او كله چي مو مېرمنو ته طلاق وركړ او دوی د خپل عدت پای ته ورسېدې، نو دوی له دې مه راګرځوئ چي د خپلې خوښې مېړه سره نكاح وكړي، كه په ښه توګه په خپلو كې سره راضي شوي وي، په دې سره ستاسو هغه چا ته پند وركول كېږي چي په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، دا درته غوره او د تزكیې او پاكۍ سبب ده او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

يعني طلاقي شوې ښځې د خپلې خوښې له مېړه سره له نكاح مه منع

(c) ketabton.com: The Digital Library
کوئ، که دا د دې پخوانی مېړه وي او که نوی، نه ئې د کورنۍ غړي باید دا کار وکړي او نه ئې پخوانی مېړه، په ټولني کې د اخلاقي مفاسدو د مخنیوي لپاره همدا طریقه ترټولو غوره ده چي پرېږدئ کونډې او مطلقه ښځې د خپلې خوښي له مېړه سره نکاح وکړي، په زور نکاح کول او د خپلې خوښي له خاوند سره له نکاح مخنیوی، په ټولني کي د فتنو او اخلاقي مفاسدو باعث کېږي.

که څه هم دا توصیه د مطلقه مېرمنو په اړه ده خو رشد او د عقل پوخوالي ته رسېدلي لوښي او زامن هم پرې قیاس کېدی شي، دا د مور پلار او اولیاوو حق او وظیفه ده چي اولاد ته د زوج په انتخاب کې نېکه مشوره ورکړي، خو حق نه لري خپله خوښه پرې تحمیل کړي، شریعت د دوی توافق ګټور ګڼلی خو د نکاح رکن او شرط ئې نه دئ ګرځولی. اسلام له یوې خوا د کونډې اولیاوو ته ویلي چي هغه د خپلې خوښي له خاوند سره له نکاح مه منع کوئ، خو له بلې خوا ئې ښځه په دې مکلفه کړې چي د نکاح په اړه د خپل ولي رضایت په پام کې ولري، دا د دې لپاره چي نکاح د کورنیو ترمنځ د نږدې والي سبب شي نه د دښمنۍ او نفرت سبب.

په دې اړه دوه اساسي خبري باید په پام کې ولرو:

- د ښځې اولیاء باید خپله خوښه پر هغې تحمیل نه کړي، له بې ځایه ځورولو او تنګولو ئې ډډه وکړي، هغه دي پرېږدي چي د خپلې خوښي له کس سره نکاح وکړي، دا هم په خدای او آخرت د ایمان تقاضا ده او هم له اخلاقي فساد د مخنیوي ذریعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښځه باید په پټه او د اولیاوو په غیاب کې دا کار ونکړي، له دې فتنې راولاړېږي، د کورنیو ترمنځ کرکه او نفرت راپیدا کوي.

لاندي دوه روایات همدغه حقائق توضیح کوي:

روي أن معقل بن يسار كانت أخته تحت أبي البدّاح فطلقها وتركها حتى انقضت عدتها, ثم ندم فخطبها فرضيت وأبى أخوها أن يزوّجها وقال: وجهي من وجهك حرام إن تزوجتيه. فنزلت الآية. قال مقاتل: فدعا رسول الله صلى الله عليه وسلم معقلا فقال: (إن كنت مؤمنا فلا تمنع أختك عن أبي البدّاح) فقال: آمنت بالله, وزوجها منه. رواه البخاري

روایت شوی چي د معقل بن یسار خور د ابي البداح په نکاح کې وه، هغه طلاق ورکړ، عدت ئې تېر شو، خو په خپل کار پښېمانه شو، د بیا نکاح پېغام ئې ورولېږو، دا هم راضي شوه خو ورور ئې له دې نکاح سره مخالفت وکړ او خپلي خور ته ئې وویل: که دي نکاح ورسره وکړه زما لیده کاته به درسره حرام وي، دا آیت نازل شو، پیغمبر علیه السلام معقل راوغوښت او ورته وئې ویل: که مؤمن یې نو خور دي له ابي البداح سره له نکاح مه منع کوه. هغه وویل: پر الله مي ایمان دئ. نو هغه ئې په نکاح ورکړه.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « أيّما امرأة نكحت بغير إِذن وليها. فنكاحها باطل ، فنكاحها باطل ، فنكاحها باطل. ...

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کومه ښځه چي د خپل ولي له اجازې پرته نکاح وکړي نو نکاح ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باطله ده، نکاح ئې باطله ده، نکاح ئې باطله ده.

دې ته مو پام وي چې امام ابوحنيفه رحمه الله د نکاح لپاره د مور پلار او ولي توافق ضروري او مفيد ګڼي خو د صحت لپاره ئې د شرط په توګه نه مني، د دوی له توافق پرته هم نکاح صحيح ګڼي، دا داسي ده لکه درې ځله طلاق چې اصولاً بايد بېل بېل او د طهر په حالت کې وي، او يو ځای په يوه وخت درې طلاقه ورکول جائز نه دي، خو که چا همدا کار وکړ او خپلې مېرمني ته ئې په يوه وخت درې طلاقه ورکړل نو دا درې طلاقه ګڼل کېږي نه يو طلاق. البته نور امامان د ولي توافق د نکاح د صحت لپاره داسي شرط ګڼي چې له هغه پرته نکاح باطله بولي.

## د مېړوښو په اړه د اسلام لارښوونه

اسلام وايي: هيڅوك حق نه لري د بل منکوحه مېرمن په نکاح کړي، مګر له هغه وروسته چې مېړه ئې طلاق ورکړي او د عدت موده ئې بشپړه شي، هيڅوك بايد د هغي ښځي د نکاح کولو هڅه ونه کړي چې بل مسلمان له هغې سره د نکاح پيغام لېږلی او معامله لا پای ته نه ده رسېدلې، لکه څنګه چې په تجارتي امورو کې موږ ته سپارښتنه کوي چې د خپل مسلمان ورور په مبايعې کې خنډ نشو همداسي بايد د هغي مېرمني د نکاح کولو هڅه ونه کړو چې بل مسلمان ورسره په تفاهم بوخت دئ. د قرآن دې آيت ته ځير شئ:

وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۖ كِتَٰبَ ٱللَّهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَلَيْكُمْۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُواْ بِأَمْوَٰلِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَۚ فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةًۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَٰضَيْتُم بِهِۦ مِنۢ بَعْدِ ٱلْفَرِيضَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٢٤﴾ النساء: ٢٤

او مېړوښي ښځې (هم درته حرامي دي) مگر هغه چي ستاسو په واك كې وي، دا پر تاسو ليكلې الهي فريضه ده او له دې سوا درته روا كړی شوې، چي په خپل مال سره ئې د نكاح كوونكو په توگه لټه وكړئ، نه د زنا كوونكو په توگه، نو كه په دې (مال) سره مو له دې تمتع اخيستل وغوښتل، نو فرض مهر ئې وركړئ او له مهر وروسته په هغه څه كې كومه گناه درباندي نشته چي په خپلو كې درباندي راضي شئ، بې شكه چي الله باحكمته پوه دئ.

دلته د قرآن څو لارښووني زموږ په وړاندي ځلېږي:

- مېړوښي ښځې د نورو محرماتو په ضمن كې دي، په استثناء د هغو مېړوښو ښځو چي د مسلمانانو په واك كې راغلې او له خپلو سابقه مېړونو سره ئې تعلق قطع شوی، چي دا يا وينځې دي او يا له محارب دښمن په اسارت نيول شوې مېرمنې، وينځې خو اوس نشته، د اسيرو مېرمنو په اړه به يو له دغو كارونو كېږي: كه ايمان راوړي نو د مسلمانانو مېرمنو سلوك به ورسره كېږي، كه په خپل مذهب ټينگار وكړي نو د مسلمانانو امير به يا دوی له خپلو اسيرانو سره تبادله كوي، يا به ئې د فديې په مقابل كې خوشې كوي او كه دا ممكن نه وو نو چا ته به ئې په نكاح وركوي مشروط په دې چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نکاح ئې جائزه وي.

له دغو ښځو علاوه نورې په دوه شرطونو په نکاح کولی شئ: لومړی دا چې په خپلې نکاح کې د دوی د ساتلو په اراده به ئې په نکاح کوئ نه د خپلې جنسي غریزې د اشباع لپاره په موقته توګه، او دوهم دا چې مهر ئې ورکړئ.

قرآن د نکاح کوونکو نارینه وو لپاره د محصِنین او د نکاح کېدونکو ښځو لپاره د محصَنات صیغه کارولې، حِصن کلا ته وایي او محصِن هغه چا ته وایي چې بل په خپل حفاظت کې ساتي او محصَن هغه چا ته چې بل ئې د خپل حفاظت په غېږ کې ساتي، په دې سره قرآن د نکاح حقیقت څرګند کړی، یعني دا چې نکاح یوه موقته جنسي رابطه نه ده چې محض د خپل شوق پوره کولو یا د خپل جنسي ضرورت د رفع کولو لپاره ترسره شي، برعکس دا د نکاح په قید او احاطه کې د یوې کورنۍ د جوړولو لپاره غیرموقت تړون دئ، پام کوئ چې دې سپېځلي تړون ته د پټې یارانې، یا د جنسي غریزې د اشباع رنګ ورنه کړئ.

ډېره عجیبه ده چې څوك د قرآن دا صراحت له پامه وغورځوي او موقته نکاح جائز وګڼي!! قرآن نه یوازې نکاح یو غیر موقت تړون ګڼې او په تکرار او ټینګار سره دا خبره کوي او په هیڅ ځای کې ئې داسې لفظ نه دئ کارولی چې له هغه د موقتې نکاح د جواز شائبه راپیدا شي، بلکې د بیان له لهجې ئې معلومېږي چې موقته نکاح داسې ګڼې لکه شهواني اقدام او په پټه یار نیول. پیغمبر علیه السلام دغو تأکیداتو ته په پام سره موقته نکاح تحریم کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library
له نکاح او استمتاع وروسته ښځو ته خپل ټاکلی مهر له وعدې سره سم ورکول يوه الهي فريضه ده. خو که ښځه او مېړه په خپلو کې د مهر په اړه کومه پرېکړه کوي، يو بل ته له خپل حق تېرېږي، د ورکړې موده ئې بدلوي يا کوم بل تغيير په کې راولي، دا کار کولی شي.

د آيت دوهمه برخه د لومړۍ برخې لپاره مزيد شرح او تفصيل دئ، په (فاء) او (به) سره له مخکنۍ برخې سره تړل شوې او په ډېر صراحت سره ښيي چې په دغې فقرې (أُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَٰلِكُم) کې راغلی مطلب، په بعدي فقرې (فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنهُنَّ فَئَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً) کې مزيد توضيح شوی دئ، دلته له استمتاع؛ ځان ته حلالول او ترې ګټه اخيستل مراد دي، له (به) مال او له (اجورهن) د دوی مهر. لکه څنګه چې دا برخه د مخکنۍ لپاره شرح ده، له دې وروسته برخه د دې لپاره مزيد شرح ده: وَ لا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ.

متأسفانه ځينو له (استمتاع) (متعه) او موقته نکاح اخيستې او له (اجور) ئې د مهر پر ځای د موقتي نکاح اجوره. حال دا چې استمتاع له دې ځای علاوه په پنځو نورو ځايونو کې هم راغلې او په هيڅ ځای کې د متعه معنی نه ورکوي او يوازې د متمتع کېدو او ګټې اخيستو معنی افاده کوي او اجور د مهور په معنی په پنځو نورو آيتونو کې هم راغلی: د دې سورې په ۲۵ آيت کې هم له اجور مراد مهور دئ نه بل څه.

مصيبت دا دئ چې ځيني کسان د خپل مسلك او مذهب مربوط روايت ځان ته معيار او ملاك کړي او دا هڅه کوي چې د قرآن آيتونه د دغو رواياتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګټه تأویل کړي، که کوم روایت د قرآن له کوم آیت سره مغایر مومي او د آیت ټول الفاظ او د الفاظو ترکیب ئې په صراحت او قاطعیت سره د ده روایت نفي کوي، دې ته نه تیارېږي چې یا روایت پرېږدي یا ئې د آیت په ګټه تأویل کړي، برعکس د آیت صریح مفهوم پرېږدي او داسي کوږ او له تکلف ډك مطلب ترې راباسي چې همدا غلط او ضعیف روایت تأیید کړي. د موقتي نکاح او متعې په اړه ئې کوم روایت ترلاسه کړی، باید له قرآن د دې روایت په تأیید کې کوم دلیل راپیدا کړي، خو څرګند دلیل نه مومي، برعکس ګوري چې قرآن د نکاح په دوام او غیرموقت والي تأکید کوي، د نکاح کوونکو لپاره د (محصنین) او د نکاح کېدونکیو لپاره د (محصنات) الفاظ کاروي او مسلمانانو ته مکرر او په تأکید سره وایي چې له نکاح داسي څه مه جوړوئ چې څرګندي زنا یا د پټي یار نیولو ته ورته وي، خو دی د قرآن مغایر روایت نشي پرېښودی، ناچار به په آیت کې لاسوهنه کوي او مطلب به ئې داسي برابروي چې د روایت تأیید ترې راووځي!! هغه روایت به څنګه د اعتبار وړ ګڼو چې د قرآن له صریح آیت سره تضاد او تعارض لري؟! په قرآن د ایمان تقاضا خو دا ده چې د داسي روایت په اړه ووایو: ښایي راوي اشتباه کړې ده یا ښایي دا روایت د هغي مرحلې په اړه وي چې لا دا آیت نه وو نازل شوی. قرآن د داسي خلکو څېره ځومره ښه او دقیقه انځور او څنګه ئې هغوی معرفي کړي، هلته چې فرمایي:

وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ

(c) ketabton.com: The Digital Library
وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٨ آل عمران: ٧٨

او له دوی یوه ډله داسي ده چي په خپلي لیکني او کتاب خپلي ژبي داسي اړوي چي ته هغه د الله د کتاب یوه برخه وبولې، په داسي حال کي چي هغه د الله د کتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبري ټولي د الله له لوري دي په داسي حال کي چي د الله له خوا نه دي، په الله پوري دروغ تړي سره له دې چي ښه پوهېږي.

## آیا زنا او لواطت په خپل ذات کي جرم نه دئ؟

د منع خشونت سپېره قانون وايي: یوازي هغه زنا او لواطت جرم دئ چي په زور او جبر ترسره شي!! یعني زنا او لواطت په خپل ذات کي جرم نه دئ، هغه مهال د جرم بڼه غوره کوي چي په جبر او اکراه او د ښځي له موافقې پرته ترسره شي!! او دا هغه څه دي چي د منحطي او له معنوي او اخلاقي پلوه پرېوتي غربي نړۍ پر لمني تور داغ ګڼل کېږي، د عقل، علم او فطرت خلاف کار، هغه چي حیوانات هم تري کرکه لري!! دغو غرب وهلو مېرمنو له غربي منحط او مبتذل فرهنګ همدا زده کړي، په دې قانون کي ئې افغاني مېرمني ته ټول هغه قانوني تسهیلات مهیا کړي چي له مخي ئې وکولی شي د یوې غربي مېرمني په څېر ژوند وکړي، ټولي دیني، معنوي او اخلاقي پولي ونړوي، دیني ارشاداتو او ملي دودونو ته شا کړي، د قانوني مېړه تر څنګ یاران ولري، هر مهال له هر چا سره چي زړه ئې غواړي له کور وتلی شي، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library
ئې پلار مخنيوی کولی شي او نه مېږه، يوازي دا پاته دي چي ليکلي ئې وی: له همجنس سره ازدواج هم جائز دئ او که څوك له داسي ازدواج د کومي مېرمني يا سړي مخنيوی وکړي نو په څو مياشتو حبس به محکومېږي!! همغه ځه چي د نورو غربي هېوادو تر څنگ د فرانسي سوسياليست رژيم هم په پارلمان کي دا د همجنسانو تر منځ د ازدواج قانون تصويب کړ او په مخالفت کي ئې سلگونو زرو فرانسويانو په مظاهرو لاس پوري کړ. د غرب وهلو افغانانو ډېری له خرافاتو ډك مسيحيت ته اوښتي دي او بايبل ته د سپېڅلي کتاب په سترگه گوري، خو همدغه محرف بايبل د سدوم ښار ورانېدا تر عنوان لاندي وايي: ... د دې ښار اوسېدونکي له مادي پلوه ډېر وړاندي تللي وو، مرفه ژوند ئې په برخه شوی وو، خو له اخلاقي پلوه په دې بيمارۍ اخته وو چي له نارينه سره د نارينه جنسي نږدېکت ئې عادي او د عدم مؤاخذې وړ فعل گڼلو، نو ځکه الله تعالى د دې ښار د ورانولو پرېکړه وکړه،... له لمر لوېدو سره سم خدای په عموره او سدوم سکروټي وورولې، ټول ښارونه او کلي ئې له ټولو اوسېدونکو او نباتاتو سره له منځه يووړل!!!

دا غرب وهلي مېرمني زنا يو عادي او مجاز فعل گڼي خو همدا بايبل د تثنيه په کتاب کي ليکي: که کوم سړی يوه پېغله په نکاح کړي، بيا ئې خوښه نه شي او په دې ئې تورنه کړي چي خپل پېغلتوب ئې نه دئ ساتلی او باکره نه وه، په لومړۍ شپه راته معلومه شوه چي دا باکره نه وه، نو د نجلۍ مور او پلار بايد داسي مدرك وړاندي کړي چي د نجلۍ پېغلتوب او باکره والی ثابت کړي، د سپين ږيرو په مخکي به هغه ټوټه وغوړوي... قاضيان به ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library
وګوري که ترې ثابته شوه چې سړي دروغ ويلي نو په درو به ئې ووهي او سل مثقاله سپين زر به د جريمې په توګه د نجلۍ پلار ته ورکړي... او دا به د تل لپاره د ده په نکاح کې پاته کېږي او د طلاقولو حق به ئې نه لري!! خو که ادعاء ئې سمه وخته نو سپين ږيري دي دا نجلۍ د پلار کره بوځي او د ښار سړي دي دا رجم کړي!! که کوم نارينه د کومې مېړوښې ښځې سره د زنا په حالت کې وليدل شو، دواړه بايد ووژل شي!! که کومه مېړوښه نجلۍ د کوم سړي لخوا اختطاف شوه، دواړه بايد له ښاره بهر رجم شي، نجلۍ د دې لپاره چې د اختطاف په مهال ئې چيغې نه وې وهلې!! خو که دا کار له ښاره بهر وشي بيا نو نجلۍ داسې جرم نه دئ کړی چې د وژلو وړ وي، ځکه چا ئې مرسته نه شوی کولی!!

څو پوښتني لرو:

- کومه ټوټه د نجلۍ پېغلتوب ثابتولی شي؟ هغه چې د لومړي نږدېکت په شپه تر دواړو لاندې ويره وه؟ قاضي به څنګه د داسې يوې ټوټې له مخې پرېکړه کوي چې په وينو لړلې ده؟ څنګه به معلوموي چې دا د چا وينې او د کوم وخت دي؟ مېړه ته دا ډېره آسانه ده چې پرې نږدې ښځې ته داسې ټوټه په لاس ورشي.
- ولې به سل مثقاله سره زر د نجلۍ پلار ته ورکوي؟ دلته خو د نجلۍ سپکاوی شوی او دا معاوضه بايد دې ته ورکړی شي نه پلار ته ئې؟
- د زنا په اړه د يوه کس ادعاء څنګه د منلو وړ ګڼل کېدی شي؟ قاضي به د ده کومو الفاظو ته اعتبار ورکوي؟ اصولاً خو بايد له مدعي وغوښتل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د خپلې ادعاء د اثبات لپاره شواهد او دلائل وړاندې کړي، نه دا چي مدعی علیه له ځان د دفاع په خاطر د مدارکو او شواهدو په وړاندې کولو مکلف شي، بایبل ولې له یوې خوا مېړه ته د دې فرصت په لاس ورکوي چي که ئې خپله ښځه خوښه نه شوه نو په نه پېغلتوب ئې تورنه کړي او له بلې خوا د قاضي په وړاندې د دلائلو او مدارکو په وړاندې کولو ئې هم نه مکلفوي او دا ترې نه غواړي چي خپله ادعاء ثابته کړه؟!!

- که په ښار کې اختطاف شوې نجلۍ ووایي چي ما چیغې ووهلې خو څوك مې مرستې ته رانه غی، بیا څنګه؟ او که په صحرا کې اختطاف شوې چیغې نه وي وهلې نو څنګه؟

- موږ دې ته حیران یو چي د ښځو په حق کې له دومره بې انصافۍ او ظلم سره سره د بایبل منونکي په کومه خوله او کومو سترګو د ښځو د حقوقو خبره کوي، بایبل خو په ټولو مواردو کې د ښځې حقوق تر پښو لاندې کړي او هغې ته ئې په سپکه سترګه کتلي، د بایبل منونکي دې موږ ته د خپل سپېڅلي کتاب یوه جمله داسې راوښیي چي ښځې ته ئې په درنه سترګه کتلي وي او له نارینه سره ئې برابر حقوق ورکړي وي!! عجیبه ده چي دوی پر اسلام اعتراض کوي په داسې حال کې چي اسلام ښځې ته تر نارینه زیات حقوق ورکړي.

راشئ قرآن ته غوږ شئ چي په داسې مواردو کې څومره دقیقې لارښوونې لري او وایي:

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ أَزۡوَٰجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمۡ فَشَهَٰدَةُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَحَدِهِمۡ أَرۡبَعُ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٦ وَٱلۡخَٰمِسَةُ أَنَّ
لَعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٧ وَيَدۡرَؤُاْ عَنۡهَا
ٱلۡعَذَابَ أَن تَشۡهَدَ أَرۡبَعَ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٨
وَٱلۡخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَآ إِن كَانَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٩

النساء: ٦-٩

او هغه چي خپلي مېرمني تورنوي په داسي حال کي چي له ځان پرته (نور) شاهدان نه لري نو د يوه ئي گواهي دا ده: څلور ځلي الله شاهد نيول چي دی يقيناً له رښتينو دئ او پنځم ئي دا چي که دی له دروغجنو وي نو پر ده دي د الله لعنت وي، او له هغي (مېرمني) دا (خبره) عذاب دفع کوي چي څلور ځلي الله شاهد ونيسي چي يقيناً دی له دروغجنو دئ او پنځم ئي دا چي که دی له رښتينو وي نو پر دې دي د الله غضب وي.

د دې مبارکو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- څوک چي خپله مېرمن په زنا تورنوي په داسي حال کي چي له ځان پرته بل شاهد نه لري؛ نو د قاضي په وړاندي به د ده گواهي داسي وي چي څلور ځلي به الله تعالی پر دې خبري شاهد نيسي چي دی په خپلي ادعاء کي رښتينی دئ او پنځم ځل به وايي: که دی له دروغجنو وي نو پر ده دي د الله لعنت وي.
- له تورني مېرمني په هغه صورت کي عذاب دفع کېږي چي څلور ځلي

(c) ketabton.com: The Digital Library
ووايي: الله شاهد دئ چي دی له دروغجنو دئ او پنځم ځل ووايي: كه دی له رښتينو وي نو پر دې دي د الله غضب وي.

- دلته څلور ځلي الله تعالی شاهد نيول د څلورو شاهدانو د شهادت پر ځای او د هغوی د بدل او عوض په توگه راغلي، او دا خبره كول چي كه دی دروغجن وي نو پر ده دي د الله تعالی لعنت وي د تأكيد په توگه راغلي.

- دا حكم په مېړه او مېرمني پوري تړلی دئ او نورو مواردو ته نشي غزېدی.

- دلته الله تعالی شاهد نيول د قسم او لوړي په معنی راغلی او دا ښيي چي په حقيقت کي هر قسم او لوړه د شاهد نيولو په معنی وي، كه تاسو د قرآن قسمونو ته ځير شئ نو درته جوته به شي چي د قرآن قسمونه د دې لپاره نه دي چي گواکي الله تعالی د خپل مخاطب د اقناع او تشويش رفع كولو لپاره په كوم ستر او با عظمته شي لوړه كړې!! دا نه د قسم د مفهوم او معنی په اړه صحيح تعبير دئ او نه د قرآن د قسمونو سم تفسير، د قرآن هر قسم د استشهاد لپاره دئ، زموږ قسمونه هم د استشهاد لپاره وي، كله چي موږ وايو: پر الله تعالی قسم كوم چي رښتيا وايم؛ معنی ئې دا ده چي الله تعالی شاهد دئ چي زه رښتيا وايم، كه قسم د تعظيم لپاره وی نو بيا خو به دا هم جائزه وه چي ووايو: په مسجدالحرام قسم، په قرآن قسم، پر پيغمبر قسم، داسي قسمونه نه يوازي جائز نه دي بلکي صحيح هم نه دي، دا ځكه چي دا شيان (مقسم به) زما د رښتينولۍ شاهد او گواه نه دي، يوازي الله تعالی زما په اړه شاهد كېدی شي، نو يوازي پر الله تعالی لوړه او قسم د

(c) ketabton.com: The Digital Library
معنی او مفهوم له پلوه صحيح او له شرعي پلوه جائز دئ. په بل څه قسم د معنی له پلوه غلط او له شرعي پلوه ناجائز دئ. الله تعالی چي په کومو شيانو لوړه کړې هغه ئې د شاهد په توګه وړاندي کړي، د مثال په توګه الله تعالی په هغه سيند لوړه کړې چي د فرعونيانو په مړو ډك شو (والبحر المسجور)، او د دې مقصد دا دئ چي: د فرعونيانو په مړو ډك بحر ګواهي ورکوي چي که د زمانې د هر فرعون په وړاندي د موسی په څېر مجاهد راپيدا شو نو د دې فرعون برخليك به داسي وي لکه د مخکني فرعون.

د دې مبارکو آيتونو په معنی د لازيات پوهېدا لپاره لاندي روايات په پام کي ولرئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ هِلاَلُ بْنُ أُمَيَّةَ وَهُوَ أَحَدُ الثَّلاَثَةِ الَّذِينَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ فَجَاءَ مِنْ أَرْضِهِ عَشِيًّا فَوَجَدَ عِنْدَ أَهْلِهِ رَجُلاً فَرَأَى بِعَيْنَيْهِ وَسَمِعَ بِأُذُنَيْهِ فَلَمْ يَهِجْهُ حَتَّى أَصْبَحَ ثُمَّ غَدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى جِئْتُ أَهْلِى عِشَاءً فَوَجَدْتُ عِنْدَهُمْ رَجُلاً فَرَأَيْتُ بِعَيْنِى وَسَمِعْتُ بِأُذُنِى فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم مَا جَاءَ بِهِ وَاشْتَدَّ عَلَيْهِ فَنَزَلَتْ (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلاَّ أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ) الآيَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا فَسُرِّىَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « أَبْشِرْ يَا هِلاَلُ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَكَ فَرَجًا وَمَخْرَجًا ». قَالَ هِلاَلٌ قَدْ كُنْتُ أَرْجُو ذَلِكَ مِنْ رَبِّى. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « أَرْسِلُوا إِلَيْهَا ». فَجَاءَتْ فَتَلاَ عَلَيْهِمَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم وَذَكَّرَهُمَا وَأَخْبَرَهُمَا أَنَّ عَذَابَ الآخِرَةِ أَشَدُّ مِنْ عَذَابِ الدُّنْيَا فَقَالَ هِلاَلٌ وَاللَّهِ لَقَدْ صَدَقْتُ عَلَيْهَا فَقَالَتْ قَدْ كَذَبَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم «لاَعِنُوا بَينهما ». فَقِيلَ لِهِلاَلٍ اشْهدْ. فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قِيلَ لَهُ يَا هِلاَلُ اتَّقِ اللَّهَ فَإِنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ وَإِنَّ هَذِهِ الْمُوجِبَةُ الَّتِى تُوجِبُ عَلَيْكَ الْعَذَابَ. فَقَالَ وَاللَّهِ لاَ يُعَذِّبُنِى اللَّهُ عَلَيْهَا كَمَا لَمْ يَجْلِدْنِى عَلَيْهَا. فَشَهِدَ الْخَامِسَةَ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ثُمَّ قِيلَ لَهَا اشْهَدِى. فَشَهِدَتْ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قِيلَ لَهَا اتَّقِى اللَّهَ فَإِنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ وَإِنَّ هَذِهِ الْمُوجِبَةُ الَّتِى تُوجِبُ عَلَيْكِ الْعَذَابَ. فَتَلَكَّأَتْ سَاعَةً ثُمَّ قَالَتْ وَاللَّهِ لاَ أَفْضَحُ قَوْمِى فَشَهِدَتِ الْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ فَفَرَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم بَيْنَهُمَا وَقَضَى أَنْ لاَ يُدْعَى وَلَدُهَا لأَبٍ وَلاَ تُرْمَى وَلاَ يُرْمَى وَلَدُهَا وَمَنْ رَمَاهَا أَوْ رَمَى وَلَدَهَا فَعَلَيْهِ الْحَدُّ وَقَضَى أَنْ لاَ بَيْتَ لَهَا عَلَيْهِ وَلاَ قُوتَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُمَا يَتَفَرَّقَانِ مِنْ غَيْرِ طَلاَقٍ وَلاَ مُتَوَفًّى عَنْهَا وَقَالَ ...

له ابن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چي هلال بن اميه، يو له هغو دريو چي الله تعالی د هغوی توبه قبوله کړه، له خپلي زمکي ماخستن راغی او د خپلي مېرمني خوا ته ئي يو سړی وموند، په خپلو سترگو ئي وليد او په خپلو غوږونو ئي د هغه غږ واورېد، نو هيجاني ئي نه کړ، تر هغه چي سبا شو او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورغی او وئي ويل: يا رسول الله! زه ماخستن خپل اهل ته راغلم نو د هغوی خوا ته مي يو سړی وموند، په خپلو سترگو مي وليد او په خپلو غوږونو مي غږ واورېد، رسول الله صلی الله عليه و سلم د ده په دې وينا ناراض شو او سخته پرې تمامه شوه، نو دا دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیتونه نازل شول: (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ ....)، نو له رسول الله صلی الله علیه و سلم د وحي لړی جلا شوه او وئې ویل: اې هلاله! خوښ اوسه چي الله تا ته له کړاو د وتلو لار پرانیسته، هلال وویل: له خپل رب مي همدا انتظار وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هغې ته ځوك ولېږئ، او هغه راغله، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم دواړو ته دا آیتونه تلاوت کړل، نصیحت ئې ورته وکړ او په دې ئې پوه کړل چي د دنیا تر عذاب د آخرت عذاب ډېر سخت دئ، نو هلال وویل: په الله قسم چي ما د دې په اړه رښتیا ویلي، هغې وویل: یقیناً چي دروغ ئې وویل، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د دوی تر منځ ملاعنت وکړئ، نو هلال ته وویل شول: شهادت ووایه، نو هغه څلور ځلي الله شاهد کړ چي دی رښتینی دئ او کله چي پنځم ته خبره ورسېده ورته وویل شول: اې هلاله! له الله ووېرېږه، په دې پوه شه چي د دنیا عذاب د آخرت په پرتله ډېر آسان دئ، او دا قسم هغه سبب دئ چي هغه عذاب به دي په برخه کړي، وئې ویل: قسم په خدای چي الله به مي د دې په اړه نه تعذیبوي؛ همداسي لکه چي د دې په اړه مي په درو نه وهي، نو پنځم ځل ئې خدای شاهد ونیو چي که دی دروغجن وي نو د الله لعنت دي پر ده وي، بیا هغې ته وویل شول: ته خپل شهادت وړاندي کړه، نو هغې څلور ځلي خدای شاهد ونیو چي دی دروغجن دئ او کله چي پنځم ته خبره ورسېده ورته وویل شول: له الله ووېرېږه، په دې پوه شه چي د دنیا عذاب د آخرت په پرتله ډېر آسان دئ، او دا قسم هغه سبب دئ چي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عذاب به دي په برخه کړي، نو يوه شېبه ودرېده او زړه نا زړه شوه، بيا ئې وويل: قسم په خدای چي زه به خپل قوم رسوا نکړم، نو پنځمه لوړه ئې وکړه او وئې ويل: که دی رښتينی وي نو پر ما دي د الله غضب وي، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم دوی سره بېل کړل (نکاح ئې فسخ کړه) او دا پرېکړه ئې وکړه چي د دې بچی به هيڅ پلار ته نه منسوبېږي، نه به دا تورنه کېږي او نه ئې زوی، او چا چي دا تورنه کړه يا ئې د دې زوی تورن کړ نو پر هغه به حد لازمېږي، او دا پرېکړه ئې وکړه چي نه ئې پر مېړه کور ورکول شته او نه نفقه، له دې کبله چي دوی له طلاق پرته سره بېلېږي او مېړه نه دئ ترې وفات شوی...

سنت دا دئ چي د داسي مېړه او مېرمني تر منځ به له دغو قسمونو وروسته بېلوالی راځي او نکاح ئې فسخ کېږي، مېړه د مهر بېرته اخيستو حق هم نه لري. د دوی تر منځ بيا نکاح هم جائز نه ده. د لعان دا معامله به په محکمې کي او د قاضي په وړاندي ترسره کېږي. له لعان د تورن يا تور لګوونکي اجتناب د اعتراف په معنی دئ، خو قاضي به هغه مهال سزا ورکوي چي په خپلي خولې اعتراف وکړي، تر هغه ئې د بندي ساتلو حکم کولی شي، دا ځکه چي د سزا لپاره يا شاهد يا اعتراف اساسي شرط دئ.

د لعان په اړه د فقهاوو تر منځ اتفاقي ټکي دا دي:

- تورن او تورلګوونکي ته د قاضي له لوري کومه سزا نشي ورکول کېدی، دواړه له سزا معاف ګڼل کېږي، دروغجن ته به الله تعالی سزا ورکوي.
- که نارينه د ماشوم نسبت ځان ته ونه مني نو هغه به مور ته منسوبېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پلاره د میراث مستحق نه ګڼل کېږي.

- هیڅوك حق نه لري دې ماشوم ته ولد الزنا ووایي او مور ئې زناکاره وبولي، که څوك دا کار وکړي د قذف سزا مستحق دئ.
- د مېرمني د مهر حق نه ساقطېږي.
- دا مېرمن پر مخکني مېړه د تل لپاره حرامه ده.

په دې اړه د فقهاوو تر منځ اختلافي ټکي دا دي:

- ځیني وایي: کله چي مېړه د لعان الفاظ بشپړ کړي په همدې سره طلاق واقع شو، که څه هم ښځي د ده ځواب نه وي ویلی.
- ځیني نور په دې باور دي چي د طلاق پرېکړه به د قاضي له لوري کېږي، خو که مېړه په خپله طلاق ورکړي دا غوره دئ. امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف په همدې رأیه دي او همدا صحیح او د سنت مطابق معلومېږي، ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی تر منځ د بېلېدو پرېکړه کړې او د هغه چا په عمل ئې اعتراض نه دئ کړی چي خپلي تورني مېرمني ته ئې د لعان په پای کي طلاق ورکړی، که طلاق په خپله واقع کېدی نو نه به رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی د بېلېدو مستقله پرېکړه کوله او نه به هغه صحابي د طلاق الفاظ کارول.
- که چا په لومړۍ شپه او له مجامعت مخکي خپله مېرمن طلاق کړه، که ئې مهر ټاکل شوی وي نو نیمایي مهر به ښځي ته ورکوي او که له مجامعت وروسته ئې طلاق کړه بشپړ مهر به ورکوي. که ئې مهر نه وو ټاکل شوی، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل وس او توان مطابق به مناسبه متاع او جامه ورکوي. قرآن د همدې لپاره د مهر حق ښځي ته ورکړی چي مېړه ئې په ناروا او د دې لپاره طلاق نه کړي چي تر دې ئې بله ښايسته موندلې، يا ئې زړه ترې تور شوی په بلې ئې بدلول غواړي، مهر ئې د ښځي په موافقې پوري مربوط کړی، ثابت حد ئې نه دئ ورته ټاکلی، دا مهر د دې راتلونکي تضمينوي، د دې ترڅنګ قرآن د زور او تېل شوې نکاح خبره نه کوي او له مېړه د طلاق حق نه سلبوي، دا کار د ګټي په ځای تاوان لري او کورنۍ له تلپاته کړاوونو، شخړو او ستونزو سره مخامخ کوي. که کوم مېړه خپله مېرمن په زنا تورنه کړي، شنګه به ئې د قاضي په امر له ځان سره ساتي او شنګه به دا مېرمن داسي مېړه ته زړه ورکوي او له هغه سره به ښه او ډاډمن ژوند کوي. د بې باورۍ او بې اعتمادۍ په صورت کي خو تر ټولو مناسبه چاره دا ده چي قاضي د طلاق پرېکړه وکړي نه دا چي د زور ملګرتيا په دواړو وتپي. د قرآن الفاظ دا دي:

لَّا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمۡ تَمَسُّوهُنَّ أَوۡ تَفۡرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلۡمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلۡمُقۡتِرِ قَدَرُهُۥ مَتَٰعَۢا بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٢٣٦ وَإِن طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدۡ فَرَضۡتُمۡ لَهُنَّ فَرِيضَةٗ فَنِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ إِلَّآ أَن يَعۡفُونَ أَوۡ يَعۡفُوَاْ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ عُقۡدَةُ ٱلنِّكَاحِۚ وَأَن تَعۡفُوٓاْ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۚ وَلَا تَنسَوُاْ ٱلۡفَضۡلَ بَيۡنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢٣٧

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې کې هم پر تاسو څه الزام او ګناه نشته چې ښځې له نږدې والی یا دوی ته د کوم مهر له ټاکلو وړاندې طلاقې کړئ، خو څه مال متاع ورکړئ، په توانمن د خپل توان په اندازه او په نېستمن د خپل وس په اندازه، مناسبه متاع په غوره توګه، دا یو حق دئ پر محسنینو. او که مو له نږدې والي د مخه هغه وخت طلاقې کړې چې کوم مهر مو ورته ټاکلی وي نو د دې مهر نیمایي دئ، مګر دا چې هغوی (ښځې) ترې تېرې شي او یا هغه کس تېر شي چې د نکاح غوټه ئې په لاس کې ده او که عفو وکړئ، دا تقوی ته نږدې ده او په خپلو کې فضل او احسان مه هېروئ، بې شکه چې الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ.

یعني که له نږدېوالي او صحیحه خلوت وړاندې په هغه وخت کې ښځې طلاقې کړئ چې لا مو مهرنه دئ ورته ټاکلی، نو په دې صورت کې نه کوم مکلفیت درپه غاړه دئ او نه دا د ګناه کار دئ، خو دغو ښځو ته د خپل وس او توان په اندازه څه ورکړئ، په دې سره به د دواړو کورنیو ترمنځ د تاو تریخوالي مخه نیول شوې وي او له بلې خوا به د هغې ښځې تسلي شوې وي، خو که مهر مو ورته ټاکلی وو، نو بیا د دغه ټاکلي مهر نیمایي دربانديي لازم دئ، مګر دا چې ښځه ترې تېره شي او یا دا چې نارینه پاته نیمایي هم ورکړي، همدغه یو بل ته عفو، له خپل حق بل ته تېرېدل او فضل او احسان کول درته غوره دي.

قرآن نه د نجلۍ پلار او مور په دې مکلفوي چې د خپلې لور د پېغلتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثابتولو لپاره کومه ټوټه وړاندي کړي او نه مېږه په دې مکلفوي چي د نجلۍ پلار ته جريمه ورکړي او همدا مېړمن حتماً او په نه زړه له ځان سره وساتي.

د قانون منع خشونت عليه زنان په (۳) مادې کي راغلي: (تجاوز جنسي: ارتکاب فعل زنا يا لواط با زن بالغ توأم با اجبار و اکراه يا ارتکاب آن با زن نابالغ و يا تجاوز بر عفت وناموس زن است) يعني يوازي اجباری زنا او لواطت جرم گڼل شوی او سزا ئې هم په يوه حالت کي حبس او په بل حالت کي مرگ ټاکلی، د دې قانون د ليکونکو او مدافعينو جسارت او سپين سترگتوب د حيرانتيا وړ دئ، ښايي داسي انگېري چي د صليبي ځواکونو دولس کلن حضور او د دوی پراخ دين دښمن فعاليتونه به د دې باعث شوي وي چي د افغان ولس ديني غيرت ذوب شي او اوس د دې وخت رارسېدلی چي داسي د اسلام ضد قوانين پر دې ټولني تحميل شي، که پر ارگ ناستو ئې لاسليك کولی شي نو له ولسي جرگې ئې هم تأييد ترلاسه کولی شي، ځوك چي په افغانستان کي د امريکايانو حضور، د دوی اډې، زندانونه، د افغانانو نيول او د خپلو اډو په زندانونو کي د هغوی ساتل، گوانتانامو ته د هغوی انتقال او له امريکا سره اوږد مهال امنيتي تړون منلی شي، امريکايانو ته دا لاسليك شوي اسناد ورکولی شي چي حق لري افغانستان ته له وېزې او پاسپورت پرته راشي او ترې ولاړ شي، په هر وخت او د افغانستان په هر ځای کي د شپې يا ورځي له لوري عمليات ترسره کړي، هر هغه ځوك نيولی شي چي دوی ئې دښمن گڼي، هغوی ته به دا څه گرانه وي چي له دغه قانون سره يا موافقه وکړي او يا ئې په وړاندي ساکت پاته شي!! مگر د دې مفسد رژيم لاس پوڅو چارواکو

(c) ketabton.com: The Digital Library
د غلامۍ دا ټول اسناد نه دي لاسليك كړي؟!! آيا كرزي د خپلو كمونيستو او غربپالو مشاورينو په سپارښتنه دا قانون توشيح نه كړ؟!! آيا د شمالي ټلوالي ذليل مشران په واز كومي نه وايي چې د ناټو حضور د افغانانو په گټه دئ؟!!

خو دا چې آيا له عقلي، علمي، اخلاقي او فطري پلوه زنا ته د جرم په سترگه كتلى شو كه نه او هغه سزا ورسره ښايي كه نه چې اسلام ورته ټاكلې؟ دې پوښتني ته له ځواب وړاندي ځو خبري ستاسو مخې ته ږدم، د قرآن دې آيت ته ځير شئ:

ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجْلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنْهُمَا مِاْئَةَ جَلْدَةٖۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأٓخِرِۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝٢ النور: ٢

زناكاره ښځه او زناكار نارينه؛ د دوى هر يو سل درې ووهئ، او د الله په دين كې دې تاسو د دوى په اړه زړه سوى نه نيسي، كه پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان لرئ، او د دوى عذاب دې د مؤمنانو يوه ډله وگوري.

د دې لپاره چې دا مبارك آيت د زنا او زناكارو د سزا په څېر مهمې او حساسې انساني قضيې په اړه بحث كوي، بايد په وړاندې ئې لږ توقف وكړو او ټولو هغو پوښتنو ته دقيق ځواب ولټوو چې په دې اړه وړاندې كېږي، لكه دا پوښتني: آيا زنا ته د جرم په سترگه كتل صحيح دي؟ په ځانگړې توگه هغه مهال چې د دواړو لوريو په توافق ترسره شي، او هغه هم په داسې حال كې چې دواړه مجرد وي او د كومې نكاح په قيد او شرط كې نه وي داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library
شوي؟ دا له کومه پلوه جرم دئ؟ له مذهبي پلوه جرم دئ، که له فطري او انساني پلوه، که له اخلاقي او رواني پلوه او که دا د بل په حق تېری دئ نو ځکه جرم ګڼل کېږي، او که دا د ټولني له حاکم او منل شوي قانون تېری دئ نو د جرم اطلاق پرې کېږي؟ که ومنو چي دا جرم دئ آیا دا سزا ورسره مناسبه او عادلانه ده؟ آیا د خلکو په وړاندي یو مجرم په درو وهل مناسب کار دئ؟ دغو او دې ته ورته پوښتنو ته باید معقول او د منلو وړ ځوابونه ولټوو. د آیت په مفهوم د ښه پوهېدو او بیا اړونده پوښتنو ته د صحیح ځواب ویلو لپاره باید تر ټولو وړاندي لاندي خبري په پام کي ولرو:

- قرآن هغه جنسي مباشرت ته د زنا نوم ورکړی چي د سړي او ښځي تر منځ په نامشروع او غیر قانوني توګه ترسره شي، مباشرت ئې مشروع مباشرت ته ورته او له فطري لارو وي خو له نکاح پرته وي، که دا د مجردو تر منځ وي او که د متأهلو تر منځ، د زنا اطلاق پر نورو جنسي کړنو نشي کېدی، که دا د نارینه او نارینه تر منځ وي او که د نارینه او ښځي تر منځ له غیر فطري لاري، او که د انسان او حیوان تر منځ او یا له نورو لارو د جنسي غریزې اشباع، د هر جنسي شذوذ او جرم لپاره بېل بېل نوم ټاکل شوی.
- ټول مفسرین او فقهاء په دې متفق دي چي په دې آیت کي هغه زناکار نارینه او زناکاري ښځي ته اشاره شوې چي واده ئې نه وي شوی. خو په دې اړه د دوی تر منځ اختلاف تر سترګو کېږي چي د اختصاص وجه څه ده، د قرآن کوم آیت د اختصاص منشأ ده که کوم روایت او د رسول الله صلی الله علیه و سلم عمل؟ آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library
اړه ببله وحي شوې که د قرآن له لارښوونو ئې دا حکم استنباط کړی؟ څو که د همدې آیت ترکیب او د ورپسې آیت الفاظو ته ځېر شو نو راته جوتېږي چې د دې اختصاص منشأ په خپله همدا آیتونه دي، د لومړي آیت له فحوی داسي معلومېږي لکه چې رسول الله **صلی الله علیه و سلم** ته د دې آیت تر نزول وړاندي د زنا قضیه وړاندي شوې وي، هغه په دې اړه پرېکړه د الهي لارښووني راتلو ته ځنډولي وي، ځکه (الزاني) او (الزانية) معرفه صيغې دي او په هغه چا ئې اطلاق کېږي چې له وړاندي پرې خبره شوې وي، د النساء د سورې هغه آیت چې وايي:

**وَٱلَّٰتِي يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمۡ فَٱسۡتَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِنَّ أَرۡبَعَةً مِّنكُمۡۖ** ... النساء: ١٥

او ستاسو هغه مېرمني چې فحش کار (زنا) کوي، نو په دوی باندي له خپل منځ څلور شاهدان (د شهادت ورکولو لپاره) وغواړئ...

دا حکم د زنا د حد له تعیین مخکي ابتدائي حکم دئ، او همدا د النور د سورې د دغه آیت لپاره مقدمه ګڼل کېږي، که داسي نه وی نو بیا به داسي ویل کېدل: که څوك زنا وکړي نو سزا به ئې دا وي. په ورپسې آیت کې د همدې (الزاني) په اړه ویل شوي چې دا یوازې زناکاره یا مشرکه ښځه نکاح کوي، او دا (الزانية) یوازې له زناکار او مشرك سره نکاح کوي. له دې الفاظو په لازیات وضاحت سره معلومېږي چې خبره د هغه چا په اړه ده چې لا ئې نکاح نه ده شوې او متأهل نه دئ، د داسي زناکار سزا سل درې ده. دلته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library
پوښتنه راولاړېږي چي د واده شوي نارينه او ښځي سزا څه ده او د حکم منشأ ئې د قرآن کوم آيت دئ که کوم روايت او که پيغمبر **صلی الله عليه و سلم** دې ته په پام سره دا حکم کړی چي په مخکني الهي شريعت کې ئې همدا حکم وو؟ مفسرين او فقهاء په دې اړه هم متفق دي چي سزا ئې رجم (سنگساروول) دي، خو په دې اړه بېل بېل آراء لري چي د حکم منشأ څه ده، البته د خوارجو ځيني ډلي د رجم له حکم منکر دي، دقيقه رأيه دا ده چي رسول الله **صلی الله عليه و سلم** دې ته په پام سره چي د مجرد زناکار سزا سل درې ده نو طبيعي ده چي د متأهل زناکار سزا به تر دې زياته وي، دا سزا همغه ده چي په مخکني شريعت کې راغلې او قرآن هغه نه ده منسوخ کړې. همغسي لکه چي د آزادي ښځي او وينځي سزا توپير لري، وينځي ته د دې لپاره چي محدوديتونه ئې تر آزادي زيات دي، د خپلي خوښي نکاح ئې نه ده په برخه شوې نو سزا ئې تر آزادي نيمه ټاکل شوې.

دې ته مو پام وي چي د الاحزاب د سورې په اړه يو داسي روايت هم تر سترگو کېږي چي وايي: دا سوره په سر کې دومره اوږده وه لکه د البقره سوره، د رجم آيت هم د دې سورې يو آيت وو، خو نور آيتونه ترې حذف شوي او يوازي ۷۳ آيتونه ئې پاته شوي!! راشئ وگورو چي دا روايت څومره د اعتبار وړ دئ، روايت داسي دئ:

عن زر بن حبيش قال : قال لي أبي بن كعب : كم تعدون سورة الأحزاب؟ فقلت: نعدها اثنتين أو ثلاثا وسبعين آية قال : « إن كانت لتوازي سورة البقرة ، ولقد كان فيها : الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا، فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ نَكَالًا مِنْ اللَّهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ » تحفة ٢٢ معتلى ٢٤ مسند احمد

له زر بن حبيش روايت دئ چي وايي: ابی بن کعب راته وويل: د الاحزاب سوره څومره ګڼئ؟ ومي ويل: دوه اويا يا دري اويا آيتونه، وئې ويل: يقيناً چي دا د بقره له سورې سره برابره وه، او يقيناً چي په دې کي دا هم وو: سپين ږيری او سپين سرې چي زنا وکړي نو دواړه حتماً سنګسار کړئ، د الله له لوري يوه عبرتناکه سزا، او الله باحکمت عزتمن دئ.

دا مطلب په ځينو نورو رواياتو کي هم له ځينو توپيرونو سره راغلی، لکه دا روايت:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ : قَدْ خَشِيتُ أَنْ يَطُولَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ مَا نَجِدُ الرَّجْمَ فِى كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ أَنْزَلَهَا اللَّهُ عز وَجَلَّ أَلاَ وَإِنَّ الرَّجْمَ حَقٌّ إِذَا أَحْصَنَ الرَّجُلُ وَقَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَمْلُ أَوِ الاعْتِرَافُ فَقَدْ قَرَأْنَاهَا : الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ وَقَدْ رَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ فِى الصَّحِيحِ عَنْ عَلِىِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ أَبِى بَكْرِ بْنِ أَبِى شَيْبَةَ وَغَيْرِهِ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ. السنن البيهقي

له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چي عمر رضی الله عنه وويل: له دې ووېرېدم چي پر خلکو زمانه اوږده شي تر هغه چي يو ويونکی ووايي: د الله په کتاب کي د رجم حکم نه مومو، نو د يوې داسي الهي فريضې په اړه بې لاري شي چي الله تعالی نازله کړې، پام چي رجم حق دئ، هغه مهال چي سړي واده کړی وي، ګواهي ورکړی شي، حمل واقع شي، يا اعتراف

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي، يقيناً چي موږ دا (آيت) لوستلی: سپين ږيری او سپين سرې چي زنا وکړي نو دواړه حتماً سنگسار کړئ، ... او يقيناً چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د رجم حکم اجراء کړی او تر ده وروسته موږ د رجم حکم اجراء کړی.

دا روايات گڼ شمېر داسي ستونزي لري چي ښيي په هيڅ توگه د اعتبار وړ نه دي، ځيني ئې دا دي:

- وايي: دا (الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا، فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ نَكَالًا مِنْ اللَّهِ وَاَللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) د الاحزاب د سورې يو آيت وو چي حکم ئې پاته او الفاظ ئې حذف شوي!! حال دا چي دا ادعاء په بشپړه توگه بې بنسټه ده، ځکه د الاحزاب د سورې د ټولو آيتونو فواصل د لومړي او دوهم آيت (حکيماً) او (خبيراً) ته ورته دي، يوازي څلورم آيت ئې په (السبيل) پای ته رسېدلی، خو دا آيت په حقيقت کي له وروستي سره داسي تړلی دئ چي په گډه يو آيت ترې جوړېږي او په (رحيماً) پای ته رسي. خو پورتنی مضمون په وَاَللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ پای ته رسېدلی!!! او د دې مضمون آخري برخه په اصل کي د مائدې د سورې د ۳۸ آيت وروستۍ فقره ده، د المائدې د آيتونو فواصل دغو صيغو ته ورته دي: خاسرين، رحيم، قدير، يريد، تشكرون، صدور او عقاب، اکثر آيتونه ئې خاسرين ته په ورته صيغو پای ته رسېدلي چي حکيم، رحيم، قدير او يريد ته هم ورنږدې دي.
- قرآن خپل ځانگړي اصطلاحات لري، د نکاح شوي سړي او ښځي لپاره د محصن او محصنة الفاظ کاروي، د دوی لپاره د قرآن په هيڅ آيت کي د الشيخ او الشيخة الفاظ نه دي راغلي، دا الفاظ نه يوازي په قرآن کي نه دي راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library
بلکي دلته ئې کارول جدي التباس رامنځته کوي، ځکه معنی ئې داسي کېږي چي که نارینه او ښځینه په زړښت کي زنا وکړي نو رجم کېږي به!! یعني رجم په زړښت پوري تړي نه په نکاح پوري!! او دا هم له قرآن سره تعارض لري او هم له عدل او عقل سره.

- همدا راز د قرآن په هیڅ آیت کي د (البتة) لفظ نه تر سترګو کېږي.
- دا رأیه د الله تعالی د هغي ژمني خلاف ده چي د قرآن د حفاظت په اړه ئې کړې، دا شك راولاړوي چي ښايي د قرآن ډېري برخي به حذف شوې وي!! صحیح او دقیقه رأیه دا ده چي د قرآن یو حرف هم نه دئ حذف شوی، یوه برخه یا ګڼ شمېر آیتونه خو ئې پرځای پرېږدئ.
- د قرآن د آیتونو تر منځ دومره ژور نظم او تړاو مراعات شوی چي که یو لفظ ئې حذف یا بدل شي نظم او ښکلا ئې صدمه ګوري، داسي لکه د مرغلرو یو ښکلی هار چي تار ئې وشلېږي او مرغلري ئې خورې شي، څوك چي له قرآن سره آشنا وي پوهېږي چي نه له قرآن څه حذف شوي او نه پورتنی مضمون د قرآن له آیتونو سره د محتوی، ادبي ترکیب، ښکلا او ښایست له پلوه ورته والی او شباهت لري. هیڅ په قرآن پوه انسان به دا ادعاء ونه مني چي له قرآن څه حذف شوي.
- ټولو صحابه وو پر دې اجماع کړې چي پر رسول الله **صلی الله علیه و سلم** نازل شوی قرآن همدغه دئ چي په اوسني مصحف کي راغونډ شوی، د دوی دا اجماع کافي ده چي ووایو داسي روایات په بشپړه توګه بې اعتبار دي چي وايي د قرآن کومه برخه حذف شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د دې روايت په اړه د ابوعبدالرحمن رأيه هم واورئ چې وايي: لا أعلم أن أحدا ذكر في هذا الحديث الشيخ والشيخة فارجموهما البتة غير سفيان وينبغي أنه وهم والله أعلم: له سفيان پرته بل داسي څوك نه پېژنم چې په دې حديث کې ئې دا خبره هم ذکر کړې وي چې که بوډا او بوډۍ زنا وکړي دواړه رجم کړئ، ښايي ده به وهم کړی وي، الله تعالی ښه پوهېږي.
- دې ته مو هم پام وي چې ټول مفسرين او فقهاء په دې اړه متفق دي چې د محصن زناکار سزا رجم (سنگسارول) دي. خو په دې اړه بېل بېل آراء لري چې د دې حکم منشأ څه ده، دقيقه رأيه دا ده چې رسول الله **صلی الله عليه و سلم** دې ته په پام سره محصن زناکار د رجم په سزا محکوم کړی چې د مجرد زناکار سزا سل درې ده نو طبيعي ده چې د متأهل زناکار سزا به تر دې زياته وي، او دا به همغه سزا وي چې په مخکني شريعت کې راغلې او قرآن هغه نه ده منسوخ کړې. همغسي لکه چې د آزادي ښځې او وينځې سزا توپير لري، وينځې ته د دې لپاره چې محدوديتونه ئې تر آزادې زيات دي، د خپلې خوښې نکاح ئې نه ده په برخه شوې نو سزا ئې تر آزادې نيمه ټاکل شوې. د دې تفصيل د النور د سورې د دوهم آيت په تفسير کې وگورئ.

د دغو زناکارو سزا داسي ټاکل شوې: (فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ: هر يو ئې سل درې ووهئ)، جلد پوستکي ته وايي، خو دا چې دلته ئې مراد له پوستکي جوړه شوې متروکه ده که مجرم داسي وهل چې يوازي پر خپل پوستکي درد احساس کړي او غوښې او هډوکو ته ئې سرايت ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library
کړي او داسي ونه وهل شي چي غوښه ئې زخمي یا هډوکی ئې ښین شي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت معلومېږي چي په دې وینا کي دا دواړه خبري نغښتي دي. متروکه به د څرمني وي، نه به ډېره کلکه او ځیږه وي او نه ډېره نرمه او پسته، وهل به داسي وي چي د وهونکي لاس دومره لوړ نشي چي تخرګ ئې معلوم شي، د متروکي په وهلو کي به نه ډېر زور کاروي او نه به ئې سوکه سوکه وهي، پر سر، مخ او نازکو ځایونو به له وهلو ډډه کوي، هڅه به ئې دا وي چي پر یوه ځای څو واري ګوزار ونه کړي.

- مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي د الله په دین کي دي تاسو ته د دغو مجرمینو د مجازات په اړه زړه سوی لاحق نشي، پر الله او د آخرت پر ورځي د ایمان تقاضا همدا ده، دا ځکه چي دا حکم د الله تعالی له لوري دئ، او الله تعالی د قیامت ورځ د محاسبې او مجازات لپاره ټاکلې، یعني ستاسو رب محاسبه کوي او مجرم ته سزا ورکوي، پر محاسبه کوونکي او مجازات کوونکي رب د ایمان غوښتنه دا ده چي مجرم ته د هغه له حکم سره سم سزا ورکړی شي، نه زیاته نه کمه، د مجرم په مجازات کي به د خپلو شخصي احساساتو او عواطفو تر اغېز لاندي نه راځئ، نه به ستاسو زړه سوی په حد کي تخفیف او کمی راولي او نه به مو قهر او غصه په هغه کي د زیاتوالي او شدت باعث کېږي.
- دا لارښوونه هم ورته شوې چي د دوی عذاب دي د مؤمنانو یوه ډله وګوري. یعني دا مجازات باید علني وي نه په پټه او د ټولو دروازو تر شا، یوه ډله مؤمنان باید د مجازات صحنه په خپلو سترګو وګوري. دلته څو خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library
باید په پام کې ولرو: د صحنې لیدونکي باید د مؤمنانو یوه ډله وي، او د دې معنی دا ده چې دا مجازات به دومره هم علني نه وي چې حتی کافران ئې هم ولیدی شي، داسې چې په آزاد میدان کې او په بشپړه توګه علني مجازات شي، یا د مجازات صحنه په ټلویزیون کې وښودل شي، بلکه یوازې د مؤمنانو یوه ډله به دا صحنه ګوري. په دې څرګند مجازات کې ځیني مصلحتونه مضمر دي، د نورو لپاره د عبرت باعث کېږي، د اصلي مجرم او د نورو جسارت له منځه وړي، د قاضیانو د غلطو تصرفاتو مخنیوی کوي، پټ مجازات هم مجرم ته دا مجال ورکوي چې ځان پاك لمنی وښیي او هم واکمنانو ته دا امکان په لاس ورکوي چې د رشوت په بدل کې مجرم له مجازات وژغوري. دا د ټولنې حق دئ چې هغه مجرم وپېژني چې د نورو پر حقوقو تېری کوي، تر څو له هغه سره په خپلو معاملاتو کې محتاط وي، او له خطره ئې ځان وساتي. دا قطعاً د منلو وړ خبره نه ده چې د یوه مجرم د پت او عزت لپاره ټولنه له ګواښ سره مخامخ شي. داسې جرم چې په بشپړه توګه شخصي بڼه لري، بل ته ئې ضرر نه وي متوجه، په پټه تر سره شوی وي، او مخصوصاً چې هغه محکمې ته هم نه وي راجع شوی، په داسې جرم پرده اچول او په هغه کې د مجرم د پت او عزت خیال ساتل نه یوازې مانع نه لري بلکې غوره کار دئ او اسلام پرې تأکید کوي، خو دا او هغه بل جرم په خپلو کې ژور توپیرونه لري او یو پر بل نشو قیاسولی.

- د دې لپاره چې دا موضوع او اړوند احکام ئې لازیات راته واضح شوي وي باید هغه روایات هم له نظره تېر کړو چې په دې اړه راغلي، خو تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library
وړاندي بايد دا وضاحت وکړو چي آيا د دغو زناکارو سزا يوازي همدا پورتنۍ سزا ده که اسلامي حکومت کولی شي څه پرې زيات کړي؟ ځيني په دې باور دي چي له دې سزا سره يو کلن تبعيد هم مل دئ، قاضي به د پورتنۍ سزا تر څنګ دا پرېکړه هم کوي چي زناکار تر يوه کال پوري له خپل مېشت ځای بلي سيمي ته په تلو مکلف کړي، دوی ځينو رواياتو ته په پام سره دا سزا واجب او د پورتنۍ ضميمه ګڼي، خو ځيني نور بيا دا د حد د سزا ضميمه نه بلکي داسي سزا ئې بولي چي د حاکم رأيي ته ئې محول کوي، چي که دا تبعيد د مجرم او ټولني لپاره غوره ورته معلوم شي نو داسي کار کولی شي. احنافو دغي رأيي ته ترجيح ورکړې او يقيناً چي صحيح رأيه همدا ده، په څو دلائلو: ۱- په آيت کي سزا ټاکل شوې، په دې آيت او د قرآن په نورو آيتونو کي د مزيد سزا لپاره شاهد نه مومو. ۲- هر تبعيد ته د سزا په سترګه نشو کتلی، د هغه زناکار لپاره چي په څرګنده مجازات شوی او له خلکو سره په جګو سترګو مخامخېدا ورته ګرانه شوې، دا غوره ده چي څه موده له خپلي سيمي بل ځای ته ولېږل شي، په بل ځای کي به دی هم له روحي فشار خوندي وي او د ده مخکنۍ ټولنه به هم له هغه ضرره خوندي وي چي د مجرم آزاد ګرځېدا ئې ورسره مخامخ کوي، دا ځکه چي د مجرم آزاد ګرځېدا د جرم په اړه حساسيت ورو ورو له منځه وړي او هغو کسانو ته جسارت بخښي چي د همداسي جرم شوق لري. لاندي روايت دا مطلب ډېر ښه توضيح کوي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : بَيْنَمَا أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه فِي الْمَسْجِدِ جَاءَهُ رَجُلٌ فَلَاثَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَلَيْهِ بِلَوَثٍ مِنْ كَلاَمٍ وَهُوَ دَهِشٌ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعمر رضِى اللّه عنه: قُم إِلِيهِ فَانْظُرْ فِي شَأنه فَإِنَّ لَهُ شَأنًا. فَقَامَ إِلَيهِ عُمَرُ رضى الله عنه قَالَ : إِنَّهُ ضَافَهُ ضَيْفٌ فَوَقَعَ بِابْنَتِهِ فَصَكَّ عُمَرُ رضى الله عنه فِي صَدْرِهِ وَقَالَ : قَبَّحَكَ اللَّهُ أَلاَ سَتَرْتَ عَلَى ابْنَتِكَ. قَالَ : فَأَمَرَ بِهِمَا أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه فَضُرِبَا الْحَدَّ ثُمَّ تَزَوَّجَ أَحَدُهُمَا مِنَ الآخَرِ وَأَمَرَ بِهِمَا فَغُرِّبَا عَامًا أَوْ حَوْلاً. رواه البيهقى

له ابن عمر رضى الله عنهما روايت دئ چي يوه ورځ په داسي حال کي چي ابوبکر رضى الله عنه په جومات کي وو يو سړی ورته راغی چي لالهانده او پرېشانه وو، خبري ئې هم ځرګندي او واضح نه وې، ژبه ئې بنده بنده کېده، نو ابوبکر رضى الله عنه عمر رضى الله عنه ته وويل: ورشه او حال ئې معلوم کړه، حتماً څه خبره ورسره ده، عمر رضى الله عنه ورغی او هغه ورته وويل: يو مېلمه ئې خپل کور ته راوست او هغه ئې له لور سره زنا وکړه، عمر رضى الله عنه هغه په سينه وواهو او ورته وئې ويل: خدای دي سپك کړه، ولي دي پر خپلي لور پرده وانه چوله!! ابوبکر رضى الله عنه دواړه راوغوښتل، دواړو پر خپلي ګناه اعتراف وکړ، پر دواړو حد جاري شو، خو د حد تر څنګ ئې هم دوی دواړه سره نکاح کړل او هم ئې تر يوه کال پوري تبعيد کړل. که غور وکړو نو د دې بدوي لپاره تر ټولو غوره کار دا وو چي لور او دغه مېلمه ئې سره کښېنولي وی، دواړو ته ئې ويلي وی چي تاسو دا غلطي وکړه، اوس نو په کار دا ده چي تاسو دواړه په خپلو کي نکاح وکړئ، ځکه له قانوني او شرعي پلوه نه ده په خپله سزا ورکولی شوی، نه ئې په محکمې کي دوی ته سزا ورکولی شوی، ځکه محکمې به يا څلور شاهدان ترې غوښتل يا به دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو اعتراف کولو، محکمې ته د دواړو بېول له دې پرته چې هغوی تنبیه شي ده ته کومه گټه ونه رسوله. د عمر رضی الله عنه په اړه دا روایت هم راغلی چې ویلي ئې دي: له دې وروسته به څوك تبعید نه کړم، دا خبره ئې هغه مهال وکړه چې یو مجرم ئې تبعید کړ او هغه رومیانو ته پناه یووړه. د علي رضی الله عنه په اړه هم راغلي چې له تبعید سره ئې مخالفت کړی. له دې روایاتو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې هغه رأیه کمزورې ده چې تبعید د حد ضمیمه او واجب گڼي.

خو دا چې آیا له عقلي، علمي، اخلاقي او فطري پلوه زنا ته د جرم په سترگه کتلی شو که نه او داسي سزا ورسره ښایي که نه؟ دې پوښتني ته له ځواب ورانديږ څو خبري ستاسو مخي ته ږدم: آیا وړو مرغیو ته مو پام کړی چي کله د الوتو شي نو دوه دوه سره جوړه شي، په یوې خوندي گوښې کې ځان ته په گډه ځاله جوړه کړي، د ژوند تر پایه سره ملگرې وي، تر منځ ئې وفا او مینه وي، ټول هم و غم ئې دا وي چي بچیان وزېږوي، ستر ئې کړي او الوتو ته ئې چمتو کړي، نه ئې نارینه بلي ښځې ته او نه ئې ښځه پردي نارینه ته تمایل ښیي. آیا د مرغانو دا صفا او له مینې او وفا ډك ژوند کافي نه دئ چي ووایو: د فطرت تقاضا همدا ده، جنسي تمایل د گډ ژوند او گډې کورنۍ جوړولو محرك او موخه ئې د اولاد زېږول او روزل.

آیا هغه چرگ ته ځېر شوي یئ چي گڼ شمېر چرگې ساتي، بل چرگ ئې خوا ته نه پرېږدي، که بل د ده پر مېرمنو جنسي تېری وکړي تر هغه ورسره جنگېږي چي زخمي زخمي شي، د چرگانو تر منځ د جگړو لویه وجه همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي!! دا صحنه د کومي خبري غمازي کوي او موږ ته څه پيغام لري؟!! ايا زموږ په وړاندي دا څرګند پيغام نه ږدي چي پر خپلو مېرمنو غيرت کول د ژوو د فطرت غوښتنه او په همدې کې د دوی د بقاء رمز پروت دئ؟!! آيا دا چي الله تعالی د ژوو په فطرت کې دا احساس ايښی چي د ښځي په رحم کې د دوو نارينه وو د مني د توئېدو په وړاندي حساسيت وښيي او مخنيوی ئې وکړي او د دې په وړاندي جدي غبرګون وښيي چي د ده مېرمني ته بل څوك ورنږدې شي، داسي حساسيت او غبرګون چي جګړي ته چمتو شي او د دې پروا هم ونه کړي چي ښايي په دې جګړي کې به دی په خپله زخمي شي!! آيا دا فطري عکس العمل د دې خبري شهادت نه ورکوي چي په همدې کې د ژوو د بقاء رمز مضمر دئ او دا فطري اصل تر پښو لاندي کول بدي پايلي لري؟!!

کبان به ګورې چي دوه سره جوړه شي، يوه خوندي ځای ته ولاړ شي، نارينه ئې ځای برابر کړي، په خپلي لکۍ د زمکي د سر تيري يوې خوا بلي خوا ته کړي، ښځه ئې راشي او هملته په هګۍ اچولو لګيا شي، دی ئې په شاوخوا کې ګرځي او په حرکاتو کې ئې د شوق او ميني اغېز دومره ځلاند وي چي سړی ګمان کوي هغه مستي کوي، بل کب د هغې خوا ته نه پرېږدي او که کوم يو دا جسارت وکړي نو پرې حمله کوي، کله چي ښځه د هګيو له اچولو فارغه شي، هغه ورشي او پر همدغو هګيو خپله مني وشيندي، او بيا هڅه وکړي چي دا هګۍ پټي کړي ښايي د دې لپاره چي مارغان ئې ونه خوري او ښايي د دې لپاره چي بل کب همدا د ده کار ورسره ونه کړي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library
ما په يوه فيلم کي د مارغانو يوه جوړه ليده چي ګډه ځاله ئي وه، ښځي ئي په داسي حال کي خپل مېړه له لاسه ورکړ چي هګۍ ئي اچولي وې، دې ته اړه شوه چي د ژوند بل ملګرى ځان ته پيدا کړي، بختوره وه، داسي ملګرى ډېر ژر په لاس ورغى، په مخکنۍ ځالي کي ئي د نوي ګډ ژوند د دوام پرېکړه وکړه، خو کله چي نارينه دې ځالي ته راغى او په هغې کي ئي داسي هګۍ ترسترګو شوې چي مېرمني ئي له مخکني مېړه ترلاسه کړې وې، نو ټولي ئي يوه په بلي پسې له ځالي لاندې وغورځولې، او ځاى ئي هغو هګيو ته تش کړ چي مېرمن به ئي له دې وروسته اچوي!! دا ځکه چي ده د نوي ګډ ژوند پرېکړه په دې موخه کړې وه چي په خپله د بچيانو خاوند شي، وئې پالي او په دې توګه ئي نسل دوام وکړي او د فطرت غوښتنه ئي ترسره شي!! ما ته ووايئ: دا صحنې موږ ته څه درس راکوي؟! آيا د يوه سالم الفطرت انسان لپاره دا کافي نه ده چي ووايي: الله تعالى د ژوو په فطرت کي جنسي غريزه او له هغه لذت اخيستل د دوى د نسل د بقاء لپاره ايښې نه يوازي د تلذذ او خوند اخيستو لپاره، هغه چي دا غريزه په غير فطري طريقې او فقط د خوند اخيستو لپاره اشباع کوي، يقيناً چي دومره جاهل او کودن دئ چي دغه مارغان تر هغه ډېر شرف لري!! که تاسو د ژوو ژوند ته ځير شئ نو دا به درته جوته شي چي د ټولو جنسي اړيکي د فطري قانون مطابق او د اولاد درلودو په موخه ترسره کېږي، قرآن د هغه الله تعالى کتاب دئ چي دا ټول ژوي ئي پيدا کړي او د دوى په فطرت کي ئي دا ځانګړتياوي ايښې دي، نو ځکه د انسان د جنسي غريزې او د هغې د اشباع په اړه د قرآن لارښووني

(c) ketabton.com: The Digital Library
همغسي دي چي د ژوو فطرت ئې غوښتنه کوي. قرآن جنسي بې لارېتوب او شذوذ د جاهلیت له مظاهرو گڼي، د قرآن له نظره په هري ټولني کې چي د دې گنده او ناولې عمل مظاهر راڅرگند شي نو هغه له تمدن وروسته پاته او جهل وهلې ټولنه ده. علم او تمدن انسان د قانونیت خوا ته کاږي او ټولې اړیکي د همدغي قانونمنۍ په سیوري کې تنظیموي او ټولنه له دې ژغوري چي قانون ترپښو لاندي شي، له حدودو تېرى وشي، نظم له منځه ولاړ شي، یو د بل پر حق او حد تېرى وکړي، د انسان په ژوند کې تر ټولو مهمه او اساسي قضیه د ده جنسي اړیکي دي چي د ده او د ده د نسل ژوند او دوام ورپوري تړلى دئ. د انسان د ژوند د دغه اساسي اړخ روغوالى، د قانون په چوکاټ کې د هغه تنظیمول او په دې برخه کې د پولو او حدودو د تر پښو لاندي کېدو مخنیوى د علم او تمدن له لومړنیو غوښتنو دي. جهل او د انسان له فطرت او د هغه د جسم د سلامتیا او روغتیا له غوښتنو او د هغه د روح او بدن له صحي اړتیاوو بې خبري د دې سبب کېږي چي د انسان د ژوند دغه اړخ ته لازمه اعتنا ونه شي، ضوابط ئې تر پښو لاندي شي او له حدودو ئې تېرى وشي، مگر نه گورئ چي د لوېدیزي نړۍ بې مهاره ټولنه له دې جهته څومره رنځ وړي او له څومره خطرناکو ناروغیو سره مخامخ ده؟ سیفلیس او د ایډز وژونکي ناروغي د دې ټولني له مظاهرو یوه ده، د لوېدیزي نړۍ زړه سواند پوهان په چیغو چیغو د خطر اعلان کوي چي یا آزادي جنسي اړیکي مهار کړئ او یا د هغه د بدو او تباه کوونکو عواقبو انتظار وکړئ، دا حالت به موږ له هغو بدو پایلو سره مخامخ کوي چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library
کورنیو د جوړېدا لړۍ پای ته ورسي او خلك د اولاد له درلودو او د هغوی د روزني د تکلیفونو له گاللو ډډه وکړي!!

هغو خلکو ته حیران یو چي د زنا او د هغې د سزا په اړه د قرآن لارښووني د اعتراض وړ گڼي!! دوی ته وایو: که تاسو د مذهبي انگېرنو له مخي اعتراض کوئ نو موږ ته په ټولي نړۍ او په ټول انساني تاریخ کي داسي د پام وړ مذهب راوښیئ چي زنا ته ئې د جرم او گناه په سترگه نه وي کتلي او سزا ئې همدومره او تر دې هم سخته نه وي ټاکلې!! که تاسو مسیحي او یهودي یئ نو د دواړو په مذهب کي زنا ته د لوی جرم په سترگه کتل شوي او سزا ئې رجم گڼل شوې!! هندوان ئې گناه گڼي او سزا ئې سوزول!! که تاسو بې مذهبه غربپال او کمونیستان یئ او داسي سزا د ترحم او عاطفې خلاف گڼئ نو زموږ ساده ځواب دا دئ: ستاسو د ترحم عملي بېلگې مو د بگرام، کندهار، ابوغریب او گوانتانامو په زندانونو کي ولیدې، آیا له داسي خلکو سره د ترحم خبره په خوله راوړل ښایي او دا حق لري چي د بل داسي سزا بې رحمي وگڼي چي د دوی تر وحشیانه سزاگانو ډېره نرمه وي؟!! تاسو چي په افغانستان او عراق کي څه وکړل، پر کورونو، کلیو، ښارونو، جوماتونو، مدرسو، د ډمونو او راکټو ورول، په خوب ویده ښځې، ماشومان او بوډاگان وژل، په لمانځه ولاړو خلکو باندي راکټي ورول او د لمانځه په وخت کي چاودني کول او بې گناه خلك په وینو کي رغړول، په زور د اعتراف اخیستو لپاره د بندیانو نوکان ایستل، په بل سگریټ د بدن نرم ځایونه داغل، جوش اوبه او سره کړې تېل پرې پاشل، برقي شارټونه ورکول، د داړلو لپاره سپیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورتوشل، په اوبو کې ئې تر هغه سر ننایستل چې د مرګ پړاو ته نږدې شي!! دا سزاګاني هغه چا ته ورکوي چې یا ئې په خپلو کړنو اعتراف ته اړ کړي او یا د دوی د خوښې ګټور معلومات ترې ترلاسه کړي!! چا چې دا عذابونه تجربه کړي دي ته ترجیح ورکوي چې زر متروکې پر خپل نازك بدن قبولې کړي تر دې چې سر ئې په اوبو کې تر هغه وخته غوټه شي چې مرګ ته نږدې شي، یا ئې نوکان وایستل شي، یا برقي شارټونه ورکړی شي!! جورج بوش د امریکا مخکني جمهور رئیس اعتراف وکړ چې ما د همدغې سزا ورکولو اجازه ورکړې وه!! په هغو ورځو کې چې ما د دغې مبارکې سورې تفسیر لیکلو د ناټو ځواکونو د کنړ د غازي آباد ولسوالۍ پر کلي بمونه او راکټونه وورول، پنځه شپېته مظلوم او بې ګناه کلیوال ئې د ښځو، ماشومانو او بوډاګانو په شمول ووژل او ګڼ شمېر نور ئې ټپیان کړل، امریکایانو حتی خپله دروغجنه خواشیني هم ونه ښوده!! وروسته ئې د ماښوګې په ولسوالۍ کې همداسې بمونه وورول او نه ماشومان ئې ووژل، دوی د لرګیو په راټولولو لګیا ول چې جهازونه راغلل او پر دوی ئې بمونه وورول، کله چې د کابل ذلیل حکومت د خلکو د غولولو لپاره خپل خفګان څرګند کړ او پر دې ظالمانه وژنې ئې اعتراض وکړ د امریکا د جنګ وزیر کابل ته راغی، له جمهور رئیس سره ئې وکتل او خبري رسنیو ته ئې وویل: ما د دې پېښې په اړه خپل خفګان او معذرت کرزي ته وړاندې کړ او هغه قبول کړ!! همدا او نور هیڅ!!! لا یوه اونۍ نه وه تېره شوې چې د خپلو بې پیلوټه طیارو له لارې ئې د شمالي وزیرستان په دته خیلو کې پر یوې قومي جرګې راکټي وورولې چې په ترځ

(c) ketabton.com: The Digital Library
کې ئې د لسګونو ټپیانو په څنګ کې اته څلوېښت بې ګناه قبائلي مشران ووژل شول. په همدغو ورځو کې د ډایوس په نامه د سي آی اې یوه جاسوس په پاکستان کې په رڼا ورځ او د ښار په منځ کې دوه پاکستانیان په ډزو ووژل، ده د هغي ډلي مشري په غاړه درلوده چي مأموریت ئې په پاکستان کې د امریکا مخالفین وژل، په جوماتونو، مدرسو او ښارونو کې چاودني کول، د مذهبي فرقو مشران وژل او له دې لاري د دوی تر منځ د مسلحانه نښتو اور ته لمن وهل وو، د پولیسو له لوري ونیول شو، قضیه محکمې ته وړاندي شوه، د امریکا لوړ پوړي چارواکي پاکستان ته ولاړل، او له جمهور رئیس او صدراعظم ئې وغوښتل چي دا قاتل خوشي کړي، اسلام آباد په دې وګواښل شو چي که ډایوس خوشي نشي نو کانګریس به له پاکستان سره د امریکا مرستي وځنډوي!! دا د تمدن او ترحم دروغجن او مکار مدعیان څنګه پر اسلام د اعتراض جسارت کوي؟ آیا داسي څوك د دې حق لري چي زناکار ته د اسلام قانوني سزا د ترحم خلاف وګڼي؟ هغه هم داسي زناکار ته چي له هرراز فشار، تهدید، وهلو او ځورولو پرته ئې په خپله اعتراف کړی؟!! اسلام نه یوازي د زور او جبر اعتراف د اعتبار وړ نه ګڼي بلکي شکمن اعتراف هم بې اعتباره ګڼي، د زنا د اثبات لپاره د تورن اعتراف (هغه هم څلور ځلي او په څلورو مجلسونو کې)، یا د څلورو داسي شاهدانو شهادت ضروري بولي چي د زنا عمل به ئې په خپلو سترګو لیدلی وي، حتی د همدې څلورو شاهدانو هغه شهادت هم د اعتبار وړ نه ګڼي چي یوازي ئې د تورنو بربنډه پرېوتا او ملاسته په خپلو سترګو لیدلې!! د مېرمني په ضد د مېړه شهادت سره له

(c) ketabton.com: The Digital Library
دې نه مني چې څلور ځلې د الله تعالی په نامه لوړه وکړي او پنځم ځل ووايي: که ما دروغ ويلي وي نو پر ما دې د الله لعنت وي!! هغه مهال مېرمن د سزا وړ ګڼي چې په خپله اعتراف وکړي!! او دا ټول يوازې د دې لپاره چې قرآن انسان ته په درنه سترګه ګوري، د هغه سپکاوی، توهين، تعذيب او وژل نه خوښوي، د زناکار په څېر د ستر مجرم مجازات ئې هم په داسې ګرانو او پېچلو شرائطو او شواهدو پورې تړلي!!

## له زاني او زانيه سره د نکاح حکم

قرآن په دې اړه فرمايي:

ٱلزَّانِى لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ۳ النور: ۳

دا زاني يوازې زناکاره يا مشرکه ښځه نکاح کوي، او دا زناکاره ښځه يوازې زناکار او مشرك ئې په نکاح کوي، او دا پر مؤمنانو حرام کړی شوي.

په دې مبارك آيت کې د زناکارو په اړه دا لارښوونې شوې:

- ځوك چې زاني وي نو هغه يا زناکاره ښځه نکاح کوي او يا مشرکه، مزاج او سليقه ئې داسې رنګ غوره کړې چې همداسې ښځې خوښوي، جنسي تعلقات ئې همدې لورې ته بيايي، زناکاره ښځه هم د ده په څېر وي، يوازې زناکار او مشرك مېړه په لاس ورځي، پاك لمنی ئې نه خوښېږي.
- له زناکارو سره نکاح پر مؤمنانو حرامه ده، يعنې له مؤمنانو سره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library
ښايي چي له بدلمنو سره واده وکړي، بايد داسي مېرمن يا مېړه خان ته انتخاب نه کړي چي له اخلاقي پلوه د اعتماد وړ نه وي، د ايمان تقاضا دا ده چي داسي څوك د ژوند د همسفر او ملگري په توگه غوره کړو چي خداپپال، ملتزم، پاك لمنی، امين او باوفا وي، او په خپلي غېږ کي صالح او مؤمن اولاد وروزي.

دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا د زناکار او زناکاري نكاح يوازي په خپلو منځونو کي جائزه ده او له مؤمنانو سره ئې نكاح حرامه ده، داسي لكه له محرماتو سره نكاح؟ ځواب دا دئ چي كه څوك په دې ناولي كار ككړ وي، لاس نه ترې اخلي او توبه نه كوي، نو له هغه سره له شكه پرته نكاح حرامه ده، هم د دې صريح آيت له مخي او هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم د لارښوونو له مخي، خو كه څوك توبه وكړي او ځان اصلاح كړي نو اميد دئ چي الله تعالی ئې په داسي نكاح ونه نيسي، هم ئې مخكنۍ گناه ورته وبخښي او هم ئې په راتلونكې کي له دې گناه وساتي. د آيت له الفاظو معلومېږي چي مصداق ئې هغه زناكاران دي چي دغي گناه ته دوام وركوي او لاس نه ترې اخلي، نه هغه چي گناه ئې كړې خو ژر ئې توبه كړې او ځان ئې اصلاح كړی. د الزاني او الزانيه صيغې همدا مطلب افاده كوي.

د دې لپاره چي دا مطلب مزيد واضح شي لاندي روايات ستاسو مخي ته ږدم:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن عَمْرِو قَالَ: كَانَتِ امْرَأَةٌ فِي جِيَادِ تُسَمَّى أُمَّ مَهْزُولِ، وَكَانَتْ تُسَافِحُ، وَكَانَتْ تَشْتَرِطُ لِمَنْ تَزَوَّجَهَا أَنْ تَكْفِيَهُ النَّفَقَةَ، فَاسْتَأْذَنَ رَجُلٌ رَسُولَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فِي نِكَاحِهَا،"فَقَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: الزَّانِي لا يَنْكِحُ إِلا زَانِيَةً"، المعجم الكبير للطبراني والبيهقي

له عبد الله بن عمرو رضى الله عنه روايت دئ چي ويلي ئې دي: د جياد يوه مېرمن وه چي ام مهزول نومېده او بد لمنه (فاحشه) وه، د واده په اړه به ئې دا شرط وړاندي کولو چي دا به په خپله د مېړه نفقه پر غاړه اخلي (له هغو پيسو چي د بدلمنۍ له لاري ئې ترلاسه کوي) نو يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغې سره د نکاح اجازه وغوښته، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم دا آيت ورته ولوست: الزَّانِي لا يَنْكِحُ إِلا زَانِيَةً.... و حرم ذالك على المؤمنين.

عن عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « ثَلاَثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَالْعَاقُّ وَالدَّيُّوثُ الَّذِى يُقِرُّ فِى أَهْلِهِ الْخَبَثَ ». مسند احمد

له عبد الله بن عمر رضى الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: درې کسان داسي دي چي الله تعالى جنت پرې حرام کړی: هغه چي تل شراب څښي، د پلار مور له لوري عاق (رټل) شوی او هغه ديوث چي په خپل ټبر کي (زنا او بدلمني گوري خو مخه ئې نه نيسي او) په خپل حال ئې پرېږدي.

## نامحرم سړي او نامحرمي ښځې ته کتل

په دې اړه د قرآن لارښوونه دا ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ وَيَحْفَظُواْ فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ
لَهُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ٣٠ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ
أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَاۖ
وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ
أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ
إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِيٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِيٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ
أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ
يَظْهَرُواْ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ
مِن زِينَتِهِنَّۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ

۳۱ النور: ۳۰-۳۱

مؤمنانو ته ووايه چې د خپلو سترګو (کتل) راکم کړي او خپل عورت وساتي، دا ورته ډېر غوره دئ، يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې دوی ئې کوي. او باايمانه ښځو ته ووايه چې د خپلو سترګو (کتل) راکم کړي، او خپل فروج وساتي او خپله ګاڼه څرګنده نه کړي، مګر هغه ئې چې څرګنده وي او خپل ټکري دي په خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دي له خپلو مېړونو، خپلو پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو زامنو، خپلو ورونو، ورېرونو، خوريو، خپلو ښځو، خپلو وينځو، هغو ترلاس لاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library
سرو چي بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چي د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه ښکاره کوي او خپلي پښې دي داسي (پر زمکه) نه وهي چي هغه ګاڼه ئې معلومه شي چي پټوي ئې او اې مؤمنانو! ټول د الله لوري ته رجوع او توبه وکړئ چي بريالي شئ.

د دغو مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- مؤمنان په دې ګمارل شوي چي د خپلو سترګو کتل راکم کړي او خپل عورت وساتي، دلته د سترګو په اړه د (يغضوا) صيغه کارول شوې چي کمول افاده کوي، او دې ته په پام سره چي ترې وروسته د عورت (شرم ځای) ساتنه راغلې نو مطلب ئې پردي او نامحرم ته له داسي کتني ډډه کول دي چي شهوت پاروي، لکه پر له پسې او زيات کتل او هغه هم د شهوت په نظر، ورپسې ويل شوي چي دا ورته ډېر غوره دئ، يعني همدا کار له اخلاقي پلوه ورته غوره دئ، په ګناه کي له پرېوتو ئې ساتي، او د آيت په پای کي ويل شوي چي الله تعالی په هغه څه ښه خبر دئ چي دوی ئې کوي. يعني دا لارښووني د هغه الله تعالی له لوري دي چي د انسان د کړنو او عملونو د پايلو او نتائجو په اړه بشپړ علم لري، د همدې جامع او کامل علم له مخي ئې دا لارښووني ورته کړې دي.
- با ايمانه ښځي هم په دې ګمارل شوې چي د خپلو سترګو کتل راکم کړي او خپل عورت وساتي او خپل زينت ښکاره نه کړي، مګر هغه ئې چي ښکاره وي. که څه هم په مخکني آيت کي حکم ټولو (نارينه وو او ښځو) ته متوجه وو، خو له دې کبله چي ښځو ته ځيني نوري لارښووني ضروري وې نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library
مخکنی حکم بیا تکرار شوی او پر هغه سربېره د خپل زينت نه ښودو لارښوونه هم ورته شوې. دلته څو پوښتني راولاړېږي: د زينت معنی څه ده؟ آيا مراد ئې گاڼه او زينتي شيان دي، که د بدن سينگار شوي غړي او که په خپله جمال، ښکلا او ښايست؟ کوم څه ته څرگند زينت ويل شوي او له نه ښودلو مستثنا شوي؟ په دې اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو:

- د زينت معنی بايد تر ټولو وړاندي په قرآن کي او مخصوصاً د دې آيت شاوخوا کي ولټوو او وگورو چي دلته په کومه معنی راغلی، دا صحيح نه ده چي د خپلي سليقې او خوښي معنی ورواغوندو. په همدې آيت کي ويل شوي: ( وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ: او خپلي پښې دي داسي (پر زمکه) نه وهي چي هغه گاڼه ئې معلومه شي چي پټوي ئې)، دا فقره په ډېر وضاحت سره ښيي چي دلته زينت د گاڼې په معنی راغلی، څکه پر زمکه د پښو په کلکو وهلو سره يوازي پټه گاڼه څرگندېږي او غږ ئې اورېدل کېږي او د نامحرم توجه جلبوي، نه بل څه، که دلته زينت له گاڼې پرته په بله معنی نه شو اخيستی نو په مخکنيو کي ئې هم په بله معنی اخيستل بې دليله خبره ده. دا صحيح نه ده چي څوك له خپله څانه زينت د جمال او ښکلا په معنی تعبير کړي او ادعاء وکړي چي مراد ترې مخ، سترگي او شونډي دي، په دې فقرې کي او ترې وړاندي فقرې کي چي وايي: ( وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَاۖ: او خپله گاڼه دي نه څرگندوي، مگر هغه ئې چي څرگنده وي) زينت د گاڼې په معنی راغلی او له گاڼې پرته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بلي معنی قطعاً نشو اخيستی، له دواړو په څرګنده توګه معلومېږي چي له زينت نه مراد ګاڼه ده، ځکه په مخکني کي (ما ظهر منها) او په دې کي (ما يخفين من زينتهن) ويل شوي، پر زمکه د پښې کلك وهلو سره له ګاڼې پرته بل څه نه څرګندېږي، نو اطلاق ئې په بل څه نشي کېدی. که له (ما يخفين) مراد ګاڼه وي نو له (ما ظهر منها) هم له ګاڼې پرته بل څه مرادول اشتباه ده. که څه هم زينت له ګاڼې علاوه په نورو معانيو هم راغلی وي. د قرآن په هيڅ آيت کي زينت د انسان د جمال، ښکلا او ښايست په معنی نه دئ راغلی، په مخ، شونډو او سترګو او نورو ښايسته برخو ئې اطلاق نه دئ شوی.

- د (ما ظهر منها) مراد نه مخ دئ او نه جامه، بلکي هغه ګاڼه ده چي ښځي ئې په مخ او لاسونو کي کاروي، لکه ګوتې، ټيك، ډيډې (والۍ)، او غاړګۍ. البته د ګاڼې د نه څرګندولو مراد په اصل کي د وجود هغه برخه نه څرګندول دي چي د تزئين لپاره ئې ګاڼه کارول کېږي، لکه غاړه، سينه، غوږونه، پزه او نور غړي. د آيت له دې برخي دا هم معلومېږي چي که ښځو خپل مخ سينګار کړی وي، سترګي ئې توري او شونډي ئې سرې کړې وي ورته روا نه دي چي لوڅ ئې کړي، ځکه چي د زينت له څرګندولو منع کړی شوې دي. او زينت په اصل کي د دې لپاره وي چي د بل توجه ځان ته جلب کړي، هر هغه کار چي ښځي ئې د نامحرم د توجه راجلبولو لپاره وکړي ناروا دئ.

- ښځو ته لارښوونه شوې چي خپل ټکري دي پر خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دي له خپلو مېړونو، پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو له زامنو، خپلو وروڼو، ورېرونو، خورييو، خپلوانو ښځو، خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library
وينځو، هغو ترلاس لاندي سرېو چي بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چي د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه ښکاره کړي او خپلي پښې دي داسي پر ځمکه نه وهي چي پټه ګاڼه ئې معلومه شي. دلته هم څو پوښتني راولاړېږي: پر ګرېوان د ټکري اچولو معنى څه ده؟ آيا معنى ئې دا ده چي خپل ټکرى به پر مخ داسي اچوي چي ګرېوان ئې هم پټ کړي؟ او که ئې معنى دا ده چي د ټکري يوه پيڅه به پر خپلي غاړي داسي راتاو کړي چي غاړه او ګرېوان ئې هم وريټ کړي؟ په دې اړه هم د صحابه وو تر منځ د رأيي اختلاف تر سترګو کېږي او هم د فقهاوو او محدثينو تر منځ، هم د مخکنيو او هم د وروستنيو، ځيني د ښځو مخ او لاسونه تر بند پوري عورت نه بولي او پټ ساتل ئې فرض او واجب نه ګڼي او د ښځو د بدن همدا برخي د (ما ظهر) مصداق بولي، خو ځيني نور د دې پټول هم فرض ګڼي او د (ما ظهر) مصداق يا د ښځو جامه ګڼي يا په غير قصدي توګه د مخ او لاسونو يا نورو برخو ښکاره کېدا ګڼي. احناف د لومړۍ رأيي پلوي کوي او يقيناً چي همدا رأيه دقيقه او سمه ده. دلائل ئې دا دي:

- د مخ پټول مو په هغه صورت کي فرض ګڼلى شو چي: ۱- د پټولو په اړه ئې د نص الفاظ صراحت ولري، حال دا چي په ټول قرآن کي د مخ پټولو په اړه صريح حکم نه مومو. ۲- که دا فرض وى نو د حج په دوران کي به ښځي د يوه فرض په ترک کولو نه مکلف کېدې او دا به نه ورته ويل کېدل چي د احرام په حالت کي به مخ او لاسونه نه پټوي. څوک چي حج ته د استثنائي حالت نوم ورکوي اشتباه کوي، په حقيقت کي حج معياري حالت دئ، څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په حج کي جائز وي په بل وخت کي په اولی درجه جائز دي.

- که څوك د ډېر احتياط له کبله افراط کوي نو دومره دي ووايي چي مخ پټول مستحب دي، نه دا چي فرض او واجب ئې وګڼي، هغه هم محيط ته په پام سره.

- د نارينه او ښځي لپاره د فرض حجاب حد همغه دئ چي په حج کي بايد مراعات شي، تر دې زيات ئې په مستحباتو کي راځي.

- دې ته بايد متوجه وو چي د نارينه او ښځي لپاره د احرام لباس يو داسي معيار دئ چي ښيي مسلمان نارينه او مسلمانه ښځه په همدومره لباس مکلف دي، تر دې زيات ئې نه فرض دي او نه واجب، بلکي مستحب دي او د دوی خوښي او ظروفو ته پرېښودل شوي، که د حج په څېر ستر عبادت کي، د بيت الله خوا ته، د لکونو خلکو په منځ کي دومره لباس کافي وي؛ نو په نورو وختونو کي خو په اولی درجه کافي دئ، څوك چي وايي نارينه د سر په پټولو او ښځه د مخ او لاس په پټولو مکلف دي په دين کي غلو او بې ځايه سختي کوي او خلك په هغه څه مکلف کوي چي الله تعالی نه دي پرې ګمارلي، که د ښځي لپاره مخ او لاسونه پټول ضروري وی نو الله تعالی به د حج په دوران کي پرې مکلفه کړې وه او که د نارينه لپاره سر پټول ضروري وی نو الله تعالی به په حج کي پرې مکلف کړی وو. ښځي به په دې نه ګمارل کېدې چي د حج په دوران کي به نه مخ پټوي او نه به دستکشي په لاس کوي، نارينه به پر دې نه ګمارل کېدل چي سر به نه پټوي او داسي بوټونه به نه پښو کوي چي تر پښو ئې زياتي پښې ورپټې کړي، که مخ او لاسونه پټول

(c) ketabton.com: The Digital Library
فرض وی نو ښځو ته به جائز نه وه چي په لوڅ مخ او له دستکشو پرته لوڅو لاسونو سره لمونځ وکړي، که څه هم خوا ته ئي کوم نامحرم نه وي!! له پکول، خولۍ، پټکي او لونګۍ سره لمونځ کول یو برابر دي، او حتی ویلی شو چي که څوك د الله تعالی په وړاندي د خپل عجز او انکسار ښودلو لپاره لوڅ سر ودرېږي نه یوازي ګناه ئي نه ده کړې بلکي د ثواب داسي کار ئي کړی چي د حج په دوران کي ئي کوي. د احنافو د فقهاوو رأیه همدا ده، اهل حدیث د احنافو له رأیي سره مخالفت کوي او هغه احادیث هم یا نه مني او یا ئي تأویلوي چي د احنافو د رأیي تأیید کوي. دوی وایي: د حج په دوران کي ښځي باید نقاب پر مخ راکش کړي خو داسي چي له مخ سره به ئي نه لګېږي!! ګواکي په دې سره ئي هم پر حدیث عمل کړی او هم ئي پر خپل مذهب!! ځیني بیا داسي دي چي وایي په لوڅ سر لمونځ کول مکروه دي!! که پوښتنه وکړو چي د کوم نص په استناد؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په احادیثو کي خو دا خبره نه ده شوې، رسول الله **صلی الله علیه و سلم** خو هم د حج په دوران کي لوڅ سر لمونځ کړی او هم په ځینو نورو وختونو کي، تاسو د څه په استناد دا خبره کوئ؟! داسي څه به ترې واورې چي حیران به شې، وایي: الله تعالی فرمایلي: خذوا زینتکم عند کل مسجد، د دې آیت ترجمه هم داسي کوي: هر جومات ته د تلو په وخت کي خپل زینتي لباس واغوندئ، خو نه د دې آیت ترجمه دغسي ده او نه ئي مطلب دا دئ چي پګړۍ یا خولۍ په سر کړئ، ځکه دلته مسجد د اسم زمان په توګه راغلی نه د اسم مکان، مراد ئي د سجدې او لمانځه وخت دئ نه جومات، او مقصد ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دئ چي د هغو خلکو غلطه عقیده تردید کړي چي وایي په زړو، خیرو، خیرنو، پینه شوو، وړینو، کرباسي او ملنګي جامو کي ځمونځ کول ډېر ثواب لري!! الله تعالی فرمایي چي تر ټولو ښکلي جامې مو د ځمانځه لپاره واغوندئ، الهي شریعت موږ ته وایي چي جومات ته د تلو په وخت کي ښې جامې واغوندئ، عطر ووهئ، که مو داسي څه خوړلي وو چي له خولې مو بد بوی تلو یا د ډېرو خولو په سبب بد بوی درنه تلو جومات ته له تللو ډډه وکړه، ځان پاکیزه او ستره کړه بیا جومات ته ولاړ شه. د خذوا زینتکم معنی او مراد دا دئ، نه د خولۍ او پګړۍ په سر کول.

- که په حجاب کي مخ شامل وی نو په دېرشم آیت کي دې حکم مورد نه درلود چي مؤمنانو ته ووایه: خپلي سترګي ټیټي واچوي، دا حکم خو په هغه صورت کي وارد دئ او مجال لري چي د ښځو مخ لوڅ وي.

- د سترګو ټیټ اچول غوره کار دئ؛ له ګناه د مخنیوي وسیله ده، الله تعالی مؤمنان پرې ګمارلي، خو دې ته باید متوجه وو چي کتل خو پرېږدئ حتی له زنا مخکي ټول ناروا کارونه په صغیره ګناهونو کي راځي، نه په کبیره ګناهونو کي او د یوه فرض په پرېښودو کي.

- د ښځو لپاره د سترګو ټیټ اچول همغه حکم لري چي د نارینه وو لپاره ئې لري، په دې دواړو کي په تفکیك او امتیاز باور درلودل د دې آیتونو د روحیې خلاف خبره ده.

- په قرآن کي د ستر په ارتباط درې الفاظ راغلي: حجاب، خمر او جلابیب، ځیني دا درې واړه سره خلط کړي او د ټیکري او پړوني په معنی ئې ونیسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library
حال دا چي حجاب هغه څه ته ویل شوي چي د دوو لوریو تر منځ د لیدا مانع شي، لکه د دروازې پر سر پرده، کومه دړه او دېوال، قرآن د حجاب لفظ هلته کارولی چي مؤمنانو ته وایي: کله چي له امهات المؤمنین (د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو) کوم څه غواړئ نو د حجاب (پردې) تر شا ئې وغواړئ، د حجاب له شا ورغږ کړئ چي اې د مؤمنانو مورې! دا شی مي په کار دئ. دغي لارښوونې ته په پام سره ویلی شو چي ټیکري ته د حجاب نوم ورکول او مستوري ښځې ته محجبه ویل غلطه نومَوَنه ده. خمار هغه واړه ټیکري ته وایي چي مېرمني ئې پر سر کوي او غاړه او ګرېوان پرې پټوي، او جلباب هغه لوی پړوني ته وایي چي ښځې ئې پر خپل سر اچوي او پر خپل ټول ځان ئې راتاووي.

- موږ په هغه صورت کې ادعاء کولی شوی چي مخ هم په خمار (ټیکري) سره پټول ضروري دي چي تر جیوبهن مخکې د وجوههن ذکر راغلی وی، که مراد د مخ پټول وی نو دوه خبري ضروري وې: ۱- باید په صراحت سره د مخونو (وجوههن) یادونه شوې وی، ۲- د مخ لپاره باید د غطاء (پټولو) لفظ راغلی وی نه د یضربن چي دلته د غوړولو او اچولو په معنی دئ، له مخ سره د غطاء لفظ ښايي او پر ګرېوان د ټیکري له اچولو سره د یضربن صیغه.
- ځیني د ابن شهاب الزهري په هغه روایت استناد کوي چي د افك د قضیې په ارتباط راغلی او په هغه کې عائشې رضی الله عنها ته دا وینا منسوب شوې چي د حجاب آیت نازل شوی وو نو ځکه ما خپل مخ په ټکري پټ کړ. د دې روایت په اړه څو پوښتني شوې چي هیڅ ئې ځواب نه دئ ویلی: د

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاحزاب سوره او په هغې کې د حجاب آیت د بني المصطلق له غزوې او د افك له پېښي وړاندي نازله شوې که وروسته؟ که وایي چي وروسته نازله شوې نو د روایت دا برخه ردوي چي د حجاب حکم د بني المصطلق له غزوې مخکي راغلی وو او که وایي چي وړاندي نازله شوې نو په دې سره د روایت هغه برخه ردوي چي د سعد بن معاذ رضی الله عنه او په جومات کې د هغه د وینا یادونه کوي ځکه سعد بن معاذ رضی الله عنه د احزاب په غزوې کې ټپي شوی او لږ وروسته له همدې ټپ وفات شوی!! همدا راز عائشې رضی الله عنها ته دا وینا منسوبول چي د حجاب آیت ته په پام سره ئې خپل مخ پټ کړی، صحیح انتساب نه دئ، ځکه د حجاب د آیت موضوع د مخ پټول نه بلکي له امهات المؤمنین د پردې له شا څه غوښتل دي، که په ټکري سره د مخ پټولو یادونه ئې کړې وی نو د احزاب د سورې ۵۹ آیت ته به ئې اشاره کوله چي وایي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٥٩ : اې پیغمبره! خپلو مېرمنو، او خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووایه چي خپل پړوني ورباندي راتاو کړي، همدا دې ته نږدې ده چي وپېژندی شي او ونه ځورول شي، او الله مهربان بخښونکی دئ.

- په ۳۱ آیت کې چي ویل شوي باایمانه ښځي دي خپل زینت له خپلو مېړونو، پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو زامنو، خپلو وروڼو، ورېرونو، خورییو، خپلو ښځو، خپلو وینځو، هغو ترلاس لاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library
سرو چي بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چي د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه ښکاره کوي، دلته څو پوښتني راولاړېږي: دا کوم زينت دئ چي پر مېړه علاوه پورتنيو ته ئې هم ښوول مانع نه لري؟ او دا کوم زينت دئ چي له خپلوانو او شاوخوا ښځو پرته ئې نورو ښځو ته هم ښودل جائز نه دي؟ آيا د دې زينت اطلاق له ګاڼې پرته په بل څه کولی شو؟ دوه ځوابونه درلودی شو: يو دا چي د بدن ځيني برخي داسي دي چي له مېړه علاوه د ښځي نور خپلوان ئې هم له ليدو نه دي منع شوي، لکه وېښتان، غاړه، مټ، او ګواګي په دې آيت کي په زينت سره همدغو برخو ته اشاره شوې. بل دا چي ښځي له دې منع شوې چي خپله ټوله ګاڼه له مېړه او پورتنيو خپلوانو او نږدې خلکو پرته بل چا ته وښيي. د دې پوښتنو مختصر او يوازينی ځواب دا دئ چي دلته له زينت مراد ګاڼه ده نه بل څه. که د آيت الفاظو ته ځير شو نو په يقين سره ويلی شو چي دوهمه رأيه دقيقه ده، دا ځکه چي زينت په عامه صيغه راغلی د خاصولو لپاره ئې هيڅ موجه دليل نه مومو، په کوم دليل به يوازي څو غړي ترې مرادوو؟ مخ او لاس له پرديو ښځو هم ستر نه دئ او له مخ، لاس او پښې پرته نور غړي خپلوانو نارينه وو ته هم ښودل منع دي. دا به ډېره عجيبه وي چي څوك دلته (نساءهن) داسي تعبير کړي چي ګواکي پرديو ښځو ته خپل جمال ښودل منع دي او خپلو ته ئې ښودل مانع نه لري!! حال دا چي معنی ئې له کوم شك پرته دا ده چي له خپلوانو پرته نورو ښځو ته د خپلو ګاڼو له ښودلو منع شوې، ښځو ته د سينګار او د ګاڼو د کارولو امتياز ورکړی شوی، خو دا د خپل مېړه په وړاندي او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارضاء او توجه جلبولو په موخه نه د پردي نارينه د توجه جلبولو او يا له نورو ښځو سره د مسابقې، رقابت او ځان ښودني لپاره. له داسي ځان ښودنو چي په ټولني کي کومي فتنې راولاړېږي له هيڅ عاقل انسان پټي نه دي، که په يوې ميلمستيا او واده کي ځينو ښځو سينګار کړی وي او رنګ رنګ ګاڼې ئې اچولې وي او په خوا کي ئې داسي مېرمني وي چي د سرو زرو ګاڼې خو پرېږده حتی سمي جامې هم نه لري، په دې سره له يوې خوا د دوی تر منځ جدي کرکه او دښمني راپيدا کېږي، له بلي خوا نوري مېرمني دې ته هڅول کېږي چي خپل مېړونه دې ته اړ کړي چي دوی ته هم همداسي ګاڼې برابري کړي، که له حرامو لارو وي او که له حلالو!! دا يقيناً چي ټولنه د منفي رقابتونو او حسادتونو په لوري بيايي او فتنې راولاړوي. قرآن د قارون يادونه کوي چي په ګاڼو ئې ځان سينګار کړی خپل قوم ته راووت، ناپوهانو د ده حالت ته په پام سره وويل: کاش موږ هم د ده په څېر وی او همغه څه مو درلودی چي ده ته ورکړی شوي!!

يقيناً چي د حجاب په اړه د هغو خلکو رأيه ډېره کمزورې ده چي د ښځو مخ او لاسونه هم په ستر کي شاملوي او فرض ئې ګڼي، همغسي کمزورې لکه جوماټ ته د ښځو د تګ په اړه د دوی رأيه. په دې اړه ټول مسلمانان متفق دي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زماني کي او د هغه تر رحلت پوري ښځي جوماټ ته تلې او د جَماعت په لمونځونو کي ئې له نارينه وو سره يو ځای برخه اخيسته، داسي چي مخکي به نارينه، ورپسې ماشومان او د صفوفو په وروستۍ برخي کي به ښځي ودرېدې، د اختر په لمونځونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

به ئې هم برخه اخیسته، او کله کله به رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی لپاره بېله غونډه جوړوله او دوی ته به ئې ځانګړې موعظه اوروله. نه یوازي دا چي مسجد ته تلې او د جماعت په لمونځونو کي به ئې شرکت کولو بلکي ګڼ شمېر مېرمنو د امهات المؤمنین په شمول په غزواتو کي هم شرکت کړی. په دې اړه روایات دومره زیات او دومره صریح دي چي هیڅوك ترې انکار نشي کولی. راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه حکم کړی، آیا په قرآن کي داسي لارښووني مومو چي جومات ته د ښځو د تلو جواز ترې استنباط شي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه څه لارښووني کړې؟

قرآن په مکرره توګه او په عامه صیغه (ټولو مؤمنانو) ته سپارښتنه کوي چي خپل لمونځونه په جمع اداء کړئ، په جمع د لمانځه دا سپارښتنه عامه ده، ټولو مؤمنانو ته راجع ده، یوازي د نارینه وو لپاره نه ده، د قرآن بل آیت په دې ګواهي ورکوي چي ښځي هم په دې سپارښتني کي شاملي دي، څکه قرآن د مریم علیها السلام په اړه فرمایي:

یَٰمَرۡیَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ٤٣

آل عمران: ٤٣

اې مریمې! خپل رب لره تسلیم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع کوه.

د مریمي علیها السلام یادونه د دې لپاره راغلې چي وښیي یوه مؤمنه مېرمن باید څنګه وي، مریم علیها السلام ته د عالم پر ټولو ښځو فضیلت

(c) ketabton.com: The Digital Library
ورکړی شوی، قرآن هغه د مؤمنو مېرمنو لپاره د غوره مثال او بېلګي په توګه معرفي کوي. د مریم علیها السلام روزنه په مدرسه او جومات کي شوې او هغه ستر شخصیت ترې جوړ شوی چي د انساني تاریخ له پیل تر پای پوري هیڅ ښځه د هغې مقام ته نشي رسېدی، دې ته له نورو ځمونځ کوونکو سره د ځمونځ کولو سپارښتنه نه ځانګړې او خصوصي سپارښتنه ده او نه منسوخ شوې سپارښتنه. البته ښځو ته دا لارښوونه د نارینه وو له اړوند سپارښتني یوازي دومره توپیر لري چي نارینه جومات ته پر تلو مکلف شوي او ښځو ته دا رخصت ورکړی شوی چي کولی شي جومات ته ولاړې نشي او په خپل کور کي ځمونځ وکړي، خو که ئې وغوښتل جومات ته ولاړه شي هیڅوك ئې د مخنیوي حق نه لري. دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي مکرره سپارښتنه ده چي د حجة الوداع په تاریخي او مهمي خطبې کي ئې هم د نورو سترو او مهمو امورو تر څنګ یو ځل بیا تکرار کړه.

عَنْ عَائِشَةَ- رضى الله عنها- قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ لِحَاجَتِهَا، وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً لاَ تَخْفي عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا، فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا سَوْدَةُ أَمَا وَاللَّهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا، فَانْظُرِى كَيْفَ تَخْرُجِينَ، قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً، وَرَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فِي بَيْتِى، وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى. وَفِي يَدِهِ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِى فَقَالَ لِي عُمَرُ كَذَا وَكَذَا. قَالَتْ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ " إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ ". بخاري: ۴۷۹۵

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چي د حجاب له لازمېدو وروسته، سوده

(c) ketabton.com: The Digital Library
رضی الله عنها (په حجاب کي) د کوم ضرورت لپاره بهر ووتله، هغه ډنګه مېرمن وه، چا چي پېژندله نو پرې پټه نه پاته کېده، عمر رضی الله عنه ولیده او ورته وئې ویل: اې سوده! والله چي پر موږ پټه نه پاته کېږې، وګوره څنګه وځې! وايي: هغه بېرته راستنه شوه، په داسي حال کي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم زما په کور کي وو او ماښامنی ئې خوړلو او په لاس کي ئې غوښين هډوکی وو، هغه راغله او وئې ویل: یا رسول الله! زه د ځينو اړتیاوو لپاره بهر ووتلم او (عمر رضی الله عنه) دا دا راته وویل، (عائشه رضی الله عنها) وايي: الله تعالی هغه ته وحي وکړه، بیا په داسي حال کي ترې لوړه شوه چي هغه غوښين هډوکی ئې لا په لاس کي وو او وئې فرمایل: یقیناً چي تاسو ته د خپلو حاجتونو او اړتیاوو لپاره د وتلو اجازه درکړی شوې.

د دې روایت له مخي دا خبره په ډاډ او اطمئنان سره کولی شو قطعاً د توجیه وړ نه برېښي چي عمر رضی الله عنه به د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې وینا له اورېدو وروسته هم په خپلي رأيي ټینګار کړی وي!! او ښځي به ئې جومات ته له تلو منع کړې وي.

حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَيُّوبَ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم- أَوْ قَالَ عَطَاءٌ أَشْهَدُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم خَرَجَ وَمَعَهُ بِلاَلٌ، فَظَنَّ أَنَّهُ لَمْ يُسْمِعِ النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ، وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِى الْقُرْطَ وَالْخَاتَمَ، وَبِلاَلٌ يَأْخُذُ فِي طَرَفِ ثَوْبِهِ. (بخاري: ۹۸)

له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي: یو ځل رسول الله صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library
علیه و سلم په داسي حال کي (د نارینه وو له لیکو یا منځه) ووت چي بلال رضی الله عنه هم ورسره وو (ښځو ته ورغی) ګمان ئې وکړ چي ښځو د ده وعظ او نصیحت نه دئ اورېدلی، نو هغوی ته ئې وعظ وکړ، د صدقې ورکولو امر ئې ورته وکړ، نو ښځو خپلي لښتۍ او ګوتې د صدقې په توګه اچولې او بلال رضی الله عنه په خپلي لمن کي راټولولې. د دې روایت په اړه څو خبرې توجه غواړي: د دې روایت په اصلي مطلب هلته سم پوهېدی شو چي نور روایات هم وګورو، د نورو روایاتو په رڼا کي راته جوته کېږي چي دا د اختر لمونځ وو، پیغمبر علیه السلام لومړی لمونځ کړی، بیا ئې خطبه ویلې، بیا د خلکو له منځه تېر شوی او د ښځو د لمانځه ځای ته ورغلی، هغوی ته ئې بیا وعظ کړی، د صدقې ورکولو ته ئې هڅولې او هغوی خپلي ګاڼې صدقه کړې.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر روایات ښیي چي د پیغمبر علیه السلام په دوران کي ښځو د جماعت په لمونځونو کي شرکت کولو، د ودرېدو ځای ئې بېل او د نارینه وو تر شا وو، پیغمبر علیه السلام د هغوی روزني ته خاصه توجه کوله، د اختر په لمانځه کي له عامي خطبې وروسته د ښځو خوا ته ورغلی او هغوی ته ئې بیا وعظ کړی. خو متأسفانه اوس حالت داسي دئ چي ښځي مېلو، ودونو، زیارتونو ته تلی شي، نه خاوندان او خپلوان پرې اعتراض کوي او نه واعظان، خو جومات ته ئې تګ ممنوع دئ!! څوك چي وایي اوس د فساد او فتنو دور دئ نو ځکه جومات ته د ښځو تګ ښه نه دئ!! هغوی ته وایو:

له فساد او فتنو نه د ښځو د مخنیوي لار خو دا ده چي هغه جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راشي او وعظ واوري.

ځوك وايي چي د پيغمبر عليه السلام په وخت کي تر نن نه فتني لږي وې؟! دا خبره يوازي هغه ځوك کولی شي چي له حقائقو بې خبر وي، په مدينه کي ښځي هغه مهال جوماتو ته تللې چي محدود شمېر کسانو ايمان راوړی وو، قرآن وايي چي ډېر ځلي به منافقينو، مرجفينو او د بيمارو زړونو خاوندانو هغه ښځي ځورولې چي جوماتو ته به تلې، د دغو مفسدينو له امله ئې ښځي جوماتو ته له تلو منع نه کړې بلکي امر ئې ورته وکړ چي له جلباب سره جوماتو ته ولاړې شي.

آيا ځوك دا حق لري چي ووايي: اوس د فتني دور دئ نو ښځي دي حج نه کوي، يا د حج په دوران کي دي مخ او لاسونه هم پټوي؟ که دا حق نه لرو نو له جوماتو ئې ځنگه منع کوو؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم خو د خپل مبارك ژوند په وروستيو شپبو او په خپلو وروستنيو خطبو کي فرمايلي: که ستاسو ښځي غواړي چي په جوماتو کي لمونځ وکړي نو مخنيوی ئې مه کوئ!!!

ځوك چي وايي د عمر رضی الله عنه په وخت کي دا پرېکړه وشوه چي ښځي دي جوماتو ته نه ځي! هغوی ته وايو: دا نه د يوه حکم د تغيير په معنی اخيستی شو او نه د تعطيل په معنی، يوازي دومره ويلی شو چي که دا ادعاء صحيح وي نو دا پرېکړه هغه مهال د خاصو ظروفو او شرائطو په وجه شوې، داسي نه ده چي د دې پرېکړې مخالفت حرام او ناجائز وي او نن چي د اسلام او مسلمانانو مصلحت دا تقاضا او غوښتنه کوي چي د ښځو

(c) ketabton.com: The Digital Library
ديني او اخلاقي روزني ته لازياته توجه وشي او له نورو ځواوو ئې مخ جومات ته واړوو نو دا کار حرام او ناروا وګڼو!! حرام هغه دي چي الله تعالی او د هغه رسول حرام کړي.

ځيني وايي: کاش اوس داسي جوماتونه او داسي واعظان وی چي د ښځو روزنه وکړی شي،... د کومي فتنې له مخي چي د ښځو لمونځ په کور کي غوره ګڼل شوی کېدی شي هغه په جومات کي د ننه احتمالي فتنه وي نه د لاري په اوږدو کي. د دوی په ځواب کي بايد ووايو: که رسول الله صلی الله عليه و سلم ښځو ته ويلي وی چي ستاسو لمونځ تر جومات په کور کي غوره دئ نو يوه ښځه به هم جومات ته نه وه تللې، د ښځو له عمل او د رسول الله صلی الله عليه و سلم له ويناوو معلومېږي چي د پيغمبر عليه السلام تر رحلت پوري ښځي جومات ته راتلې، او رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپلي وروستۍ خطبې کي دا سپارښتنه کړې ده چي که ښځو غوښتل جومات ته ولاړي شي مخنيوی ئې مه کوئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم حتی د عمر رضی الله عنه دا مطالبه ونه منله چي ويل ئې: يا رسول الله! خپلي مېرمني دي بهر ته له وتلو منع کړه، رسول الله صلی الله عليه و سلم له څه ځنډ وروسته وفرمايل: ما ته وحي شوې چي دوی منع نه کړم. موږ يوازي د دومره څه ويلو حق لرو چي ووايو: جوماتونه بايد داسي جوړ شي چي هم د ښځو د لمانځه ځای بېل وي او هم ئې د تګ راتګ لاره بېله وي، خو هغه حلال کار نشو حراموﻟی چي رسول الله صلی الله عليه و سلم نه دئ تحريم کړی. د عمر رضی الله عنه په اړه په رواياتو کي راځي چي هغه له کوره د ښځو له

(c) ketabton.com: The Digital Library
وتلو او د جومات ته تلو سره موافق نه وو، خو عملاً ئې حالت داسې وو چې دی به مخکې جومات ته روان وو او مېرمن به ئې ورپسې وه خو هغه ئې منع کولی نشوی.

## له نامحرم سره خلوت

اسلام زنا تحریم کړې او هر هغه څه ئې هم منع کړي چې زنا ته لار آواروي او په زنا منتج کېږي، د نامحرمو تر منځ په خلوت کې او یوازې ناسته او ولاړه ئې هم په دې لړ کې نېولې او هغه ئې ناجائز ګڼلې، دې روایاتو ته ځیر شئ:

عن جابر.... مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يَخْلُوَنَّ بِامْرَأَةٍ لَيْسَ مَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ ». مسند احمد

له جابر رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: څوك چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان لري له کومې ښځې سره دې په داسې حال کې ګوښې نه ګوري چې له هغې سره خپل محرم نه وي، ځکه دریېیم به ئې شیطان وي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيّ صلی الله علیه و سلم ، يَقُولُ : لا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلا تُسَافِرُ امْرَأَةٌ إِلاَّ وَمَعَها ذُو مَحْرَمٍ. البیهقي

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِىّ صلی الله علیه و سلم يَقُولُ :«لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلاَ تُسَافِرُ امْرَأَةٌ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ ». رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ فِى الصَّحِيحِ عَنْ عَلِىِّ بْنِ الْمَدِينِىِّ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ أَبِى بَكْرِ بْنِ أَبِى

(c) ketabton.com: The Digital Library

شَيْبَةَ وَزُهَيْرِ بْنِ حَرْبٍ كُلُّهُمْ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ.

عن ابْن عَبَّاسٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِىّ صلى الله عليه و سلم يَخْطُبُ يَقُولُ « لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ وَلاَ تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ إِلاَّ مَعَ ذِى مَحْرَمٍ ». مسلم

له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په خطبې کې فرمايلي: نه دي کوم سړی له داسي ښځي سره ګوښی ګوري چي محرم ئې ورسره نه وي او نه دي ښځه له محرم پرته سفر کوي.

## د جنسي شذوذ انتهاء او بدي پايلي

قرآن په دې اړه فرمايي:

إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ١١٧
لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ١١٨ وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ
وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ
خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ
خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا ١١٩ يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا
١٢٠ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ١٢١

النساء: ١١٧-١٢١

دوی خو له الله پرته يوازي د ښځو عبادت کوي او له سرکښ شيطان پرته د

(c) ketabton.com: The Digital Library
بل څه عبادت نه کوي. همغه چي الله رټلی او ویلي ئې دي: هرومرو به ستا له بندګانو ټاکلي برخه ترلاسه کوم. او حتماً به ئې تېرباسم او حتماً به هیلي په کې راولاړوم او خامخا به ورته امر کوم نو د څاروو غوږونه به غوڅوي او هرومرو به ئې ګمارم نو د الله د مخلوق جوړښت به بدلوي او څوک چي له الله پرته شیطان دوست ونیسي نو په ښکاره تاوان سره ئې تاوان وکړ. وعدې ورسره کوي او هیلي په کې راولاړوي او شیطان خو له تېرایستو پرته څه وعده نه ورسره کوي. دوی همغه دي چي مېشت ځای ئې دوزخ دئ او له هغه به د خلاصون چاره نه مومي.

د دې مبارکو آیتونو ستر ستر ارشادات دا دي:

- څوک چي له الله پرته بل ته د دعاء لاسونه اوچتوي، خپل حاجات وروړاندې کوي او د هغه عبادت کوي، ډېر کمزوري معبودان مرستي ته رابلي، ډېریو مشرکانو د ښځو په څېره کې ځان ته معبودان جوړ کړي او عبادت ئې کوي، دوی یوازې د ښځو عبادت کوي، جنسي بې لاریتوب ئې هغه ځای ته ورسوي چي پر زړه او ذهن ئې بې مهاره جنسي تمایلات مسلط شي، ټول ژوند ئې د دې تر اغېز لاندې راشي، هر څه له دغې زاویې ګوري، د جنسي هوس بنده شي، هم ئې دوستي د دې لپاره وي او هم ئې دښمني، له دې پرته بله مینه نه پېژني، شراب دا اور لا تېز کړي، د ښځو او نارینه وو آزاد اختلاط او بربنډتوب ورباندې مزید تیل توی کړي، مسته موسیقي، رقص او نڅا او د عشق او شهوت په ستاینې کې سندرې لازیات ورته لمن ووهي، هم ئې بتان او هم ئې مجسمې د ښځو انځورونه شي . که تاسو دا اوس غربي

(c) ketabton.com: The Digital Library
ټولني ته لږ په دقت سره ځير شئ نو د قرآن د دغه آيت مصداق به په ځپلو سترګو وګورئ، هري خوا ته به دي د ښځو مجسمې ترسترګو شي، هم په معبد کې او هم په مغازه کې، هم د کشيش په وينا کې او هم د ټلويزيون په تجارتي اعلاناتو کې، هلته د تجارت لپاره ښځه او د دې ښايست استعمالېږي، هلته لوړو مراتبو ته رسېدل د ښځو له لاري وي، هلته مور او پلار هېر شوي، د دې ميني ټغر ټول شوی، ځای ئې جنسي هوس او تعلق ته خالي شوی، له نکاح او د کورنۍ له جوړولو ډډه کېږي دا ځکه چي نکاح د آزاد جنسي تعلقاتو مانع کېږي، له اولاد سره د ښځي او مېړه علاقه او مينه نشته او دا د دې لپاره چي اولاد ساتل او روزل زحمت غواړي او د جنسي تلذذ او خوند اخيستو په وړاندي خنډ کېږي، مېړه او ښځه د دې پر ځای چي اولاد ولري، سپی او پشۍ ساتي، ځيني د سپي ساتل تر زوی درلودلو غوره ګڼي او ځيني ئې سپي د جنسي موخو لپاره ساتي، هلته به تاسو له کشيشانو هم واورئ چي مريم عليها السلام په زنا تورنوي او په دې خبري خاص تأکيد کوي او وايي چي هغې توبه وکړه او بيا ئې دا مقام ترلاسه کړ او دا د دې لپاره چي د يوه زناکار ولس معبود هم بايد د زنا سمبول وي، هلته به تاسو د فرويد په څېر د دوی له فيلسوفانو هم واورئ چي وايي: د انسان د ټولو کړو وړو، اړيکو او روابطو منشأ جنسي تمايل دئ، د پلار مينه له لور سره او د مور مينه له زوی سره له دغه تمايل راولاړېږي، هم د انسان د ويښې ټول فعاليتونه او هم ئې د خوب خوبونه جنسي منشأ لري.

- دوی په اصل کې د شيطان عبادت کوي، شيطان غولولي، څوك ئې دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هځولی چې د مریمې علیها السلام مجسمه جوړه کړي او څوک ئې دې ته چې د مناة، نائلة او عزیٰ په څېر ښځینه بتان معبودان ونیسي او په وړاندې ئې ګونډه شي.

- دوی د هغه رټل شوي شیطان په تحریك د شرك مرتکب شوي چې په څو خبرو ئې لوړه کړې:
- د الله د بندګانو یوه برخه به هرو مرو په دام کې غورځوم.
- له سمې لارې به ئې تېرباسم.
- په کږو لارو تګ به ورته ښایسته کوم، داسې چې له هغې ډېرې هیلې او طمعې ولري او رنګین رنګین خوبونه ورته وګوري.
- په دې به ئې ګمارم چې د خپلو بتانو لپاره څاروي په نخښه کړي او غوږونه ئې ورغوځ کړي.
- او په دې به ئې ګمارم چې الهي سنن بدل کړي، د فطرت خلاف ګام واخلي، د الله د مخلوق په جوړښت کې تغییر راولي.

په دغو څو لنډو جملو کې د شیطان ټول هغه خبیث کارونه په ګوته شوي چې په خپلو ملګرو ئې ترسره کوي. د شیطان ملګرتیا او ټول هغه کارونه کول چې د شیطان د حزب غړي ئې باید ترسره کړي، له سمې لارې انحراف او کږېدل او په کږو لارو کې خپلو موخو ته د رسېدو هڅه کول، شرك، د دروغجن معبود لپاره قرباني، له فطرت سره جنګ او د هغو الهي سننو د بدلولو هڅه چې د ټولو مخلوقاتو په پیدایښت او جوړښت کې مراعات شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چي ګورئ څوك سالم او پاکیزه جنسي تعلقات پرېږدي او ناولي لاري او غیر فطري طریقې غوره کوي، دا د همجنسانو تر منځ غیر فطري جنسي تعلقات، د نارینه او نارینه، او ښځي او ښځي تر منځ نکاح، له حیواناتو سره جنسي نږدېکت، د خپل فطرت خلاف هغه مخدره مواد استعمالول چي بې سده ئې کړي او د خپلو حواسو اداره کول له لاسه ورکړي، دا چي نارینه غواړي ځان د ښځي په څېر کړي او ښځه ځان د نارینه په څېر، په لباس کي هم او په حرکاتو او سکناتو کي هم، دا چي نارینه ږیره خریي، هره ورځ د خپل مخ د پوستکي په ملیونهاوو حجرات رېبي، لنډه موده وروسته ئې مخ ګونځي ګونځي شي، د زني لاندي غوښه ئې راوځړېږي، دا همغه له فطرت سره جنګ دئ چي شیطان خپل ملګري وربانديي ګماري، دا چي ګورئ څوك د دروغجنو معبودانو لپاره په انسان، حیوان او حتی په خپل ځان ظلم کوي، څوك د څاروي غوږ غوڅوي، څوك ځان وهي، څوك ریاضتونه په ځان مني، څوك رهبانیت ته مخه کوي او څوك له نکاح ډډه کوي، دا هر یو په حقیقت کي د شیطان هغه قسمونه رښتیني کوي.

## د حدودو نافذول د چا دنده او صلاحیت دئ؟

باید دې پوښتني ته هم ځواب ووېل شي چي د حدودو نافذول د چا دنده او صلاحیت دئ؟ آیا له اسلامي حکومت او امام پرته بل څوك حدود جاري کولی شي؟ د دې پوښتني مختصر او لنډ ځواب دا دئ چي له اسلامي حکومت او د مسلمانانو له امام او امیر پرته هیڅوك د حدودو نافذولو دنده

(c) ketabton.com: The Digital Library
او صلاحیت نه لري، نه پلار د زوی په اړه، نه مېړه د خپلې مېرمنې په اړه، نه بادار د خپل مريي په اړه، نه د کلي ملا او ملك د کليوالو په اړه حدود نافذولی شي. که ستا حالت داسي وي لکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم حالت په مکه کي یا د مدینې په لومړیو کلونو کې؛ نو د حدودو نافذول تر هغه وځنډوه چي ستا حالت له هغه حالت سره ورته شي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د مدینې په وروستيو کلونو کي او هغه مهال درلود چي د حدود اړوند آیتونه نازل شول. هغه څوك ډېر ناپوه او د اسلام له حقيقته ډېر بې خبره دئ چي د افغانستان په اوسني حالت کي چي د صليبي ځواکونو په اشغال کي دئ او د دارالحرب حيثيت لري حدود نافذوي او په دې سره غواړي ځان اسلام ته ډېر متعهد او ملتزم ثابت کړي او گمان کوي چي ښايي له دې لاري به اسلام ته کوم خدمت وکولی شي!! الله تعالی خپل رسول نه په مکه کي د حدودو په نافذولو مکلف کړ او نه د مدینې په لومړیو کلونو کي، هغه مهال ئې د حدودو اړوند لارښووني او احکام راولېږل چي مدینه د یوه مستقل ملك په توگه راڅرگنده شوه، د سيمي اکثريت خلکو ایمان راوړ، د مدینې ټولي چاري د مسلمانانو په واك کي وې، دوی نه یوازي د مدینې داخلي امنيت تأمین کړی وو بلکي د بهرنیو یرغلونو په وړاندي ئې له دې مستقل هېواد او نوي نظام په وار وار دفاع کړې وه، له داسي حالت وړاندي د حدودو نافذول او هغه هم په دارالحرب کي؛ هم د قرآني لارښوونو خلاف عمل دئ او هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سنت خلاف. بې علمه خلك د الفاظو په چکر کي پرېوځي او د واقعیتونو پر ځای تش نوموَنَي

(c) ketabton.com: The Digital Library

معتبري ګڼي، ګمان کوي چي که څو کسانو پر چا د امير المؤمنين نوم کېښود نو هغه حقيقتاً امير المؤمنين شو او له دې وروسته ئې ټولي هغه دندي او مسئوليتونه په غاړه دي او ټول هغه صلاحيتونه لري چي د اسلامي حکومت خليفه او امير ئې لري!! که څه هم هغه نه فوځ ولري او نه تر تسلط لاندي مصئونه او خوندي سيمه!!

اسلامي شريعت د حدودو نافذولو ته په داسي سترګه ګوري لکه چي د روغتون ډاکتر د جراحي عملياتو ته ګوري او يوازي هغه مهال د خپل مريض په عملياتو لاس پوري کوي چي مريض ئې په پرهېز ګمارلی، لازمي لارښووني او سپارښتني ئې ورته کړې، ضروري دوا ئې ورکړې، خو له دې ټولو سره سره نه دئ روغ شوی او په پای کي له دې پرته بله چاره نه وي پاته چي عمليات ئې کړي.

د دې لپاره چي دا مبحث موږ ته مزيد واضح شي او اړوند احکام ئې لازيات راته جوت شي راشئ هغه روايات هم له نظره تېر کړو چي په دې اړه راغلي:

- د چا په اړه چي د حد جاري کېدا پرېکړه وشي هيڅوک ئې بايد شفاعت ونه کړي:

عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ فَقَدْ ضَادَّ اللَّهَ فِي ملكه. السنن الكبرى للبيهقي، المعجم الكبير للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ: "مَنْ حَالَتْ شفاعته دون حد مِن حدودِ اللَّهِ فَقَدْ ضَادَّ اللَّهَ فِي مُلْكِهِ،

له ابن عمر رضی الله عنهما او ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د چا شفاعت چي له الهي حدودو د کوم حد د پلي کېدو مانع شي نو يقيناً چي له الله تعالی سره ئې د ده په ملك کې دښمني او ضديت کړی.

- د مسلمانانو امام دا حق لري چي د حد نافذولو تر څنگ زناکار د مصلحت له مخي څه موده تبعيد کړي:

عن ابن عمر رضی الله عنهما : أن النبي صلی الله عليه و سلم ضرب و غرب و أن أبا بكر ضرب و غرب و أن عمر ضرب و غرب. المستدرك

له ابن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په درو وهل کړي او تبعيدول ئې کړي، ابوبکر رضی الله عنه په درو وهل کړي او تبعيدول ئې کړي او عمر رضی الله عنه په درو وهل کړي او تبعيدول ئې کړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله عليه و سلم قَضَى فِيمَنْ زَنَى وَلَمْ يُحْصَنْ بِنَفْيِ عَامٍ بِإِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَيْهِ. البخاري

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه چا په اړه چي زنا ئې کړې خو واده ئې نه وو شوی؛ تر يوه کال پوري د تبعيد او د حد د اجراء پرېکړه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې او دې ته ورته رواياتو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې تبعيد د حد جزء نه دئ بلکې داسې سزا ده چې د قاضي رأيې ته پرېښودل شوې.

- له هغو ګناهونو پرته چې د سزا حد ئې ټاکل شوی؛ لکه زنا، غلا، بغاوت، شوکې، شراب څښل او قذف يعني بې ګناه کسان تورنول، د نورو ګناهونو سزا تر لس درو نشي زياتېدی:

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بن نِيَارٍ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَقُولُ: لا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلا فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ. رواه البخاري

له ابو برده بن نيار رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: تر لسو درو زيات وهل نشته مګر له الهي حدودو په کوم حد کې. يعني په بل هيڅ مورد کې تر لسو درو زيات وهل نشته.

البته ځينو فقهاوو په ځينو مواردو کې تر ۴۹ او ۷۶ درو پورې تعزيري سزا ګانې هم جائز ګڼلې دي.

- پر مخ او د بدن پر نازکو ځايو وهل او د وهلو لپاره څوك بربنډول منع دي:

عن أبي هريرة رضى الله عنه : أَنَّ رسولَ اللَّه صلى الله عليه و سلم قال : « إذا ضَرَبَ أَحَدُكم فَلْيَتَّقِ الوَجْهَ». أخرجه أبو داود.

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: که ستاسو کوم يو وهل کوي نو پر مخ له وهلو دې ډډه وکړي.

- په اسلام کې لوڅول، تړل، زولانه کول، ولچك کول نشته:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : لاَ يَحِلُّ فِي هَذِهِ الأُمَّةِ تَجْرِيدٌ وَلاَ مَدٌّ وَلاَ غَلٌّ وَلاَ صَفَدٌ. سنن بيهقي

له عبد اله بن مسعود رضی الله عنه روایت دئ چي وايي: په دې (اسلامي) امت كې نه (د چا د تعذيب لپاره) بربندول شته، نه تړلی راكاږل، نه زولنه كول او نه ولچك اچول. يعني په اسلام كې دا جائز نه دي چې څوك د وهلو په موخه بربنډ كړى شي، په وني او لرګي پوري وتړل شي، په لاس او پښو كې ئې زولنې او ولچك واچول شي.

- هغه اعتراف هيڅ ارزښت نه لري چي له وهلو وروسته وي:

عن أبي عيينة بن المهلب قال : سمعت عمر بن عبد العزيز يقول : من أقر بعد ما ضرب سوطا واحدا فهو كذاب.مصنف ابن ابي شيبه

له أبي عيينة بن المهلب روايت دئ چي له عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه مي واورېدل چي ويل ئې: څوك چي له يوې درې وهل كېدو وروسته اقرار وكړي نو هغه دروغجن دئ.

- هغه واكمن د الهي عذاب مستحق دئ چي په حد كې كموالی او زياتوالی كوي:

« يؤتى بوال نقص من الحد سوطاً، فيقال له لم فعلت ذاك؟ فيقول رحمة لعبادك، فيقال له أنت أرحم بهم مني! فيؤمر به إلى النار، ويؤتى بمن زاد سوطاً فيقال له لم فعلت ذلك؟ فيقول لينتهوا عن معاصيك، فيقول أنت أحكم به مني! فيؤمر به إلى النار » تفسير كبير

(c) ketabton.com: The Digital Library
د الله تعالی په وړاندي به داسي چارواکی راوستل شي چي په حد کي ئې يوه دره کموالی کړی، ورته وبه ويل شي: ولي دي دا کار وکړ؟ وبه وايي: ستا پر بندګانو د رحم له کبله، نو ورته وبه ويل شي: آيا ته تر ما زيات پرې مهربان وې؟ نو د اور په لوري د بېولو امر به ئې وشي، او داسي څوك به راوستی شي چي يوه دره ئې زياته کړې، ورته وبه ويل شي: ولي دي دا کار وکړ؟ وبه وايي: د دې لپاره چي ستا له عصيان او سرغړاوي ډډه وکړي، نو ورته وبه ويل شي: آيا ته د دوی په اړه تر ما زيات ښه حکم کوونکی وې؟ نو د اور په لوري د بېولو امر به ئې وشي.

- پر خپلي ګناه پرده اچول غوره دي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ : إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ فَأَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا، فَأَنَا هَذَا، فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ : لَقَدْ سَتَرَكَ اللَّهُ، لَوْ سَتَرْتَ عَلَى نَفْسِكَ، قَالَ : وَلَمْ يُجِبِ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلامُ شَيْئًا، فَقَامَ الرَّجُلُ فَانْطَلَقَ، فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ رَجُلا فَتَلا عَلَيْهِ هَذِهِ الآيَةَ : أَقِمِ الصَّلاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ : وَهَذِهِ لَهُ خَاصَّةً يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ : بَلْ لِلنَّاسِ عَامَّةً مسند ابن ابي شيبه و مسلم

له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چي وايي: يو سړی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: د ښار د لري برخي له يوې ښځي سره مي له مجامعت (جنسي نږدېکت) پرته نور هر څه وکړل، زه دا دئ دلته ولاړ يم چي څنګه دي خوښه وي زما په اړه پرېکړه وکړه، عمر رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library
ورته وويل: الله پر تا پرده اچولې وه کاش تا هم پر خپل ځان پرده اچولې وی، راوي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم هیڅ ونه ویل، نو دا سړی پورته شو او ولاړ، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم یو سړی ورپسې ولیږو (راوئې غوښت) او دا آیت ئې ورته ولوست: أَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ: د ورځې دواړو خواوو او د شپې په یوې نږدې برخې کې لمونځ کوه، یقیناً چې ښېګنې بدي له منځه وړي. د هغه قوم یوه سړي وویل: یا رسول الله! آیا دا یوازې د ده لپاره مختص ده؟ وئې فرمایل: نه بلکې د ټولو خلکو لپاره ده.

- که د مسلمانانو امیر ته کومه قضیه وړاندې شي هغه مکلف دئ چې د الله تعالی قانون به نافذوي، خو داسې تفحص او تجسس به نه کوي چې د مجرم له اعتراف او شاهدانو له ګواهې پرته له نورو لارو د متهم جرم ثابت کړي او سزا ورکړي، د جرم ثابتولو او د حد جاري کولو ته باید لېوالتیا ونه لري.

قال رسول الله صلی الله علیه و سلم ... وَمَنْ جَاءَ مِنْكُمْ مُطْلِعُنَا عَلَى عَوْرَةٍ سَتَرَهَا اللَّهُ فَلْيَسْتَتِرْ بِسَتْرِ اللَّهِ، وَيُسِرَّهَا إِلَى مَنْ يَمْلِكُ مَغْفِرَتَهَا، فَإِنَّا لا نَمْلِكُ مَغْفِرَتَهَا، وَنُقِيمُ عَلَيْهِ حَدًّا ... ". المعجم الكبير للطبراني

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ... او ستاسو کوم یو چې راشي او غواړي موږ پر داسې پټ کار خبر کړي چې الله پرې پرده اچولې نو هغه دې د الله په ستر کې ځان مستور وساتي او هغه چا ته دې وړاندې کړي چې د هغې (ګناه) د بخښلو خاوند دئ، او موږ د بخښلو خاوند نه یو، او حد به

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَيُّهَا النَّاسُ قَدْ آنَ لَكُمْ أَنْ تَنْتَهُوا عَنْ حُدُودِ اللَّهِ مَنْ أَصَابَ مِنْ هَذِه الْقَاذُورَاتِ شَيْئًا فَلْيَسْتَتِرْ بِسِتْرِ اللَّهِ فَإِنَّهُ مَنْ يُبْدِي لَنَا صَفْحَتَهُ نُقِمْ عَلَيْهِ كِتَابَ اللَّهِ. موطأ مالك

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: اې خلكو! تاسو ته هغه وخت رارسېدلى چې د الهي حدودو له تجاوز ډډه وكړئ، او څوك چې له دغو ناولو كارونو كوم څه وكړي نو د الله په پرده كې دې ځان پټ وساتي، دا ځكه چې كه څوك موږ ته خپله عمل پاڼه ښرگنده كړي موږ به د الله كتاب پرې قائموو (د كتاب الله مطابق به سزا وركوو).

- د حدودو د پلي كولو تلوسه مه كوئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « ادْفَعُوا الْحُدُودَ مَا وَجَدْتُمْ لَهُ مَدْفَعًا ». سنن ابن ماجه

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: حدود دفع كړئ (له پلي كېدو ) تر كومه چې د دفع كولو وجه او مدرك ورته موندلى شئ.

عن عائشة رضى الله عنها، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال :« ادرءوا الحدود عن المسلمين ما استطعتم، فإن وجدتم لمسلم مخرجا فخلوا سبيله، فإن الإمام أن يخطئ في العفو خير من أن يخطئ بالعقوبة » المستدرك على الصحيحين للحاكم

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم "ادْرءوا الْحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ؛ فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ، فَخَلُّوا سَبِيلَهُ ؛ فَإِنَّ الْإِمَامَ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعَفْوِ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعُقُوبَةِ" سنن البيهقي و رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ مَرْفُوعًا وَمَوْقُوفًا.

له عائشې رضى الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: تر هغه چې توانېدی شئ له مسلمانانو د حدودو پلي کېدا دفع کړئ، که کوم مخرج (د وتلو لار) ورته وي نو لار ئې ورته پرانيزئ، يقيني خبره دا ده چې که امام په عفو کې خطا شي دا تر دې غوره ده چې په سزا ورکولو کې خطا شي.

عن ابي هُرَيْرَةَ: يَقُولُ جَاءَ الأَسْلَمِىّ إِلَى نَبِىَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَنَّهُ أَصَابَ امْرَأَةً حَرَامًا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم فَأَقْبَلَ فِى الْخَامِسَةِ فَقَالَ« أَنِكْتَهَا ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « حَتَّى غَابَ ذَلِكَ مِنْكَ فِى ذَلِكَ مِنْهَا ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِى الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِى الْبِئْرِ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « فَهَلْ تَدْرِى مَا الزِّنَا ». قَالَ نَعَمْ أَتَيْتُ مِنْهَا حَرَامًا مَا يَأْتِى الرَّجُلُ مِنِ امْرَأَتِهِ حَلاَلاً. قَالَ « فَمَا تُرِيدُ بِهَذَا الْقَوْلِ ». قَالَ أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِى. فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَسَمِعَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ انْظُرْ إِلَى هَذَا الَّذِى سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ. فَسَكَتَ عَنْهُمَا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً حَتَّى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ فَقَالَ « أَيْنَ فُلاَنٌ وَفُلاَنٌ ». فَقَالاَ نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « انْزِلاَ فَكُلاَ مِنْ جِيفَةِ هَذَا الْحِمَارِ ». فَقَالاَ يَا نَبِىَّ اللَّهِ مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هَذَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

قَالَ « فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ إِنَّهُ الآنَ لَفِى أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْغَمِسُ فِيهَا ». سنن ابي داؤد و مصنف عبدالرزاق

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چي يو اسلمي سړی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغی او پر خپل ځان ئې څلور ځلي دا ګواهي ورکړه چي له يوې ښځي سره ئې زنا کړې، په هر ځل کي رسول الله صلی الله عليه و سلم مخ ترې اړاوو، نو په پنځم ځل ئې مخ ورواړاوو او وئې ويل: آيا مجامعت دي ورسره کړی؟ وئې ويل: هو، وئې فرمايل: دومره چي ستا دغه (غړی) د هغې په هغه (غړي) کي غائب شو؟ وئې ويل: هو، وئې فرمايل: داسي لکه چي سلايي په رانجومي کي پټېږي او پړی په څا کي؟ وئې ويل: هو، وئې فرمايل: آيا پوهېږې چي زنا څه ته وايي؟ وئې ويل: هو؛ له دې سره مي هغه کار په حرامه توګه کړی چي سړی ئې له خپلي مېرمني سره په حلاله توګه کوي. وئې فرمايل: په دې وينا سره څه غواړې؟ وئې ويل: غواړم چي ما پاك کړې!! نو امر ئې وکړ او هغه رجم شو، بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم له خپلو دوو اصحابو  واورېدل چي يوه ئې بل ته ويل: دې ته وګوره چي الله پرې پرده اچولې وه خو خپل نفس تر هغه آرام پرې نښود چي د سپي په څېر رجم شي، نو څو شېبې ئې د دوی په وړاندي سکوت وکړ، تر هغه چي د يوه داسي خره د جيفه (مړزګي) خوا ته تېر شو چي له پړسوبه ئې پښې شخي ولاړې وې، نو وئې فرمايل: فلانی او فلانی چېري دي؟ هغوی وويل: موږ دغه يو يا رسول الله! وئې فرمايل: کوز شئ او د خره له دې مړزګي څه وخورئ، هغوی وويل: يا رسول الله! څوك به دا وخوري؟ وئې

(c) ketabton.com: The Digital Library
فرمایل: کوم تېرى چي تاسو همدا اوس د خپل ورور پر عرض او عزت وکړ د دي تر خوراك ډېر سخت كار (گناه) دئ، په هغه ذات قسم چي زما سا ئي په واك كي ده هغه اوس د جنت په نهرونو كي غوټې وهي.

په بل روايت كي داسي راغلي:

ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الأَزْدِ، فَقَالَتْ : يَا رَسُولَ اللَّهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ : وَيْحَكِ ارْجِعِي، وَاسْتَغْفِرِي اللَّهَ، وَتُوبِي إِلَيْهِ، قَالَتْ : لَعَلَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ، قَالَ : وَمَا ذَلِكَ، قَالَتْ : إِنَّهَا حُبْلَى مِنَ الزِّنَا، قَالَ : أَثَيِّبٌ أَنْتِ؟، قَالَتْ : نَعَمْ قَالَ : إِذًا لاَ نَرْجُمُكِ حَتَّى تَضَعِي مَا فِي بَطْنِكِ، قَالَ : فَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ حَتَّى وَضَعَتْ، فَأَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ : قَدْ وَضَعَتِ الْغَامِدِيَّةُ، فَقَالَ : إِذًا لاَ نَرْجُمُهَا، وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيرًا لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَقَالَ : إِلَيَّ رَضَاعُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَرَجَمَهَا السنن الصغرى و مسلم.

بيا د ازد د قبيلې د غامد له ټبره يوه ښځه ورته راغله او وئې ويل: يا رسول الله! ما پاكه كړه! وئې فرمايل: افسوس پرتا، بېرته ستنه شه او له الله تعالى بخښنه وغواړه، او توبه ورته وكړه، وئې ويل: ښايي ته غواړې ما داسي رد كړې لكه ماعز بن مالك چي دي رد كړ، وئې وفرمايل: او دا څه دي؟ وئې ويل: دا له زنا حامله شوې، وئې فرمايل: ته مېرونه يې؟ وئې ويل: هو، وئې فرمايل: تر هغه دي نه رجم كوو چي خپل بچى وزېږوې، راوي وايي: نو د انصارو يوه سړي د هغې كفالت په غاړه واخيست تر هغه چي بچى ئې وزېږاوو، نو هغه سړى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغى او وئې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غامدیه مېرمني بچی وزېږاوو، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: په داسي حال کي ئې نه رجم کوو او بچی ئې نه پرېږدو چي ووړ وي او داسي څوك نه لري چي تی ورکړي، نو له انصارو یو سړی ودرېدو او وئې ویل: یا رسول الله! د هغه رضاعت زما پر ذمه شو، نو بیا ئې هغه رجم کړه.

## ولي په گواهي کي دوه مېرمني له یوه نارینه سره برابري دي؟

د ښځو د حقوقو دروغجن مدافعین د اسلام دا اصل د اعتراض وړ او د ښځو په اړه تبعیض گڼي چي وایي: یا به دوه متفق علیه نارینه شاهدان شهادت ورکوي او یا به د دوه نارینه شاهدانو د نه موندلو په صورت کي یو نارینه او دوه ښځینه شاهدان وړاندي کېږي!! په داسي حال کي چي قرآن د دې پرېکړي دلائل زموږ مخي ته اېښي او ویلي ئې دي چي دا یوازي د دې لپاره چي که یوه ښځه خبره هېره کړي بله ئې ورپه یاد کړي، دا ځکه چي د ښځي عاطفه هومره قوي ده چي د دې حافظه هم تر اغېز لاندي نیسي، گورئ چي عاطفه ئې د اولاد ټولي نادودي او غلط کارونه حتی جفاگاني ورباندي هېروي، هري مور ته خپل اولاد ډېر بې گناه معلومېږي، زوی ئې د گاونډي له زوی سره په جگړي کي سخت ملامت وي خو دا ترې په حقه او ناحقه دفاع کوي، خپله مورنۍ عاطفه ئې دې ته هڅوي چي له خپل زوی دفاع وکړي، همدغه عاطفه د بې وزلي پوروړي په نسبت د شهادت ورکولو په وخت کي په دې همغه کار کوي چي له خپل زوی د دفاع په وخت کي ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې کوي.

هغه ناپوه کسان چي دا د ښځو په نسبت تبعيض ګڼي، په دې هم نه پوهېږي چي شهادت ورکول امتياز نه بلکي يو مکلفيت دئ او اسلام د مکلفيتونو په برخه کي تل ښځو ته امتيازات ورکړي چي څو مثالونه ئې دا دي:

- سنګر ته له تلو ئې معاف کړې، مګر دا چي نفير عام وي او يا دا په خپله خوښه تګ وغواړي.
- جومات ته ئې د تلو حق ورکړی خو ورباندي مکلفه کړې ئې نه ده.
- نکاح د ښځي او نارينه ترمنځ يوه برابره معامله ده، په دې سره د دواړو يوې طبيعي او انساني اړتيا ته ځواب ويل کېږي، خو اسلام نارينه د مهر په ورکولو مکلف کړی، د کور او د کورنۍ ټول مصارف ئې او د خپلي مېرمني او ماشومانو نفقه او جامه ئې د نارينه په غاړه اچولې او ښځه ئې معافه کړې. دا په داسي حال کي چي ښځه له مېړه مهر اخلي او د مېړه په شمول له خپلوانو ميراث ترلاسه کوي او دا حق ورکړی شوی چي کولی شي خپله دغه شتمني په کار واچوي او ګټه ترلاسه کړي. ګورئ چي په اقتصادي چارو کي هم امتياز ورکړی شوی خو له مکلفيت معاف شوې دي.
- ښځو ته دا حق ورکړی شوی چي ګاڼه وکاروي، سره زر او وربېښم وکاروي، خو د خپل مېړه لپاره، د خپل مېړه لپاره سينګار نه يوازي ورته جائز ګڼي بلکي د ثواب کار ئې بولي، خو دا حق نه لري چي خپله ګاڼه پرديو ته وښيي

(c) ketabton.com: The Digital Library
او د هغوی په وړاندي له سينګار سره څرګنده شي، له هر هغه څه منع شوې چي د نامحرم او پردي حساسيت او شهوت پاروي او د دې لوري ته ئې هڅوي. حتی عطر او د ګاڼو غږ هم په دې کي نيسي.

## ولي لور ته د زوی په پرتله نيمايي ميراث ورکول کېږي؟

ځيني معاندين د ميراث د وېش او د لور او زوی د برخي په اړه دا اعتراض لري چي ولي د زوی برخه د لور په پرتله دوه برابره ده، دې اعتراض ته د ځواب ويلو لپاره بايد هغه آيت خپلي مخي ته کښېږدو چي دا لارښوونه په کي راغلې، آيت دا دئ:

يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِىٓ أَوۡلَـٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءً فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةً فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٌۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٌ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخۡوَةٌ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُوصِى بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعًاۚ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ١١ النساء: ١١

الله ستاسو د اولاد په اړه درته توصيه کوي: نارينه ته به د دوو ښځو د برخي په څېر وي، نو که ټول ئې تر دوو زياتي ښځي وي نو دوی ته به د ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښي (مال) دوه ثلثه وي او که يوه وي نو نيمايي به ئې د دې وي، او پلار، مور ته ئې، هر يوه ته، د ده د پرېښي (مال) شپږمه برخه ده، که ئې اولاد وو، خو که ئې اولاد نه وو او ميراث ئې مور، پلار ته پاته شوی وو، نو مور ته ئې درېيمه برخه ده، خو که ئې ورونه وو، نو مور ته ئې شپږمه برخه ده، له هغه وصيت وروسته چې دی ئې کوي او له پور وروسته، نه پوهېږئ چې کوم يو به ئې په نفع کې تاسو ته نږدې وي، پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فريضه ده، بې شکه چې الله ډېر باحکمته پوه دئ.

دلته د ميراث د وېش په اړه لاندي لارښووني شوې:

- د زوی برخه به د دوو لوڼو د برخي په اندازه وي.
- که ئې زوی نه وو او يوازي لوڼي ترې پاته وي، دوه وي يا تر دوو زياتي، نو د ميراث له دريو دوه برخي به د دوی وي.
- خو که يوه وه نو نيمايي به ئې د دې وي.
- د اولاد په شتون کې مور، پلار ته شپږمه شپږمه برخه رسېږي.
- که ئې اولاد نه وو، يوازي مور او پلار ئې وارثان وو، نو مور ته ئې درېيمه برخه رسېږي، پاته دوه برخي به ئې د پلار وي.
- خو که ئې ورونه وو، نو شپږمه برخه د مور ده او پاته ټول پلار ته سپارل کېږي، وروڼو او خويندو ته د پلار په شتون کې څه نه رسېږي.
- د ميراث له وېش مخکې به د مړي وصيت تر سره کېږي او پورونه به ئې پرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په مکرره توګه د وصیت ذکر د دې لپاره راغلی چې په دې سره د هغو خپلوانو ستونزه هم حل کېدی شي چې په میراث کې ثابته او مشخصه برخه نلري، د مال خاوند کولی شي د خپل مال له دریېمې برخې دوی ته څه وټاکي.
- که دا د میراث وېش ستاسو خپلې خوښې ته پرېښودی شي، پخپله د هر یوه برخه وټاکئ، نو ووایئ چې د هر یوه برخه به څنګه ټاکئ؟ د برخو په ټاکلو کې به کوم څه د ملاك او معیار په توګه غوره کوئ؟ نږدېوالی که ګټه او منفعت؟ پلار ډېر درنږدې او ګټور دئ که زوی؟ د کوم برخه به زیاته غوره کوئ او د کوم لږ؟ تاسو ته ممکنه نه ده چې په دې اړه حکیمانه، عالمانه او عادلانه پرېکړه وکړی شئ.
- دا برخې د هغه الله له لوري ټاکل شوې چې هم ښه پوه دئ او هم د حکمت خاوند، هره پرېکړه ئې حکیمانه او په علم ولاړه پرېکړه ده.

په دې کې هغو کمعقلو کسانو ته هم ځواب ویل شوی چې د میراث د وېش په اړه پر اسلام اعتراض کوي، ځان د ښځو د حقوقو مدافع ګڼي، دې ته ئې پام نه دئ چې د میراث وېش د یوه کامل اقتصادي نظام یوه وړه برخه ده، په دې اړه هر بحث باید د ټول نظام په ترځ کې وشي، نه یوازې او له نورو برخو بېل!! د اسلام په اقتصادي نظام کې ښځې په داسې حال کې له اقتصادي مکلفیت فارغ او معاف دي چې د شتمنیو د لاس ته راوړلو ګڼ شمېر مدارك لري، له خپلوانو او مېړه میراث ترلاسه کوي، مهر اخلي، خپلې شتمنۍ په کار اچولی شي، کسب کار کولی شي او عوائد درلودی شي، خو هم د پلار په کور او هم د خاوند په کور کې د دې ټول مصارف د نورو په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي!! دا خو باید ښځو ته خاص او فوق العاده امتیاز وګڼو، ډېر کمعقله انسان به دا د ښځو په اړه تبعیض ګڼي، په کار خو دا وه چي دوی ویلي وی: د نارینه برخه لږ او پېټی ئې درونږ دئ، باید ښځه د دې پېټي په پورته کولو کې د ده مرسته وکړي، لږ تر لږه زړه سوی ولري. خو حکیم او علیم خدای همدا غوره کړې، د نارینه د پیاوړو متو تقاضا همدا ده چي پېټی ئې تر ښځو درونږ وي.

## اسلام او مریيتوب

ځیني په دې خبري اعتراض کوي چي اسلام ولي مریيتوب تأیید کړی، ولي ئې نارینه وو ته اجازه ورکړې چي وینځي وساتي او حتی له نکاح پرته ورسره مباشرت وکړي، غلامي خو د عدالت خلاف او د انسانانو ترمنځ د برابرۍ مغایر او د ظالمانه طبقاءتي نظام نښه ده، دا ولي اسلام له یوې خوا د عدالت دعوی کوي او له بلي خوا غلامي او مریيتوب جائز ګڼي!!

د دغو بې خبرو په ځواب کې باید ووایو: مګر تاسو خبر نه یاست چي د مریيتوب د ختمولو لړۍ د اسلام او مسلمانانو په لاس پیل شوه، دا اسلام وو چي هم ئې په ټول پراخ او خور اسلامي خلافت کې د مریيتوب ټغر ټول کړ او هم په ټولي نړۍ کې، اسلام هغه وخت د غلامۍ په ضد غږ اوچت کړ او د غلامانو د آزادولو سلسله ئې شروع کړه چي غرب لا د دې تصور هم نه شو کولی، اروپا او امریکا نږدې دوولس سوه کاله له اسلام وروسته د غلامۍ د ختمولو لپاره تیار شو، په امریکا کې د جمهور رئیس ابرهام لینکلن په دور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي مرييتوب لغو او د غلامانو آزادي اعلان شوه، خو دا اعلان تر کلونو کلونو هسي د کاغذ پر سر د تورو کرښو په څېر پاته وو، په عمل کي غلامانو د مخکي په څېر په غلامۍ کي ژوند کاوو، ډېر له آزادېدو وروسته بېرته خپلو بادارانو ته ورستانه شول، دا ځکه چي نه ذهناً د آزاد ژوند کولو لپاره تيار وو او نه په ټولني کي د دوی لپاره د آزاد ژوند ضروري لوازم او شرائط برابر شوي وو. که حقايقو ته پام وکړو نو په امريکا کي مخکني غلامان لومړی د زمکه والو په هغو بزگرانو بدل شول چي د دوی په زمکو پوري تړلي وو، له زمکو سره به يو ځای خرڅېدل او له يوه به بل ته انتقالېدل او بيا د بورژوازي (پانگوال) نظام په راتلو سره دا په زمکو پوري تړلی مريی په داسي کارگر بدل شو چي د خولو او تناکو حاصل ئې د فابريکو د خاوندانو په جېب کي پرېوځي. په پانگه وال نظام کي د غلامانو، بزگرانو او کارگرانو د آزادۍ خبره يوازي هغه څوك کولی شي چي د آزادۍ په معنی او مفهوم نه پوهېږي!!

اسلام د غلامۍ د ختمولو لپاره دغه حکيمانه لار غوره کړه:

- غلامانو او د هغوی بادارانو ته ئې وويل: تاسو په خپلو کي وروڼه ياست، د يوې کورنۍ غړي، د يوه نيکه او انا اولاد.
- مسلمانانو ته ئې امر وکړ چي مريي ته مريی مه وايئ، هغه ستاسو ورور دئ، د ورور خطاب ورته وکړئ، دروند او له توانه ئې زيات کار ورباندي مه کوئ، په خوراك څښاك کي ئې له ځان سره شريك کړئ.
- وينځي ځان ته نکاح کولی شئ، دا د عار او پېغور خبره مه گڼئ، له نکاح پرته هم کولی شئ له هغوی سره مباشرت وکړئ، په دې سره هم د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې طبيعي او انساني اړتيا ته ځواب ويل کېږي، څو که هغوی دا مباشرت نه خوښولو نو دې کار ته ئې مه مجبوروئ.

- دا پرېکړه ئې وکړه چې هيڅوك د آزاد انسان د مريي کولو حق نلري او دا په حقيقت کې د غلامۍ د لغو کولو په لار کې لومړی او تر ټولو اساسي اقدام وو.
- د موجوده غلامانو د آزادۍ لپاره ئې له يوې خوا په عام طور خلکو ته وويل: د مريي آزادول د ثواب ستر کار دئ. او په خاصه توګه ئې وويل: له چا چې دا او هغه ګناه وشوه کفاره ئې د غلام آزادول ده.
- بادارانو ته ئې وويل: که ستاسو کوم غلام د آزادېدو غوښتنه وکړه، نو يا ئې مجاني او د الله د رضا لپاره آزاد کړئ او يا ئې د کومي معاوضې او خدمت په مقابل کې، لکه دا چې څو کسان وروزي.
- اسلامي حکومت ئې په دې مکلف کړ چې د دولتي شتمنيو يوه برخه بايد د غلامانو د آزادولو لپاره مختص کړي.

دغه حکيمانه تدابير وو چې نه يوازې په لنډه موده کې د غلامۍ جرړې وايستل شوې، بلکې د پرون ورځې له غلامانو ستر ستر شخصيتونه جوړ شول او د لويو لويو سيمو د چارواکو او واليانو په توګه وټاکل شول.

دا په داسې حال کې چې په اروپا، امريکا او ټولو غير اسلامی هېوادونو کې د غلامۍ بازار ګرم وو او هيچا د انسانانو د برابرۍ شعار نه شو منلی. اما دا چې اسلام ولې له برې وروسته او په ټول حجاز له تسلط بعد غلامي تحريم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کړه او د ټولو غلامانو د آزادولو اعلان ئې ونکړ، څواب ئې باید له یوې خوا د هغه وخت په اجتماعي ظروفو او شرائطو کي ولټوو او له بلي خوا د اجتماعي ستونزو په حلولو کي د اسلام په خاصي کړنلاري کي. اسلام د ځینو خاصو اجتماعي ستونزو د حل کولو لپاره دا کړنلاره خپله کړې چي ورو ورو د هغوی جرړي باسي، تدریجي بدلون غوره ګڼي، لومړی د داسي تبدیلي لپاره ذهني شرائط برابروي، مقدماتي کارونه سر ته رسوي، ریښې یوه په بلي پسي قطع کوي او په پای کي د دې اجتماعي ستونزي کرغېړن بوټی له بېخه باسي، د شراب او قمار په اړه اسلام همدا اسلوب غوره کړ، په تدریج سره ئې د دې خبیثه بوټو جرړي وایستلې، د مریيتوب په اړه ئې هم همدا طریقه اختیار کړه، لومړی ئې وویل: ټول انسانان یو د بل ورونه او د یوه خدای بندګان دي او له یوه مور او پلار پیدا شوي. بیا ئې وویل: د مریي آزادول د ثواب ستر کار او د ګناهونو د جبران وسیله ده، مسلمانان ئې وهڅول چي غلامان له کومي معاوضې پرته آزاد کړي، بیا ئې وویل: هیڅ (حر) او آزاد انسان نشي مریي کېدی، هیڅوك دا حق نلري چي د (حر) او آزاد انسان په غاړه کي د مریيتوب کړی واچوي. بیا ئې وویل: هر غلام دا حق لري چي له خپل مالك سره (مکاتبه) وکړي، یعني خپله آزادي په بیع واخلي، له غلامۍ آزاد شي او په مقابل کي ئې مالك ته څه ورکړي. او په پای کي ئې وویل: د دولت د مصرفي بودجې یو مورد د غلامانو اخیستل او آزادول دي.

د غلامانو د آزادولو او د غلامۍ د تدریجي ختمولو دا طریقه دې ته ورته ده چي کوم دولت د فیوډالي نظام د ختمولو او د زمکو د عادلانه وېش

(c) ketabton.com: The Digital Library
په اړه دا فیصله وکړي چې د زیاتو زمکو له خاوندانو زمکې په بیع واخلي او په بې زمکو ئې ووېشي او په دې خاطر د زمکو له مصادرې ډډه کوي چې په دې سره کېدی شي په ډېرو هغو کسانو ناروا تېری وشي چې شتمني او زمکې ئې له جائزو لارو ترلاسه کړې. اسلام نه غواړي په هیچا، تر هیڅ نامه لاندي تېری وشي او جائز حق ئې تر پښو لاندي شي.

## غرب او د ښځو حقوق

له هغي ورځې وروسته چې په غربي هېوادو کې مخکنی ظالمانه فیوډالي نظام اوسني پانګوال نظام ته په اوشتو شو، د تولید وسائل له مخکني زوړ حالت نوي حالت ته ارتقاء وکړه، زړه د غویو یوې په ټراکټور بدله شوه، د بزګر او کارګر ځای ماشین ونیولو، زمکه، شتمني او د تولید وسائل د لازیات محدودو شتمنو لاس ته ورغلل، د ټولني اکثریت له زمکې او د تولید له نورو وسائلو محروم او دې ته اړ شول چې د خپلو ورځنیو اړتیاوو د تأمین لپاره د زمکه والو په زمکې او د شتمنو په فابریکې کې د کارګر او بزګر په توګه کار وکړي، د دوی او د دوی د کار اقتصادي ارزښت ورو ورو لږ شي، خبره دې ځای ته ورسېږي چې د ټولني تر نوي سلني زیات وګړي له تولیدي وسائلو او اقتصادي استقلال محروم شي، ژوند ئې د بل په زمکې، فابریکې، شرکت او دفتر پوري وتړل شي، څه چې د خپلو خولو او تناکو په بدل کې ترلاسه کوي لږ برخه ئې ده ته په لاس ورشي او ډېره ئې د شتمن په جیب کې ولوېږي، د پانګوال نظام دغه حالت او بهیر ښځې دې ته اړې کړې چې داسي شاقه

(c) ketabton.com: The Digital Library
کارونو ته غاړه کښېږدي چي د دوی له فطري جوړښت سره مطابقت نه لري، په کانونو، د درنو وسائلو تولید فابریکو او که ښایسته وي نو د پردي په دفتر کي د سکرتر په توگه کار وکړي، خپل ماشوم او روزنه ئې وړوکتون ته محول کړي، او کار ئې هغه ځای ته ورسېږي چي د اولاد له زېږولو او روزلو لاس واخلي، حتی د خپل عرض او ناموس په پلورلو لاس پوري کړي، دا په داسي حال کي چي په ټول عالم کي تر هر څه ستر کار د ماشوم پیدایښت او د هغه روزنه ده، په ټول کائنات کي داسي کار نشته چي د ماشوم له پیدایښت او روزني سره برابري وکړی شي، د ماشوم روزنه یوازي دا نه ده چي ټی ورکړی شي، ومینځل شي او جامې ئې وربدلي شي، دا کارونه په وړوکتون کي هم کېدی شي، خو هغه څه چي ماشوم ئې له خپلي مور او د هغې په غېږ کي او د هغې له میني، عاطفې او پېرزویني ډك چلن زده کوي له بلي لاري او له بل چا ئې نشي زده کولی، په حقیقت کي د ماشوم د شخصیت بنسټ د مور په غېږ کي ایښودل کېږي، دا مور ده چي د ماشوم د راتلونکي شخصیت څرنگوالی ټاکي، د تاریخ لوړ او اتل شخصیتونه د اتلو میندو په غېږ کي روزل شوي، د تاریخ ستر ستر جنایتکاران یا هغه وو چي بدي میندي ئې په برخه شوې یا د مهرباني مور له غېږ محروم شوي، عجیبه ده چي غربیان مور له دې ستري دندي محروموي او د کار لپاره ئې کانونو ته لېږي، او دې ته د میندو د حقوقو نوم ورکوي!!! پیغمبر صلی الله علیه و سلم فرمایي: هغه کس به په جنت کي د ده خوا ته وي، (دومره ورنږدې لکه د لاس دوه منځنۍ گوتي)، چي یو ماشوم وروزي یا یو یتیم وپالي، اسلام د یوه انسان هدایت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library
دومره ارزښت ورکوي چي وايي: د چا په لاس چي يو انسان هدايت شي دا تر ټولو هغو شيانو ورته غوره دئ چي د لمر وړانگي پرې لگېږي، حتى که دا ټوله زمکه د سرو زرو وي، د ده په واك کي وي او د الله تعالى په لار کي ئې وقف کړي تر دې د يوه انسان لارښوونه او هدايت ده ته زيات ثواب ورپه برخه کوي، له دې لارښوونو معلومېږي چي اسلام د يوه ماشوم روزني او د يوه انسان هدايت ته څومره ارزښت ورکړی.

په غرب کي تر انسان ثروت او دولت ته ارزښت ورکړی شوی، انسان او کرامت ئې د شتمنو د گټو قرباني شوی، نن د غربي هېوادو نوي سلنه شتمني د لس سلني شتمنو په واك کي دي، د امريکا ټولي خبري او تصويري رسنۍ د شپږو لويو شرکتونو په لاس کي دي، څوك چي په غرب کي د سياسي او اقتصادي آزادۍ او عدالت خبره کوي يا ډېر ناپوه دئ او د آزادۍ او عدالت په حقيقي معنى نه پوهېږي او د غربي ټولني له اجتماعي، اقتصادي او سياسي جوړښت او تاريخ خبر نه دي، او يا سرسپارلي اجير مبلغين دي چي د استخباراتي شبکو له لوري گمارل شوي، دوی دې ته آزادي وايي چي ښځه د نارينه په ملعبې بدله شوې، يوه نانځکه ترې جوړه شوې، د څو ډالرو په بدل کي دې ته چمتو کېږي چي خپل عرض وپلوري، د بل د خوشحالولو لپاره نڅا وکړي، سندري ووايي، د تجارتي موخو لپاره د دې له ښايست کار واخيستل شي، د خلکو جلبولو لپاره سينگار وکړي، حتى بربنډې شي!!!

د دې په مقابل کي اسلام ښځو ته هغه مقام او منزلت ورکړی چي د نړۍ په هيڅ دين او نظام کي ئې بېلگه نشو موندلی، د ژوند په ټولو برخو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې د نارينه په پرتله ښځو ته امتيازات ورکړي، له اقتصادي پلوه ئې ښځو ته دا امتياز ورکړی چي د پلار په کورنۍ کي پلار او د مېړه په کورنۍ کي مېړه د ښځي د اقتصادي اړتياوو متکفل دي، او دا په داسي حال کي چي هغه اقتصادي استقلال لري، د عوائدو ټول هغه مدارك ورته منل شوي چي نارينه ته منل شوي، له پلار، مېړه او نورو خپلوانو ميراث ترلاسه کوي او له مېړه مهر، کولی شي خپله شتمني په خپله خوښه په کار واچوي. دې ته نه اړ کېږي چي د اولاد له روزني لاس واخلي او ماشوم وړوکتون ته وسپاري. راشئ د قرآن دې آيت ته ځير شو او وګورو چي د دغو مطالبو په اړه څه وايي:

مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ كَيۡ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيۡنَ ٱلۡأَغۡنِيَآءِ مِنكُمۡۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٧ الحشر:٧

د دغو کليو د استوګنو کوم څه چي الله پر خپل پيغمبر لوروليي نو دا د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او د مسافرانو دي، دا د دې لپاره چي هغه ستاسو د غنيانو تر منځ لاس په لاس نه شي، پيغمبر چي تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ او له څه ئې چي منع کړئ له هغه ډډه وکړئ او له الله ووېرېږئ، يقيناً چي الله شديد العقاب دئ.

دلته د اسلام د اقتصادي نظام يو بنسټيز او اساسي اصل زموږ مخي ته ځلېږي، وايي: فيء ځکه غنيمت نه ګڼل کېږي او بايد په حاجتمنو ووېشل

(c) ketabton.com: The Digital Library
شي چي شتمني د غنيانو تر منځ لاس په لاس نشي، يعني مال او دولت د څو شتمنو او غنيانو په لاس کې محصور او محدود نشي بلکې په پراخه پیمانه وویشل شي او د څو کسانو په لاس کې د شتمنیو له تمرکز مخنیوی وشي، دا اصل که له یوې خوا مور ته لارښوونه کوي چي د غنیمت او فیء د ویش قوانین د دې لپاره وضع شوي چي د مفتوحه سيمو زمکې، مالونه، وسائل او نوري شتمنۍ یوازي د هغو لاس ته ورنشي چي وسله لري او په فتوحاتو کې ئې برخه اخیستې، بلکې د حاجتمنو اړتیاوو ته په پام سره په ضروري مواردو کې وکارول شي، له بلې خوا مور ته وايي چي د اغنیاوو په لاس کې د شتمنيو تمرکز هغه څه دي چي الله تعالی ئې نه خوښوي او دا باید د اسلامي نظام د مهمو اهدافو په ضمن کې وي چي د شتمنيو ویش عادلانه وي او د اغنیاوو په واك کې د هغوی له تمرکز مخنیوی وشي، داسي نه لکه اوسنی غربي پانگوال نظام چي په هغه کې غني ورځ تر بلې لازیات غني کېږي او فقیر لازیات فقیر کېږي، دا نن په امریکا کې پانگوال نظام په دې منتج شوی چي د متحده ایالاتو نوي سلنه شتمني د څو شتمنو په واك کې ده، که پر امریکا باندي داسي قهرجن او ځواکمن پولیسي نظام حاکم نه وی چي هر پاڅون ئې په شدت او قهر سره ځپلی نو ډېر پخوا به دا نظام ړنگ شوی وو، دا نږدې دوهم کال دئ چي په امریکا کې د دې نظام په ضد تر دې نامه لاندي پاڅون پیل شوی چي (وال سټریټ محاصره کړئ)، وال سټریټ د امریکایي پانگوال نظام د ملا تیر دئ، که امریکا د وسلو د خرڅلاو بازارونه له لاسه ورکړي، که ډالر په جهاني تجارتي تبادلاتو کې خپل ځای نورو اسعارو ته پرېږدي او اوسنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتبار ئې له منځه ولاړ شي، که امریکا په خپلو مستعمراتو کې خپل مارکیټونه له لاسه ورکړي، نو امریکا به نه یوازې خپل اوسنی حالت د لنډې مودې لپاره ونشي ساتلی بلکې ډېر ژر به د شوروي اتحاد په برخلیك اخته شي.

اسلام دې هدف ته د رسېدو لپاره چې شتمني د اغنیاوو تر منځ لاس په لاس نه شي، ځانګړې جامع او اغېزمنه تګلاره غوره کړې، سود او احتکار ئې حرام کړي چې دا دواړه د پانګوال نظام دوه اساسي بنسټونه دي، د میراث داسي قانون ئې وضع کړی چې د هر شتمن له وفات وروسته د هغه شتمني د ډېرو تر منځ ووېشل شي، زکات ئې فرض کړی، صدقات او کفارې ئې لازم کړې، اغنیاوو ته وایي: ستاسو په مالونو کې د مسکینانو یو ثابت حق دئ چې باید اداء ئې کړئ، حکومت په دې ګماري چې د نېستمنو متکفل وي او د دولت له بیت المال د دوی حاجتونه رفع کړي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**